# پښتون پسرلی

د پښتون ژغورنې غورځنګ د لومړۍ کلیزې په ویاړ


لیکوال

**بېلابېل**


۱۳۹[illegible]ل/ ۲۰۱۹ز

Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتون پسرلی

لیکوال: **بېلابېل**

ډیزاین: **سپین سهار**


خپرندوی: **لید څېړنیز مرکز**

چاپکال: **۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۹ز**

**ددې کتاب د چاپي او آنلاین خپرولو ټولې رښتې له خپرندوی سره خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ډالۍ

**د پښتون ژغورنې غورځنګ نوميالي مبارز عبدالله ننګيال بېټني ته د لوی افغانستان په ګډ ارمان.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


د پیل خبرې ........................................................................... ۵

مسید ژغورنې غورځنګ تر پښتون ژغورنې غورځنګ او پښتون ژغورنې پرلت پورې! ........................................................................... ۷

پښتون ژغورنه، داعیې او سیاستونه ........................................................................... ۲۱

له MTM نه د PTM پر لور سفر زه او قاید تحریک منظور "پشتین" ................ ۳۸

د پښتون ژغورنې غورځنګ د ایین په لومه کې ........................................................................... ۵۰

پي ټي ایم؛ پښتونخوا کې منځلاری سیاست ........................................................................... ۵٤

پښتون تحفظ مومنټ (پښتون پرلت) ........................................................................... ۵۹

قامي تحریکونه او پښتون پرلت ........................................................................... ٦٦

په بني ګل کې ژوند دی ........................................................................... ۷۲

د تحریکونو فطرت او پښتون ژغورنه غورځنګ ........................................................................... ۷٦

پي ټي ایم، روایتي ملتپاله ګوندونو ته ګواښ دی، زورور ځواکونو ته او که دواړو ته؟ ........................................................................... ۷۸

پښتانه د ویښېدو په درشل کې ........................................................................... ۸۱

یو سل او پینځویشت کاله وشو چې د ډیورنډ کرښې پښتانه وېشلي دي ............ ۸۵

پښتانه باید څه وکړي؟ ........................................................................... ۸۸

د شهید نقیب الله"مسید" پېښه! ........................................................................... ۹۳

خپل اتلان وپېژنئ/ ایپي فقیر ........................................................................... ۱۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پيل خبرې

کله چې انګرېزان د ګاندي، فخرافغان( باچاخان) د عدم تشدد او قبايلو د پرلپسې وسله والې مبارزې په ترڅ کې له هند څخه وتلو ته اړ شول، په ۱۹۴۷م کال کې هند پر دوو برخو وويشل شو او د پاکستان په نامه نوی مصنوعي هېواد يې رامنځته کړ، له پښتون قوم څخه د کسات اخيستلو په موخه يې له تاريخي لوی افغانستان څخه د ډيورنډ په چاړه جلا شوي پښتانه بې له کومې پوښتنې پدغه مصنوعي هېواد پورې وتړل، پدې سره د پښتون قوم د جزولو يوه نوې لړۍ پيل شوه، د ملک ټولې چارې پنجاب پخپل لاس کې واخيستې، په محتلفو نومونو دملتپالو پښتنو ځورول پيل شول، چا چې د پښتون قوم دحق غوښتنه کوله د غدار په نوم ونومول شول، آن د تکفير په کانو يې وويشتل، پاکستان له پښتنو سره داسې ظلمونه وکړل چې د چنګېز او انګرېز په دور کې يې هم ساری نه درلود، چې ښه مثالونه يې د قيصه خوانۍ،بابړې،ټکر...پېښې يادولی شو، په محتلفو نومونو يې پښتانه وجزول خو تر ټولو ستره لوبه د ۱۱ سپتمبر له پېښې وروسته د پښتنو پرضد پيل شوه، پدې لوبه کې لسګونه زره پښتانه ووژل شول، لسګونه زره بنديان او ځينې ورک شول په مېليونو بې کوره کړل شول، هرهغه چا به چې د ظلم خلاف غږ پورته کړ سبا به د جاسوس په نامه ووژل شو، پښتون د پنجاب پدې لوبه کې مړ هم شو او پړ هم!

دا لړۍ نه يوازې په قبايلي سيمو کې روانه وه بلکې په ښاري سيمو کې هم پښتانه د دوی له شر نه په امن کې نه شول پاتې، چې ښه مثال يې د ۲۰۱۸ م کال د جنوري په ۱۳ مه د کراچۍ په ښار کې د سلګونو پښتنو د قاتل پوليس افسر راوانور لخوا د يو ځوان نقيب الله مسيد په شهادت رسول وو، چې د دغې پېښې له امله د انقلابونو په وطن (وزيرستان) کې يوه ځوان منظوراحمد پشتين

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه ویښ کړل،په خوځښت یې راوستل د پښتون ژغورنې غورځنګ په نامه یې د وحدت په نه شلیدونکي مزي وپیئل، د پښتنو دغه ځوان سالار پر پنجاب غبرګ وکړ چې نور د پښتنو وژل او ځورول بس کړي،له پنجاب یې لار او ګودر ورک کړي، دپښتنو یووالي ته خلک ګوته په غاښ پاتې دي، دغه انقلابي ځوان ښار په ښار او کلي په کلي ګرځي پښتنو ته د خپلو نیکونو میرویس خان او احمدخان تاریخونه بیانوي تر څو پښتانه د ګلخانیت او غلامۍ له دایرې راوباسي، پشتین اوس د ننګ او افغانیت پر لار په میلیونونو پښتانه ځان پسې روان کړیدي، هغه ورځ لیرې نده چې دا له خپل تاریخ او خپلې تاریخي جغرافیې خبر ځوان به د ډیورنډ په چاړه بېل شوي غړي بېرته له خپل اصلي وجود سره یوځای کوي او خپل قوم ته به په لوی او ازاد افغانستان کې د خپلواکۍ او عزت ژوند وربخښي.

ځانګه به نن سبا کې ګل شي
مایې په سر کې سرې غوټۍ لیدلي دینه

په درنښت

د لید څېړنیز مرکز اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسيد ژغورنې غورځنګ تر پښتون ژغورنې غورځنګ او پښتون ژغورنې پرلت پورې!

ليکوال: احمد انقلابي پشتين

پښتو ژباړه: محمدانور زاهد

کابو دوه کاله وړاندې د خيبر پښتونخوا د ستر ښار ديره اسمعيل خان ګومل پوهنتون څخه د مسيد ژغورنې غورځنګ پيل شو. ياد غورځنګ د لومړي ځل لپاره د مسيد قبيلې څو تنو ځوانانو د خپلمنځي مشورو وروسته پيل کړ او د ياد غورځنګ لپاره يې کړنلاره جوړه کړه.

د ياد غورځنګ موخه دا وه چې د تېرو شپاړلسو کالونو راهيسې په وزيرستان کې د وزيرستاني ولس سره د کيدونکي زورزياتی او تشدد د مخنيوي لپاره به هڅې کوي او د ظالم پر وړاندې به خپل سوله ئيزغږ اوچتوي او تر مسؤلو چارواکو به يې رسوي.

دا چې د ياد غورځنګ غړو د وزيرستان د مسيد ټبر سره تړاو درلود نو له دې امله جوړ شوي غورځنګ ته د مسيد ژغورنې غورځنګ(مسيد تحفظ موومنټ) نوم ورکړل شو او مشري يې منظور احمد پشتين ته ورپه غاړه شوه. که په مسيدو کې به د چا سره زياتی کېده د ياد غورځنګ غړو به ورسره غم شريکي کوله، او د شوې ظلم د غندلو سر بېره به يې دمظلومو او زيانمنو کسانو لاس نيوی هم کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د غورځنګ غړي په دې وپوهېدل چې له دیره اسمعیل خان څخه خپل غږ تر مسؤلو چارواکو ښه نه شو رسولی ځکه چې هلته رسنۍ د نشت په شمېر دي او له بلې خوا په سیمه کې ورځ تر بلې حالات ترینګلي کېدل، نو له دې امله دوی د ښه غږ پورته کولو په نیت پلازمېنې اسلام اباد ته د تلو تکل وکړ .

د ذکر شوي موخې د ترلاسه کولو له پاره مسید ځغورنې غورځنګ د ۲۰۱۷م کال د دسمبر په ۲۷ نېټه یوه ناسته راوبلله او پرېکړه یې وکړه چې د ۲۰۱۸ م کال د فبرورۍ په لومړۍ نېټه به پلازمېنې اسلام اباد ته ځو او هلته به اعتراضیه لاریون کوو او تر هغې به پرلت کوو څو مو چې غوښتنې نه وي منل شوي.

د یادې ناستې وروسته په کراچۍ کې د مسید قوم یو تن ځوان نقیب الله مسید لومړۍ اختطاف او پوره لس ورځې وروسته پرته له محکمې شهید کړل شو. کله چې څرګنده شوه چې نقیب الله مسید بې ګناه او پرته د کومې محکمې د پرېکړې په شهادت رسېدلی، نوموړي موضوع ټولنیزې رسنۍ پر سر واخیستې. په لومړیو کې برېښنایي او چاپي رسنۍ غلې پاتې شوې خو د ټولنیزې رسنۍ له پوښښ وروسته برېښنایي او چاپي رسنیو هم موضوع ته پوښښ ورکړ. د شهید نقیب الله مسید لپاره کراچۍ کې د عدالت غوښتنې او غم شریکۍ کېمپ جوړ شو .

په دې شېبو کې مسید ځغورنې غورځنګ خپل منځي اړیکې پیل کړې او په دې یې ټینګار کاوه چې هر ډول کېږي د فبرورۍ د اولې نېټې پرلت به په پلازمېنه اسلام اباد کې تر بریالیتوب رسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظور احمد پشتين د شهيد نقيب الله مسيد له جنازې سره يو ځای تر جنوبي وزيرستانه ولاړ او د جنازې وروسته د نقيب الله مسيد د پلار سره کراچۍ ته ولاړ. کله چې مسيد ژغورنې غورځنګ د ستر لاريون نيولو لپاره تياری پيل کړ، منظور احمد پشتين يې له کراچۍ راوغوښت او د لاريون رهبري يې ورکړه.

لاريونوال د ۲۰۱۸ م کال د مارچ په ۲۶مه نېټه له ديره اسمعيل خان څخه روان شول. همغه ورځ مې ځان تيار کړ، پوره ورځ مې انتظار وکړ، خو دا چې لاريون د لسو بجو پر ځای د ورځې په دوه نيمو بجو حرکت کړی و له دې امله د شپې په تياره کې تر بنو ورسېدل او زما ليدنه په همغه ورځ د لاريون والو سره ونه شوه.

سبا چې د مارچ مياشتې ۲۷مه نېټه کېده، د خپل ملګري شاه بانور چمتو مسيد سره يو ځای بنو ته ورسېدم او د لاريون والو سره يو ځای شوم. د بنو اوسېدونکو چې په کومه مينه د لاريون والو هرکلی وکړ او د دوی ميلمه پالنه يې وکړه ، زما سره يې د منني او ستاينې الفاظ نشته.

د مارچ پر ۲۷مه نېټه مې چې کله د بنو ښار په ميلاد پارک کې د مسيد ژغورنې غورځنګ سره ليدنه تر سره شوه د خوښۍ سا مې واخيسته او دا مې د غورځنګوالوځوانانو سره لومړنۍ ليدنه وه . له دې وړاندې به مې د دوی فعاليتونه يوازې په ټولنيزو رسنيو څارل او د دوی ملاتړی وم.

کله چې له ميلاد پارک څخه د بنو پريس کلب لوري ته وکوچېدو سلګونه د پوهنتونونو او کالجونو ځوانانو په بې ساري ولولو سره لاريون پيل کړ او د ځوانانو هغه احساسات مې تر اوسه د سترګو وړاندې تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت د خلکو مینه لا ښه په ډاګه شوه چې د ډومېل په سیمه کې د فخراعظم وزیر تر مشرۍ لاندې سلګونه کسان د هرکلي له پاره ولاړ دي.

کله چې له میلاد پارک څخه تر پرېس کلب ورسېدو هلته زیات شمېر کسان د هرکلي لپاره ولاړ وو او دمطبوعاتو پر وړاندې یې خپل دریځ روښانه کړ او لاریون وال له دې ځایه مخ پر وړاندې له اجنډا سره سم روان و.

مسید ژغورنې غورځنګ چې کومه اجنډا جوړه وه هغه داسې وه.

لومړنۍ شپه بنو کې، دوهمه شپه کوهاټ او دریمه شپه د خیبرپښتونخوا سر ښار پېښاورکې. هلته په رسېدو سره به د شمالي ولایتونو له پاره نوی مهال وېش جوړیږي .

د اجنډا سره سم دوی باید نن له بنو وتلي وای او شپې ته تر کوهاټ رسیدلی وای. کله چې له بنو څخه ووتو د ورځې دوه بجې وې او په بنو ټاون کې چې کوم خلک هرکلي له پاره راغلي وو زیات شمېر یې بېرته تللي وو ځکه چې دوی ته مو لس بجې ښودلې وې خو هلته شته خلکو زمونږ د ملګرو ښه هر کلی وکړ او د چای بندوبست یې هم کړی وو. له دې ځایه د ماسپښین د لمانځه له ادا کولو وروسته د خپل منزل لوري ته وخوځېدو او وړاندې د ډومېل په سیمه کې د ناظم فداء محمد تر مشرۍ لاندې په سلګونو کسانو تود هرکلی وکړ او زموږ سره یې په پیاده لاریون کې هم برخه واخیسته. له دې وروسته مونږ د کرک لوري ته وخوځېدو ، خو زه د ځینې لاملونو له امله له دوی پاتې شوم ولې اړیکه مې ورسره ساتله. د کرک ولسونوهم د لاریون والو تود هرکلی کړی وو او یاده شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې تر کوهاټ ورسوله. کوهاټ کې هم ډېر شمېر اورکزيو ولسونو د لاريون والو تود هرکلی وکړ او د شپې ډوډۍ او اوسېدو ځايونو انتظام يې هم کړی و.

دوی چې له کوهاټه ووتل زه هم په همغه ورځ وختي دوی پسې شاته روان شوم او په دره ادم خېل کې د دوهم ځل له پاره هغه وخت له دوی سره يو ځای شوم چې د ملي اسمبلۍ غړي قيصر جمال افريدي په مېلمه خونه کې د دوی د پاره د ډوډۍ بندوبست شوی و. د دره ادم خېلو په سلګونو ځوانانو په ادم خېل بازار کې زمونږ سره لاريون وکړ او د هغه ځای خلکو زمونږ ډېر تود هرکلی وکړ .

دريمه شپه لاريون والو بايد تر پېښور رسولي وای، ځکه نو د خپل هدف لوري ته رهي شول . پښاور ته تر داخلېدو وړاندې د قباييلي زده کوونکو اتحاديې د لاريونوالو ځوانانود کاروان لپاره په يوه هوټل کې د چای بندوبست کړی و او له دې وړاندې د پېښور په حلقوي سرک پروت ټول پلازې خوا کې په زرګونو خلک د لاريون هرکلي ته ولاړ وو. د ولاړو خلکو مينه د ستايلو وه، ښکل يې کړو، غېږې يې رانه تاو کړې او لنډه دا چې پرته له مور د مينې بله مينه مې په ژوند نه وه ليدلي. زرګونه نور خلک د لاريون سره په ياد مقام کې يو ځای شول او د حيات آباد دريمې برخې کې د جوړ شوي کېمپ لوري ته و خوځېدو.

له ډېر اوږده پياده مزل وروسته تر هغه کېمپ ورسېدو چې کوم زمونږ لپاره جوړ شوی وو، هلته مې چې د خلکو ګڼه ګونه وليده او د دوی مينه مې وليده داسې مې و انګېرله چې مونږ اصل مجاهدين يو د پښتنود

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساسي حقوقو د تر لاسه کولو له پاره راوتي يو . ټول انتظامات شوي و او په منظم شکل د پروګرام پيل وشو. لويو لويو شخصيتونو ويناوې وکړې د پروګرام په پای ته رسېدو سره د لاريونوالو ځوانانو لپاره يوه هم فکره ملګري په باړه دروازه کې د ډوډۍ تابيا کړې وه.

سبا بيا د حيات اباد د دريمې برخې سيمې ته چېرته چې د راټولېدنې کېمپ جوړ شوی وو، ولاړو. پوره ورځ مو تېره کړه او د شپې په حيات اباد کې يو ملګري بيا هم د ډوډۍ بندوبست کړی وو ، الله پاک دې دوی ته لوی اجرونه ورکړي. د شپې د مشرانو سره مشورې وشوې د شپې ځکه چې پر سبايې له دې ځايه مخکې تلل وو. د جنورۍ ۳۰مه ورځ وه او اول د فبرورۍ باندې اسلام اباد ته رسېدل په کار وو . له دې امله د جنورۍ پر ۳۰مه نېټه سهار وختي د چارسدې اوسيدونکو ته د اسلام اباد اعتراضيه پرلت د بلنې په موخه روان شوو. چارسدې ته پر رسېدو مو د پرېس کلب مخې ته د خپل اعتراض غږ اوچت کړ. د چارسدې اوسيدونکو تود هرکلي زمونږ حوصلې نوره هم لوړې کړې.

دا مو په خيبر پښتونخوا کې وروستنۍ ورځ وه ، له چارسدې ځکه روان شوو تر څو هغه سيمې چې زموږ پيغام نه وو ورته رسيدلی هغوی ته خپل پيغام ورسوو، ځکه نو د مردان لوري ته روان شوو، مردان ته پر رسېدو د مردان ولايتي ناظم په ګډون ډېرو خلکو زمونږ هر کلی وکړ، او مردان ښار په يوه څلور لاري کې مو اعتراض وړاندې کړ چې په نتيجه کې د يوسفزۍ قبيلې د مشرانو جرګې زمونږ سره د ملاتړ اعلان وکړ.

له دې ځايه د صوابۍ ولسوالۍ په لوري وخوځېدو ځکه د يادې سيمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو هم زمونږ انتظار ته سترګې غړولې، هلته پر رسېدو زمونږ د توقع خلاف ډېر شمېر خلک زمونږ هرکلي ته ولاړ وو او زمونږ پیغام یې په ښه شکل واورېده او زمونږ سره یې د یو ځای والي ژمنه وکړه اوس کیسه دلته ختم نه شوه وړاندې په صوابۍ شاه قلعه کې زمونږ له پاره د چای بندوبست شوی و هلته ولاړو چای مو وخوړ او د لاریون په بڼه د ولایتي ناظم په ګډون خلکو زمونږ سره برخه واخیسته او د صوابۍ په یوه څلور لاري کې یې زمونږ تود هر کلی وکړ. دوی زمونږ سره زمونږ غږ بدرګه کړ او د اسلام اباد په پرلت کې یې د ګډون ژمنه هم وکړه .

مونږ د خپلو ملګرو سره یو ځای د ماښام لمانځه د ادا کولو وروسته له صوابۍ څخه اسلام اباد د اسلام اباد پر لور وخوځیدو اسلام اباد کې زمونږ سره د لاریون یوه فعال غړي پروفیسر اخترخان وزیرچې مخکې د قاید اعظم پوهنتون محصل وه د هغه ملګرو زمونږ له پاره د ډوډۍ بندوبست کړی وو، کله چې د اسلام اباد قاید اعظم پوهنتون ته ورسېدو او هلته مو د پوهنتون ددمحصلینو سره لیدنه وشوه هغوی دومره مینه راکړه چې د نه هېرېدو ده . څنګ کې کې محصلینویوه کوټه تیاره کړې وه چې هغې ته یې د جونګړې نوم ورکړی وه ، مونږ ستړي شوي وو جونګړې ته لاړو ، کښېناستو او خبرې مو شروع کړې بل لورته ملګري د ډوډۍ په تیارولو بوخت وو د شپې یوه بجه د ډوډۍ خوړلو وروسته یوې لیلیې ته لاړو ډېر ستړي وو مګر د خوږو ملګرو سره د یو ځای والي وروسته مو ټوله شپه ویښه تېره کړه او یوازې د سهار دوې ګړۍ خوب مو وکړ ، کله چې راویښ شوو له ترنول زنګ راغی چې دلته ستاسو د هر کلي لپاره کېمپ جوړ شوی او ستاسو د راتلو له پاره خلک شیبې شماري. ځانونه مو تیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل لوموړۍ مو د پرېس کلب ليدنه وکړه او ورسته د ترنول لوري ته وخوځېدو هلته په رسېدو مو يو لوی جوړ شوی کېمپ وليده خلکو شاندار هرکلی وکړ. کاروانونه کاروانونه خلک راتلل . د شپې د ترنول غرب لوري ته په يوه کلي کې زمونږ له پاره د ډوډۍ تياری شوی وو مونږ هلته لاړو ډوډۍ مو وخوړه او هلته مو شپه تېره کړه.

چا چې زمونږ له پاره د ډوډۍ تياری کړی وو ډېر خوږ انسان وو او زمونږ ملګرو ته يې ډېر عزت ورکړ مونږ به يې کله هم هېر نه کړو.

سباوختي له سباناري وروسته بېرته د ترنول کېمپ لوري ته راغلو هلته په رسېدو سره زرګونه خلک وو او زموږ يې ښه تود هرکلی وکړ، د ګلونو امېلونه يې غاړې ته راواچول هلته لږ شېبه کېناستو او ويناوې مو واورېدې او د لاريون په بڼه د اسلام اباد لوري ته روان شوو .

د زرګونو په تعداد د خلکو او موټرو يو اوږد کتار جوړ شوی وو ، مونږ د منظور احمد پشتين سره په يو موټر کې څلور کسان ناست وو، په ورو ورو کاروان مخکې تلو .هر کله چې اسلام اباد دخولي دروازې ته ورسېدو ، امنيتي ځواکونو په پلټلو کې راباندې لږ وخت تېر کړ خو د مخکې تګ اجازه يې راکړه .

هلته په رسېدو مو د خلکو لويه راټولېدنه وليده .

لومړنی ورځ پر ويناوو او خبرو تېره شوه دوهمه ورځ پر يوولس بجو بيا ځل پروګرام پيل شو ، ورځ تر بلې جوپې جوپې خلک د پرلت سره يو ځای کيدل ، پروګرام په منظم شکل مخ پر وړاندې روان وو، د فبرورۍ له ۴ مې نېټې وروسته د سياسي ګوندونو د مشرانو راتلل پيل شول چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان تحریک انصاف ګوند مشر عمران خان، د جمعیت علمای اسلام ډلې مشر مولانا فضل الرحمان، د جماعت اسلامي ډلې مشر سراج الحق، د قومي وطن ګوند مشر افتاب شېرپاو، د عوامي نشنل ګوند مشراسفندیار ولي خان ، د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشرمحمودخان اڅکزی، همدا شان د عوامي مسلم لیګ مشر او د بشر حقوقو مشره عاصمه جهانګیر او نورو ویناوې وکړې ، د فاټا پارلمانیان او ژورنالستان ملګري وخت په وخت راتلل، د خپلو احساساتو څرګندونه به یې کوله .

د پښتون ژغورنې غورځنګ د پرلت والو ۵ غوښتنې وې چې د پاکستان د قوانینو سره په ټکر کې نه وې.

۱-د محکمې د پرېکړې پرته د نقیب الله مسید د وژنې ټولو مجرمینو ته د قانون سره سم سزا ورکول.

۲-د وژنو ټولو هغو پېښو ته چې عدالت په کې نه دی مراعات شوی ، ځانګړي قضایي کمیسون جوړېدل.

۳ -په وزیرستان کې د کومې بدې پېښې وروسته د ځایي خلکو نه ځورول او د ګرځبندیز خاتمه.

۴-د عملیاتو وروسته پاکې شوي سیمې چې هلته ولس ورغلی، IED او بارودي غارونه جوړ دي چې د چاودنو له امله یې په سلګونه کسانوته مرګ ژوبله اوښتي ، د هغې سیمې پاکول.

۵-ورک (غایب)کړل شوي خلک دې عدالت ته وړاندې شي، مجرمینو ته دې د قانون مطابق سزا ورکړل شي او بې ګناه کسان د خوشې کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یادو پنځو قانوني غوښتنو باندې د پرلت پر شپږمه ورځ ۲۰۱۸م د فبرورۍ پر٦مه نېټه د پاکستان د لومړي وزیر سره لومړنۍ لیدنه وشوه ، چې لومړي وزیر پنځه واړه غوښتنې ومنلې او ژمنه یې وکړه چې یاد موضوعات به حل کیږي. د ۱۲ غړو څخه جوړه شوې کمېټه چې د لومړي وزیر سره یې لیدنه شوې وه ، د وزیر اعظم پر ژمنه راضي شول او له یادو ۱۲ غړو څخه یو کس منظور احمد پشتین وو چې نوموړي د کمېټې نورو ۱۱ غړو ته وویل چې زه د خپلو نورو ملګرو سره مشوره کووم، بیا به د پرلت د ختمولو اعلان کوو .

کله چې منظور احمد پشتین د خپلو ځوانانو ناسته راوبلله او د وزیراعظم له ناستې یې خبر کړل، او ویې ویل چې لومړي وزیر له ژمنې پرته په عمل کې څه نه دي کړي، ستاسو څه نظر دی؟ ټولو ملګرو او ځوانانو په څرګندو ټکو ځواب ورکړ، تر هغې تلونکي نه یو څو یې چې په لیکلي بڼه زمونږ سره تړون نه وي کړی. ځینې ملګرو خو زیاتوله چې که ته تلل غواړې ته ځه، مونږ له کوره د یوې خبرې د واضح کولو په اړه راوتلي یو چې یا مرګ او یا هم عدل.

منظور احمد پشتین د خپلو ملګرو سره هم نظره شو او باقي یوولس کسیزه کمېټه یې په یاده پرېکړه خبر کړل، چې ځوانان د لیکلي ژمنې پرته تلونکي نه دي. په دې سره مشرانو منظور احمد پشتین مخاطب کړ او ورته یې وویل چې دا کوم مسایل چې تر مسید قوم پورې محدود دي ددې پرېکړه به مونږ مسید مشران کووچې په دې سره مشرانو د فبرورۍ پر ۷مه د شپې پر یوه بجه د پرلت ختمولو اعلان وکړچې له امله یې ځینې خلک ولاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو منظور احمد پشتین د سفرپه جریان کې مونږ ته ویلي وو چې که څوک پر مخ څپېړه هم درکړي هغوی ته غبرگون مه ښيئ ، ځکه زمونږ موخه تشدد نه بلکې عدم تشدد دی. د خپلو حقه حقوقو د غوښتلو له پاره راغلي یو ، چې له دې وروسته د مشرانو سره راغلي خلک ولاړل الله پاک دې ددوی عمرونه اوږده کړي. زمونږ موخه یووالی وو بلکې د چا زړه ازارول نه.

د منظور احمد پشتین سره پاتې شوو ، پر سبا چې کله زمونږ ملگري له خوبه راویښ شول ویې لیدل چې کنټینر هم نشته ، دریغ او د غږ سستم یې هم له ځان سره وړی دی. څرنگه چې منظور احمد پشتین یو د نرم طبعیت درلودونکی ځوان دی هغه موږ ته د صبر کولو هدایت وکړ او زیاته یې کړه چې موږ د ویناوو له پاره نه یو راغلي ځکه نو دریغ ته اړتیا نه لیدل کیږي . مونږ دلته ناست یو او د خپل پیغام رسولو په موخه راغلي یو، پر ځمکه کېنو د غږیزو، چاپي، ټولیزو ...رسنیو له لارې خپل غږ اوچتوو.

په لومړۍ ورځ چې دفبرورۍ ۷مه نېټه وه موږ یو لږ ستونزې لرلې ځکه چې زموږ سره کوم لوازم وو ټول یې یوړل. خو مونږ پر امید وو خپلې هڅې مو پیل کړې، کوچنی غوندې سټېج مو جوړ کړ، څو خیمې مو ودرولې ، او دوباره مو پرلت منظم کړ، پروگرام مو یو ځل بیا پیل کړ، په دې ورځ دوه درې ډلې خلک راغلل او زمونږ سره یو ځای شول ، مونږ له سره هیله من شوو په دې شپه پروگرام ختم شو، د معمول سره سم مو پروگرام د شپې په ۱۲ یا هم یوه بجه پای ته رسېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا د پرلت اتمه ورځ وه ، مونږ دریځ او د غږ سېستمونه ښه کړل ، پر دې ګهیځ د پښتون ژغورنې غورځنګ د پښتون قومي جرګې ۱۲ کسیزې کمېټې د ISPR سره لیدنه وشوه او په خبرو کې پر مختګ وشو او د ژمنې سره سره یې د پوځ د مشر سره د لیدنې کتنې په اړه خبرې وشوې.

په دې ورځ د خلکو یو ځای والی دوه چنده شو ، جوپې جوپې خلک د پرلت سره یو ځای کېدل. په دې شپه پروګرام په ښه شان پای ته ورسېده.

د پرلت په نهمه ورځ کله چې پروګرام پیل شو ، درې لوی لوی کاروانونه راغلل او پرلت یې لا غښتلی کړ .

په یاده ورځ زه د ځینې لاملونو پر وجه خپل کور ته راغلم خو پرله پسې د ملګرو سره په اړیکه کې وم. وخت په وخت مې د پرلت نوي معلومات اخیستل، د شپې پر ۱۲ بجو د معمول سره سم پرلت ختم او د ارام له پاره رحصت شول.

ګهیځ بیا ځوانانو د پرلت د پیل کولو تیاریانې کولې له بله اړخه د د وزیر اعظم مشاور امیرمقام د منظور احمد پشتین او د پښتون جرګې سره اړیکې نیولې ، چې زمونږ سره د لیدنې وخت پیدا کړی چې په دې سره د پښتون ژغورنې جرګې غړو د منظور احمد پشتین په لارښوونه د امیر مقام سره لیدنه تر سره کړه، حکومت په لیکلي بڼه تړون ته راضي شو ، چې په دې سره منظور احمد پشتین د یوې میاشتې له پاره پرلت و ځنډاوه او په واضحو الفاظو سره یې وویل چې که د میاشتې د ننه په یادو غوښتنو عمل ونه شو بل ځل به پرلت کې سلګونه زره کسان برخه اخلي ، او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکار زمونږ روا غوښتنې ونه منلې بیا به زمونږ د ځوانانو او بلوچ ځوانانو تر منځ فرق نه وي او که داسې وشول نو ذمه واري به یې د ریاست پر غاړه وي ، په دې سره د پرلت ګډونوالو د دعایې په ویلو پرلت پای ته ورساوه او تر یوې میاشتې یې و ځنډاوه.

په پښتون لانګ مارچ کې له ډیره اسمعیل خان څخه لاندې کسان شامل وو.

۱ -منظور احمد پشتین

۲ -منظور ماسید

۳ -الله نور ننګیالی وزیر

۴ -پروفیسر اخترخان وزیر

۵ -بلال مسید

٦ -عبدالوحید مسید

۷ -عتیق عالم وزیر

۸ -شوکت عزیز شوکت وزیر

۹ -احمد انقلابي پشتین

۱۰ -خذیف افغان وزیر

۱۱ -حاجي احمد مسید

۱۲ -شاه باز استرانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ -زین مسید

۱۴ -امین شاه

۱۵ -رضوان مسید

۱٦ -چمتو وزیر

۱۷ -عابد مسید

۱۸ -قدرت قبائیلي مسید

۱۹ -رحمت الله مسید

۲۰ -کلیم الله مسید

۲۱-امیر حمزه مسید

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون ژغورنه، داعيې او سياستونه

نجيب "منلی"

که څه هم مشهوره خبره ده چې په سياست کې تل ريښتيا نه ويل کيږي، خو ډېرى وخت ژوولې خبرې، نا مشخصې ويناوې هم ډېرې ګټورې نه وي او له ښکاره وضاحتونو پرته، هم له سياستمدارانو او هم يې له پيروانو، لار ورکيږي.

د افغانستان د استقلال تر اعلان را په دې خوا د ډيورنډ اخوا سيمې په اړه نه د هغې سيمې مخکښو سياستوالو ، نه د افغانستان حکومت او نه د کرښې دواړوو خواوو ته فعالو سياسي ګوندونو او خوزښتونو جوت دريځ نيولی دی.

په افغانستان کې کله کله سياستوال دعوه کوي چې له آمو تر اټکه افغانستان دی خو د جغرافيې او د جغرافيې د اوسېدونکو ترمنځ د ابهام داسې کرښې ساتل کيږي چې بيا هم دعوه يو څه او د دعوې د اثبات او تحقق له پاره سياستونه بل څه وي.

په دې ليکنه کې هڅه کيږي چې پرته له احساساتو د بېلابېلو داعيو او سياستونو يوه لنډه خو واضحه نقشه وړاندې شي او بيا پر ممکنو سياسي اقداماتو خبرې وشي. زما ادعا دا نه ده چې هر هغه څه چې په دې ليکنه کې راځي د ټولو اړخونو د دريځ دقيق انځور دی بلکې هيله مې دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زما د لیکنې د ارزولو، نقد، ردولو، او اصلاح کولو له لارې د دې سیمې د متصور برخلیک په اړه یو نسبتاً واضح تصور رامنځ ته شي.

### ۱ – داعیې

### ۱,۱ – له آمو تر اټکه لوی افغانستان

د لوی افغانستان داعیه هغه څه دي چې دواړو خواوو ته ډېر ملتپال وګړي ورسره، په یو ډول نه یو ډول، علاقه لري. دغه علاقه، پرته له یو څو شعارونو (له آمو تر اټکه یو افغانستان!، لر او بر یو افغان! د ډېورنډ نامنلې کرښه...) په بل ډول نه ده اظهار شوې او پر سیاسي عمق او ټولنیزو ابعادو یې ډېرې لږې خبرې کېږي.

د افغانستان په اصطلاح روشنفکره کړیو کې یو شمېر کسان د «کابل محوره» سیاستونو په چوکاټ کې د افغانستان د اوسنۍ جغرافیې استوګن سیاسي-ټولنیز نظام ته د «مشر ورور» مقام ورکوي او له کرښې اخوا وګړو څخه پرته له قید او شرطه د «مشر ورور» د قیادت او سیادت منلو غوښتنه کوي. خو د دې غوښتنې په مقابل کې بیا د فرضي «کشر ورور» د غوښتنو، اړتیاوو، وجایبو او حقونو په اړه واضح تصویر نه شي وړاندې کولای.

تر کومه ځایه چې زه مالومات لرم په افغانستان کې هېڅ دولتي مقام، سیاسي ګوند یا مخکښ سیاسي شخصیت تر اوسه «له آمو تر اټکه لوی افغانستان» د نظام جوړونې، د ملت د حقونو او وجیبو، د سیاسي-اقتصادي-ټولنیز چوکاټ په اړه داسې څه نه دي ویلي چې عملاً د پلي کولو وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گوتو په شمار ځيني سياسي او مدني فعالان ادعا کوي چې د «لوی افغانستان» د داعيې د تحقق له پاره حتی حاضر دي چې له پاکستان سره په نظامی عملياتو کې هم ښکېل شي خو تر اوسه داسې کوم منسجم او مستند سياسي وړانديز نه دی شوی چې دا نظامي عمليات پر کوم بنسټ، په کومو امکاناتو او د کومو حقوقي مفاهيمو او تگلارو له مخې کېدلای شي.

د افغانستان حکومت، که څه هم په ځينو اعلاميو کې د ډيورنډ کرښه «فرضي» بولي، تر دې دمه نه دی بريالی شوی چې له فرضي کرښې اخوا سيمو سياسي-قانوني دريځ تعريف کړي يا کم له کمه يې يو عمومي تصور وړاندې کړای شي. حتی په دولتي ادبياتو او سياسي ژبه کې هم دا وضاحت نه شته. د ډيورنډ کرښه فرضي بولو خو بيا هم ادعا کوو چې مخالفين پر افغانستان «د پاکستان له خاورې» تعرض کوي، «سرحد» نه منو خو د «بارډر منجمنټ» په اړه موافقې لاسليکولای شو.

»له آمو تر اټکه لوی افغانستان» داعيه د مشخص سياسي-حقوقي ملي او نړۍوال دريځ د نه شتون په شرايطو کې تر اوسه لا يوه شعاري غوښتنه بللای شو چې پر بنسټ يې کومه ريښتنيې، عملي پاليسي نه شي جوړېدلای.

## ۱,۲ – خپلواک پښتونستان

کله چې برتانيا د هند د وېش پر مهال پښتنو ته يوازې د هند او پاکستان تر منځ انتخاب ورکړ نو د ۱۹۴۷ کال د جون په مياشت کې پښتنو په بنو کې يوه لويه جرگه وکړه، د برتانيې له خوا طرح شوی ريفرينډم يې رد کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر ځای یې د خپلواک پښتونستان غوښتنه وکړه .

د بنو په جرگه کې د پښتونستان له پاره نوم او بیرغ جوړ شول خو د پښتونستان د سیاسي او حقوقي ایجاد له پاره عملي گام پورته نه شو .

د خپلواک پښتونستان طرح هم له هماغه پیله همداسې گونگه ده. که چېرې د پښتونستان په نامه یو خپلواک دولت جوړېږي نو حدود به یې کوم وي؟ سیاسي، قومي او جغرافیایي محتوا به یې څه وي؟

دا دولت خو به ظاهراً له موجود افغانستان څخه بېل سیاسي واحد وي. له افغانستان سره اړیکې به پر کوم بنسټ وي او د مصنوعي کرښو په واسطه د یو لوی قوم د وېشل کېدلو ستونزه به څنگه حل کوي؟

د «خپلواک پښتونستان» د طرحې گونگوالي لا تر اوسه د اړوندو سیمو سیاستوال پر دې نه دي قادر کړي چې دا داعیه په واضح ډول تعریف کړي.

په افغانستان کې هم نه شاهي دولت او نه سیاسي گوندونو د خپلواک پښتونستان کوم مشخص تعریف وړاندې کړای شو. حتی د صوبه سرحد او قبایلي سیمو تر منځ د «ازاد پښتونستان» او «محکوم پښتونستان» شعاري نومونه کارېدل خو چا دا جرأت و نه کړ چې په ښکاره ډول ووایي چې د اېف سي آر تر چتر لاندې د پښتونستان ازادي څنگه تعمیلېږي؟ په افغانستان کې تر ۱۹۹۲کال پورې د پښتونستان ورځ (د سنبلې نهمه، د اگست یودېرشمه) لمانځل کېده خو رسماً «د پښتنو او بلوڅو د پیوستون ورځ» تر عنوان لاندې.

د دې طرحې پر اساس د احتمالي مستقل دولت په چوکاټ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلوچستان له پاره حتی ضمني تجویز هم نه و.

### ۱,۳ – په پاکستان کې پښتونستان

د برتانوي هند له وېش وروسته چې پاچاخان او ملګرو يې د پاکستان تر چتر لاندې د پښتونستان موضوع مطرح کړه نو غوښتنه يې په يوه واحده صوبه کې د ټولو پښتنو يو ځای کول او دې صوبې ته د پښتونستان نوم ورکول وو.

عنعنوي ملتپال ګوندونه د پاکستان د آيين (اساسي قانون) په چوکاټ کې د پاکستان په سياسي مبارزو کې خپل نقش لوبوي. دغو ګوندونو که په پاکستان کې د پښتونستان د صوبې غوښتنه هم کړې ده دا يې په څرګند ډول نه دي مشخص کړي چې د دې صوبې حدود به کوم وي او کومې سيمې به په کې شاملې وي.

تر پاچاخان وروسته نورو پښتنو سياستوالو او سياسي ګوندونو هم همدغه لار خپله کړې ده او په کامل وضاحت يې خپل دريځ نه دی څرګند کړی.

له خيبر پښتونخوا سره د فاټا د انضمام ملاتړ هم ضاهراً د همدغې داعيې د تحقق په لار کې يو قدم بلل کېدلای شي.

### ۱,۴ – د پاکستان ځمکنۍ بشپړتيا

د پاکستان حکومت، نړۍ واله ټولنه او د پاکستان په سياسي جغرافيه کې يو شمېر مېشت پښتانه د ډيورنډ کرښه د يو نړۍوال منل شوي سرحد په توګه پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د یو ځانګړي سیاسي لوري پلویان (چې شمېر یې د تاریخ په هېڅ پړاو کې د سلګونو له حده نه دی پورته شوی) ډیورنډ د رسمي پولې په حیث پېژني او ادعا کوي چې د ډیورنډ رسمیت به د موجود افغانستان ګټې خوندي کړي. د دې کسانو ستره اندېښنه دا ده چې که افغانستان بېرته یو کېږي نو د دوی د نسبي قومي اقلیت ونډه لا هم پسې کوچنۍ کېږي. همداراز د لسګونو په حدودو کې پښتانه هم د ډیورنډ د رسمي کېدلو پلوي کوي. د دوي توجیه دا ده چې تر سلو کالو زیات سیاسي بېلښت اوس د کرښې دواړه خوا ولسونه سره د پردي والي تر کچې لېرې کړي دي.

د افغانستان حکومت که څه هم د ډیورنډ کرښه «فرضي» بولي خو د پاکستان له جوړېدو را په دې خوا یې عملاً پر اړوندو سیمو د پاکستان «دی فکتو (De facto) «حاکمیت منلی دی. په قبایلي پښتونخوا کې د ډاکټر نجیب د حکومت تر سقوط پورې افغانستان له یو شمېر سیمه ییزو مشرانو سره اړیکې ساتلې او د کرښې اخوا پښتنو ته یې په سمبولیک ډول ځیني حقونه منلي وو (د محدود شمېر ځوانانو له پاره په افغاني تعلیمي بنسټونو کې د زده کړې حق او یو کم شمېر قبایلي پښتنو ته په افغانستان کې د «قبایلو کارت» په استناد له یو لړ محدودیتونو سره د اوسېدلو حق) خو نه یې په نړۍوالو فورومونو کې د هغې سیمې د خلکو د حقونو په دفاع کې تر یو شعاري «په اصولو کې ملاتړ» تر حده پورته کوم اقدام دی کړی دی او نه یې دلته د خپلو «بېلو شوو وطنوالو» له پاره کوم قانوني چوکاټ را منځ ته کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱,۵ – د پښتونستان پر سر د معاوضې معامله

د افغانستان د اوسنی جغرافيې يو شمېر اوسېدونکي د کرښې پر اخوا سيمو د افغانستان د مالکيت ادعا سمه بولي خو وړانديز کوي چې د ډيورنډ د کرښې پر منلو دې له پاکستان سره معامله وشي، کرښه دې په رسميت وپېژندل شي او په بدل کې دې پاکستان افغانستان ته د يو ترانزيتي دهلېز په کچه يوه ټوټه ځمکه ورکړي چې افغانستان له سمندر سره ونښلول شي. د دې طرحې پلويان د يو ډول «وهمي سياسي خيال» ښکار شوي دي. دوی داسې انګېري چې ګواکې پاکستان به افغانستان ته د ډيورنډ د منلو په مقابل کې امتياز ورکولو ته غاړه کښېږدي او غواړي چې له دغه خيالي امتياز څخه ګټه واخلي. خو پر دې نه پوهېږي چې پاکستان به د کوم مجبوريت پر اساس د دوي دغه سخاوتمندانه وړانديز ته حتی د يو ممکن وړانديز په سترګه هم وګوري.

## ۲ – د داعيو ارزونه

عملاً د ډيورنډ د کرښې سوېلي خوا ته پراته ولسونه د پاکستان د حکومت تر مستقيم واک لاندې ژوند کوي او د ټولنيز ژوند د عادي اړتياوو د پوره کولو له پاره (د هويت تثبيت ، ټولنيز اړيکي، تعليم، روغتيا، د تګ راتګ اسانتياوې، له نړۍ سره اړيکې، ...) يوازې او يوازې د پاکستان د دولتي چوکاټ دننه مراجعو ته مخ اړولای شي.

د افغانستان حکومت په تېرو دريو لسيزو کې حتی هغه سمبوليک وجايب چې د قبايلو له پاره يې پر خپله غاړه اخيستي وو په مناسبه توګه نه دي عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې شرايطو کې د پښتنو تر منځ د بېلتون د کرښو د راښکلو او ژورولو په پار د پاکستان نظامي-استخباراتي دستگاه په پوره ځواک کار کوي او په افغانستان کې هم بهرني استخباراتي سازمانونه د بېلتون غږ په پوره ځواک بدرگه کوي. د کرښې دواړو خواوو ته ځوان، احساساتي افکار په اسانه د دغو تبليغاتو ښکار کېږي.

پورتنۍ پينځه طرحې او د پښتنو د برخليک ټاکلو له پاره چې نورې کومې طرحې وړاندې شوې دی، يوه هم کافي وضاحت نه لري او د سيمې او خلکو له پاره کومه عملي تگلاره نه په گوته کوي. د دغو طرحو پر بنسټ جوړ سياستونه په هر ډگر کې له ناکامۍ سره مخ دي.

د قبايلي سيمو ناجوت حقوقي حالت د دې باعث شو (او لا کېږي) چې له هر حقوقي چوکاټ بهر د دې سيمې له وگړو سره د زور زياتي او تاوترخوالي سياستونه پلي شي.

### ۳ – پښتون ژغورنه، د يوې نوې سياسي طرحې پيلامه

د پښتون ژغورنې غورځنگ په خپل ډېر لنډ، څو مياشتيني تاريخ کې د سياسي پوخوالي داسې بېلگې د نړې مخې ته کښېښودې چې، په زغرده ويلای شو، د نړۍ د حق غوښتونکو نهضتونو او خوزښتنو په تاريخ کې يې سارى نه دی ليدل شوی او د نړۍ د حق غوښتونکو مبارزو له پاره لارښود مثال دی. دا جالبه خبره ده چې د شلمې پېړۍ حق غوښتونکي بريالي نهضتونه (لکه په امريکا کې د لوترکينگ په مشرۍ د تورپوستو اقليتونو مبارزه يا د نلسن ماندېلا په مشرۍ د جنوبي افريقا د تورانو مبارزه) د عدم تشدد پر سياسي ماډل د بريا تر حده پر مخ ولاړل او د يويشتمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ لومړۍ هغه غورځنګ چې د بریا تمه یې کېدای شي د پاچا خان پر ټاټوبي د پاچا خان پر پله قدم پورته کوي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ ځوان مشرتابه په ښکاره له خپل تاریخه درس اخیستی دی او ورو ورو له پخوانیو ناکامو سیاستونو څخه فاصله اخلي خو د دې غورځنګ یو شمېر احساساتي مشران او کشران لاهم د معقولو سیاستونو د منلو پر ځای د احساساتي څرګندونو ښکار کېږي.

زما په باور د پښتون ژغورنې غورځنګ د بریالیتوب له پاره لازمه ده چې لر او بر افغانان سره په ګډه کار وکړي او خپله مبارزه پر لاندې څو اصلونو باندې بنا کړي:

## ۳,۱ – عدم تشدد

د عدم تشدد نظریه باید په هر حال کې، په هر بیه چې وي، د دې نهضت تهدابي نظریه پاتې شي. د یویشتمې پېړۍ د دلومړیو دوو لسیزو تاریخ د نړۍ په سطح دا ثابته کړه چې هېڅ داعیه، که هرڅومره مشروع هم وي او هرڅومره د تشدد ځواک هم ولري، د تشدد له لارې نه شي بریالۍ کېدای. په افغانستان کې د تېرو شلو کلونو جګړه د دې حقیقت ښه بېلګه ده. تر شل زرو تنو کم افراطیان په دې و توانېدل چې د نړۍ تر ټولو ستر قوت چې تر څنګه یې د لومړۍ درجې په لسګونو نور نظامي ځواکونه هم ولاړ وو، و ننګوي او لا لګیا دي ننګوي یې. شاوخوا پنځوس هېوادونه چې هر کال په سلګونو بلیونو ډالر د تشدد پر وسایلو لګوي، په شلو کالو کې د دې جوګه نه شول چې د زور د اعمال له لارې پر یو څو خورو ورو ډلو برلاسي شي. همدا راز، که د جګړې صحنه له دې بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري و ارزوو، سره له دې چې په سلګونو زره انسانان ووژل شول خو افراطي، متشددو ډلو د نړۍ په هېڅ ګوټ کې، د يادولو وړ خو څه چې، د محاسبې وړ بريا هم نه ده تر لاسه کړې.

برعکس، د پښتون ژغورنې غورځنګ په څو مياشتو کې په دې برياليی شو چې د نېږدې دوه سوه مليونو وګړو پر ژوند او راتلونکې مستقيم اثر وښندي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ د ځواک دغه مهم عنصر د پاکستان د حکومت له سترګو هم پټ نه دی پاتې شوی او په هره ممکنه وسيله زيار باسي چې دا غورځنګ د تشدد خوا ته و هڅوي.

تشدد ته مخ کول به د پښتون ژغورنې د غورځنګ تلپاتې ناکامي وي.

**۳,۲ – پارلماني سياستونه**

د پاکستان تر واک لاندې سيمو کې مېشت پښتانه نېغ په نېغه د پاکستان د حکومت له سياسي او اقتصادي پرېکړو څخه متاثر کېږي. دا سياستونه په فدرالي او ايالتي پارلمانونو کې طرح کېږي او تصويب کېږي. دا به د نه منلو خبره وي چې پښتانه دې د خپل ورځني ژوند په چارو کې له تصميم نيوونکو مراجعو څخه غايب وي نو ځکه خو لازمه ده چې پښتانه په خپل ټول ځواک سره د پاکستان په انتخاباتي مبارزو کې ونډه واخلي، د انتخاباتو د ګټلو او پر پرېکړو د اغيز ښندلو هڅه وکړي.

د پاکستان په سياسي ګوندونو کې څو ګوندونه داسې دي چې د پښتون ژغورنې غورځنګ خواخوږي دي او د غورځنګ له خواخوږۍ برخمن دي، په کار ده چې په هر ځای کې چې ممکنه وي، د دې ګوندونو ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرتابه دا پرېکړه ډېره پر ځای ده چې دا غورځنګ د ټولو پښتنو د ارادې څرګندوونکی غورځنګ دی او په همدې علت په کار نه ده چې مستقیماً په پارلماني مبارزو کې ښکېل شي. څو په مقابل کې، د پښتون ژغورنې غورځنګ هر غړی حق لري (او په ځینو ځایونو کې شاید دا یوه وجیبه هم وبلل شي) چې یا د یو سیاسي ګوند د استازي په توګه او یا په خپل شخصي هویت په انتخاباتو کې کې ونډه واخلي، اسمبلیو ته ورننوځي او له هغه ځایه د خپلو خلکو د حق غوښتنې غږ پورته کړي.

په افغانستان کې هم باید د پښتون ژغورنې غورځنګ ملاتړي ګوندونه، ډلې او افراد، د «لر او بر یو افغان» د شعار د تحقق له پاره پر حکومت او پارلمان فشار راوړي چې د یو روښانه، معقول او واقعبین سیاست په چوکاټ کې د هیواد په سیاست جوړولو کې د کوزو پښتنو ګټې په نظر کې ونیسي او د ګډ کور په سیاستونو کې د هغوی ونډه تامین کړي.

## ۳,۳ – د مدني او بشري حقونو غوښتل او اخیستل

د پښتون ژغورنې غورځنګ ته په کار ده چې د خپلې مبارزې د بنسټ ټکی په هر قدم کې په پام کې ونیسي. دا غورځنګ له پښتنو سره د ظلم او زیاتي پر وړاندې د عدالت غوښتنې غږ دی.

ناقانونه نیونې، بې رحمه وژنې، د کلیو او کورونو بمبارۍ، دهشتګردي، نظامي خپلسرۍ او دې ته ورته کړنې له پښتنو سره او په عموم کې د پاکستان د اوسنۍ جغرافیې له شمالي سیمو سره د ظلم او زیاتي یوازینۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نخښې نه دي. په پاکستان کې د بشري پرمختیا شاخص (Human Development Index) که له نېږدې وکتل شي نو په ښکاره مالومېږي چې د بشري تمدن له کاروانه وروسته ساتل کېدل هغه ستر ظلم دی چې د پاکستان حکومت له پښتنو او بلوڅو سره کړی دی چې په هېڅ ډول د منلو او بخښلو نه دی.

پښتانه او بلوڅان او په خاص ډول د قبایلي سیمو پښتانه تعلیم او روغتیایي اسانتیاوو ته د لاسرسي په برخه کې د نړۍ تر ټولو وروسته پاتې سیمو کې شمېرل کېدای شي (د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ارقامو له مخې نایجریا او مرکزي افریقا هغه دوه هېوادونه دي چې د بشري پرمختیا شاخص یې د ۰,۳۵۰ شاوخوا دی او د نړۍ تر ټولو «نا پرمختللي» هیوادونه دي خو د پښتنو قبایلي سیمې بیا تر هغو هم ډېرې وروسته پاتې دي (۰,۲۷۵).

د تعلیم په برخه کې، د جنوبي وزیرستان په سلو کې یوازې څلور ښځې لیکل او لوستل کولای شي. که د پیر روښان د مبارزې تاریخ ته وګورو چې ښځو په کې د دیني تعلیم تر څنګ د خیرالبیان د لوستلو حلقې درلودې، په زغرده ویلای شو چې په وزیرستان کې د تعلیم وضعیت د پینځه سوه کاله پخوا په نسبت که بتر شوی نه وي، ښه شوی هم نه دی. تعلیم او صحت ته لاسرسی هغه دوه غوښتنې دي چې د پښتون ژغورنې غورځنګ یې باید د خپلې مبارزې د سر په ټکو کې حساب کړي.

کله چې د حقونو بحث مطرح کېږي نو د سیاسي او مدني حقونو تر څنګ د اقتصادي حقونو بحث هم مطرح دی. د پشتون ژغورنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځنګ نه شي کولای چې خپله تاریخ جوړوونکې مبارزه یوازې سیاسي حقونو ته محدوده کړي .

د پښتون ژغورنې غورځنګ باید په خپلو اهدافو کې د پښتنو د بشري او مدني حقونو تر څنګ د پښتنو د اقتصادي حقونو بحث ته په لومړیتوب قایل شي. دا بحث یوازې پر دې شعار نه شو محدودولای چې پښتانه باید پر خپله خاوره د شته اقتصادي سرچینو واک ولري. تر دې ور اخوا، په سلو کالو کې د قبایلي سیمو ضایع شوي حقونه هم جبرانېدل غواړي.

د کرښې دې خواته ولسونه او د افغانستان حکومت هم د پښتني قبایلو د بشري پرمختیا په برخه کې د پام وړ مسوولیتونه لري. د پښتون ژغورنې غورځنګ برني ملاتړي باید د کرښې په اوږدو کې د بشري پرمختیا او اقتصادي وضعیت د ښه کېدو له پاره د افغانستان حکومت دې ته اړ کړي چې لازم سیاستونه خپل کړي. د افغانستان پارلمان هم په دې برخه کې یولړ مسوولیتونه لري او د روانو ټاکنو په بهیر کې باید کرښې ته د څېرمه ولسونو استازي دې موضوع ته پوره ژمنتیا ولري. د پښتون ژغورنې غورځنګ برني ملاتړي باید په روان پارلماني کامپاین کې دا ټکی له کاندیدانو څخه د خپل ملاتړ له پاره د یو اساسي شرط په توګه وړاندي کړي.

## ۳،۴ – رسنیز سیاستونه

په نولسمه پېړۍ کې د اروپا روڼ اندو د افغانستان د قبایلو په اړه دومره مالومات درلودل چې کارل مارکس هم په خپلو لیکنو کې پر دې سیمه بحث کړی دی. له بده مرغه، سره له دې چې په وروستیو څلورو لسیزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دا سیمه د نړۍ د برخلیک ټاکونکي جنګ تود میدان پاتې شوی خو لا تراوسه د نړۍ عامه افکار د دې سیمې په اړه هغه لومړني مالومات هم نه لري. په دې برخه کې لومړی مسوولیت هغو دولتي کړیو ته راجع دی چې د بېلابېلو اغراضو له پاره یې دا سیمه او د دې سیمې حالات له عامه انظارو پټ ساتلي دي خو یوه بله برخه مسوولیت په همدې سیمه کې د مېشتو هغو روشنفکرانو پر غاړه دی چې د حاکم تعلیمي-فرهنګي ناورین سره سره یې د زده کړو مجال موندلی دی.

د پښتون ژغورنې غورځنګ باید له نړیوالو رسنیو سره د اړیکو جوړولو چاره ډېره جدي ونیسي او ورته کار ووایي.

## ۳,۵ – نړۍوال سیاسي بنسټونه او فورومونه

د پښتون ژغورنې غورځنګ هغه وخت کولای شي د نسبي بریا تمه ولري چې په نړۍواله کچه خپلې داعیې مطرح کړای شي. د ملګرو ملتونو د سازمان بېلابېلې ایجنسیانې باید د دې سیمې او د دې خلکو حالاتو ته متوجه شي. دا کار هله شونی دی چې د پښتون ژغورنې غورځنګ په بېلابېلو برخو کې (له بشري حقونو نیولې تر تعلیم، روغتیا، چاپېریال ساتنې، بې ځایه شوو او کډوالو، او دې ته ورته په لسګونو نورو) د خپلو خلکو ستونزې د نړۍوالو سیاسي بنسټونو (ملګرو ملتونو، اروپایي اتحادیې، نورو نړۍوالو سازمانونو، مدني فعالانو او نورو) پر وړاندې مطرح کړي.

## ۳,٦ – کرښې او سرحدونه

ډېری احساساتي ځوانان (چې اکثریت یې د افغانستان له اوسنۍ جغرافیې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره تړاو لري او یو شمېر یې له کرښې اخوا بېلابېلو سیاسي جریانونو سره تړلي دي) د افغانیت او پاکستانیت بې مانا بحثونو ته لمن وهي او یا پر کرښو او سرحدونو د معاملو خبرې کوي. دا مسایل اوس او په نېږدې راتلونکې کې د پښتون ژغورنې غورځنګ په سیاسي اجنډا کې ځای نه لري. تر ډېورنډ ډېر پخوا، کله چې احمدشاهي امپراتوري د بې کفایته او خودغرضه مشرانو د خپلمنځي اختلافاتو قرباني شوه، د پښتنو پر سیمه کرښې ایستل شوې دي. تر هغه د مخه چې د پښتنو ټاټوبی د دوو سترو امپراتوریو (د ایران صفویانو او د هند مغولانو) تر منځ وېشل شوی و دې ته ورته کرښې موجودې وې. دې کرښو نه پخوا سره پښتانه بېل کړي دي او نه یې نن سره بېلوي. د خوشال دا خبره یو نه بدلېدونکی واقعیت دی، پخوا هم د تطبیق وړ و او نن هم دی چې «درست پښتون له کندهاره تر اټکه، سره یو د ننګ په کار». پاتې شوه د دولتونو او په دولتونو کې د ایالتونو تر منځ د کرښو خبره، هغه زموږ د نن ورځې د مبارزو موضوع نه شي کېدای.

د پښتنو خپله سیاسي جغرافیه هغه وخت د نوو نړۍوالو بشري حقونو پر بنسټ تعریفېدلای شي چې د دې سیمې مېشت ولسونه، چې په هر قوم او ټبر پورې تړلي وي، وکړای شي په خپلواک ډول، د خپلې رېښتینې پرېکړې پر بنسټ، د نړۍ په جغرافیه کې خپل ځای ځایګوټی و ټاکي. نن (د پښتون ژغورنې غورځنګ په شمول) هېڅ داسې سیاسي خوزښت، دولتي جوړښت یا د ملي ارادې د اظهار امکان نه شته چې د پښتنو د برخلیک په اړه وروستۍ وینا وکړي.

- د افغانستان حکومت او پارلمان، که څه هم په یو تعبیر د ولسونو د رایو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر بنسټ ټاکل شوی خو، د جنګ په شرایطو کې، د بې شمېره درغليو په شتون کې، د لسګونو بهرنيو استخباراتي سازمانونو په حضور کې هېڅکله هم دا ادعا نه شي کولای چې د دې سيمې د وګړو ريښتيني استازولي کوي. په دې شرايطو کې نه د افغانستان حکومت، نه د افغانستان پارلمان او حتی نه د موجود افغاني جغرافيې دننه ريفرېنډم نه شي کولای د ډيورنډ کرښې په اړه هغه ابتدايي خبره هم وکړي، څه پاتې شو دې ته چې په دې اړه فيصله وکړي. بيا که کوم لېونی پيدا شي او داسې فيصله وهم کړي، د ډيورنډ تر لومړي سند زيات قانوني ارزښت به و نه لري او په هېڅ ډول د ولسونو له پاره الزامي بڼه نه شي غوره کولای.

- د پاکستان حکومت او پارلمان، که دا وهم منو چې د هغې جغرافيې د ولسونو د رايو پر بنسټ جوړېږي، په هېڅ صورت د پښتنو او بلوڅو استازي نه شي بلل کېدای او هر تصميم چې نيسي، هره پرېکړه چې کوي، د پاکستان د قوانينو په چوکاټ کې به يې د حکومتولۍ د ضرورتونو پر بنسټ کوي خو دا پرېکړه به هېڅکله د دې سيمې د ولسونو پرېکړه نه وي او ولسونو ته هېڅ ډول الزامي بڼه نه شي غوره کولای.

- په افغانستان او پاکستان کې سياسي احزاب او ټولنيز خوزښتونه يوازې د خپلو غړو او کارکوونکو استازولي کوي. د دولتونو د حکومتولۍ په چوکاټ کې به په مستقيم يا غير مستقيم ډول قانونيت لري، شايد په ځينو حالاتو کې يې مشروعيت هم و منل شي، خو دا ګوندونه، جوړښتونه او خوزښتونه د شپېته مليونه انسانانو د برخليک په ټاکلو کې هېڅ صلاحيت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله مو چې دا ومنله چې موجود سیاسي چوکاټونو د دې ولسونو د برخلیک په اړه، د پرېکړې خو څه، د خبرو حق هم نه لري نوبیا پر دې موضوعاتو د وخت ضایع کول د عقل کار نه شو بللای. د پښتون ژغورنې غورځنګ، د لر او بر افغانانو ملي مدني سازمانونه باید دې ته کار وکړي چې د خپلو وګړو د سیاسي، مدني، ټولنیز، اقتصادي، تعلیمي، روغتیایي او انساني حقونه تر لاسه کړي، په سیمه کې پراته وګړي دومره وړتیا حاصله کړې چې د سبا ډوډۍ ته نه وي حیران، د نړۍ حالات په خپله و ارزولای شي او بیا په یو پراخ، سراسري، ازاد، له هر ډول وېرې او ترهې پرته، پر نړۍوالو معیارونوبرابر، د نړۍوالې ټولنې له ملاتړه برخمن ریفرنډم کې د حپل برخلیک په اړه وروستۍ پرېکړه وکړي.

تر هغه وخته د کرښو او سرحدونو په اړه هر ډول خبرې، بحثونه او سیاسي حرکتونه له وختخ مخکې د وخت او انرژۍ ضیاع ده.

**نتیجه ګیري**

د پښتون ژغورنې غورځنګ د بریالیتوب له پاره په کار ده چې د دې غورځنګ مشران او فعالین د خپلې مبارزې هر اړخیزه مطالعه ولري، یوازې په شعاري داعیو بسنه و نه کړي او ټول هغه سیاسي وسایل وکاروي چې د خپلو حقه غوښتنو د تحقق له پاره یې په واک کې لري، یا یې لرلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له MTM نه د PTM پر لور سفر زه او قاید تحریک منظور "پشتین"

الله نور "ننګیالی" وزیر

د ۲۰۱٦ م کال وروستۍ میاشتې وې، زه له یوې غیر دولتي مؤسسې سره د جنوبي وزیرستان د مولې خان سرای په کلي کې د انجینر په حیث په دنده بوخت وم، یوه ورځ یو ملنګ خویه ځوان په موټرسایکل راغی او راکوز شو، له روغبړ وروسته معلومه شوه چې دا ملنګ خویه ځوان په ګومل پوهنتون کې د قبایلي محصلینو نماینده منظوراحمد "پشتین" دی، تر یوه ساعت پورې مو د ځپل شوي پښتون قوم پرمشکلاتو نن، پرون او راتلونکي خبرې وکړې، خبرو او شخصیت یې پر ما ډېر اثر وکړ له پوره ساعت بحث کولو وروسته مو له یوه بل رخصت واخیست او یو بل مو په پاک خدای ج وسپارل.

له لیدنې وروسته مې د ټولنیزې رسنۍ (فېسبوک) له لارې څاره نوموړی به هره دویمه او دریمه ورځ د خپل فېسبوک اکاونټ له لارې په ژوندۍ بڼه راڅرګندیده تر څو لدې لارې د خپل مظلوم قوم غږ تر خلکو او چارواکو ورسوي، په جنوبي وزیرستان کې د پوځ لخوا د ځای پرځای شویو ماینونو، ظلمونو... ناخوالو پرضد یې لدې لارې خپله سپېڅلې مبارزه جاري وساتله، په سیمه کې به هره ورځ پر ملکي خلکو د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لخوا ځای پر ځای شوي ځمکني ماینونه چاودیدل چې له امله یې خلکو خپل ژوند او یا هم د وجود ځینې غړي له لاسه ورکول دا لړۍ همداسې روانه وه چې له امله یې محسود ژغورنې غورځنګ (MTM)خپل زغم له لاسه ورکړی وو، یوه ورځ په دریو ګلالیو ماشومانو د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې درې واړه سخت ژوبل او د دیره اسماعیل خان روغتون ته راوړل شول، ماشومان د ببړنیو پیښو په خونه کې په وینو کې لت پت پراته وو او د روغتون ډاکټرانو تر ماښامه ورته هېڅ ډول پاملرنه نه وه کړې! لدې پېښې چې د روغتون ډاکټران ژوبلو ماشومانو ته پاملرنه نکوي د ځوانانو ملي سازمان (NYO) غړي خبر شول سمدلاسه یې د یاد سازمان د پښتونخوا ایالت منشي او د ګومل پوهنتون محصل شیرالله وزیر تر مشرۍ لاندې د ډاکټرانو پرضد احتجاج پیل کړد پښتنو ځوانانو ترڅنګ بااحساسه پښتانه ژورنالېستان هم راورسیدل او د ډاکټرانو پر ضد یې د روغتون مخې ته لویه لار وتړله، له احتجاج نه چارواکي خبر شول راغلل او له احتجاج کوونکو سره له خبرو اترو وروسته سمدلاسه د ژوبلو ماشومانو درملنه پیل شوه. یادې پېښې ته په ټولنیزو رسنیو کې پراخ انعکاس ورکړل شو. لدې وروسته د ۲۰۱۷م کال د د سمبر پر ۲۷مه نېټه محسود ژغورنې غورځنګ یوه ناسته راوبلله ناستې ته ملنګ خویه ځوان منظوراحمد پشتین او سعیدانور داسې جذابې او احساساتي ویناوې وکړې چې د جمعیت علمای اسلام ګوند کشر او مشر ورته ګوته په غاښ پاتې شول، دوی د پوځ لخوا په سیمه کې د ځای پرځای شویو ماینونو، پر پوځي چیک پوسټونو له خلکو سره د بد چلند او له چاودنو وروسته په سیمه کې د پوځ لخوا د ګرځبندیز لګولو پرضد د پرلت اعلان وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ۲۰۱۸م کال د فبروری په لومړۍ نېټه به اسلام اباد ته ځو او هلته به پرلت کوو تر څو چې زموږ غوښتنې نه وي منل شوي. له دغې ناستې پوره لس ورځې وروسته په کراچۍ کې یو ښایسته ځوان نقیب الله محسود لومړۍ احتطاف او بیا د پولیسو په یوه جعلي مقابله کې په شهادت ورسیده، ددغه خبر له خپریدو سره سمدلاسه د ځوانانو د ملي غورځنګ د مشر محسن داوړ لخوا د پېښې پرضد د احتجاج اعلانونه وشول په کومو سیمو کې چې د ځوانانو ملي غورځنګ غړو شتون درلود احتجاجونه وشول، موږ سره له ملګرو د دیره اسماعیل خان احتجاج ته ورسیدو د شهید نقیب الله محسود د جسد رارسیدو ته منتظر وو، دا وخت منظوراحمدپشتین او علي وزیر هم رارسیدلي وو، داحتجاج ځای ته لاړو خو هر یو دومره په غم کې ډوب وو چې هېچا هم د خفګان له امله له یو بل سره مو خبرې ندي کړي، د ماښام تیارې له خپریدو سره کورونو ته لاړو فېسبوک ته مې پام شو چې د نقیب الله محسود شهادت ټول پښتون قوم راپارولی دی، زموږ په کور کې هم دا ډول غم او خاموشي وه چې ته وا نقیب زموږ د کور غړی دی. پر سبا بیا هم احتجاج وشو خو بدبختانه زه نه وروړسیدم، ملګرو پرېکړه وکړه چې د فبرورۍ پر ۲۶ مه نېټه به اسلام اباد ته کاروان روانیږي ما له منظور پشتین نه وغوښتل چې زه هم پدې کاروان کې درسره ځم، منظورپشتین راته په ورین تندي هرکلی ووایه دا چې زه په کلي کې اوسیدم او کاروان د ورځې ناوخت روان شو، نو زه دمنظورپشتین په مشوره سهار وختي ورپسې روان شوم دوی له بنو څخه راوتلي وو، ماته منظور زنګ وکړ چې په کوهاټ کې منتظر اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوهاټ کې له کاروان سره تر یوځای کیدو وروسته مې بې حده زیاته خوښي احساس کړه، پر ټولنیزو رسنیو له دوی سره زما د یوځای کیدو خبر خپور شو، دا چې زه دومره لوی سړی نه یم شهباز ستوریانی او فصیح الله چمتو وزیر هم له کاروان سره یو ځای شوي وو، د محسود ژغورنې غورځنګ د محسود قوم له دایرې وتو ته تیاربده او پښتون ژغورنې غورځنګ ته د داخلېدو شېبې رانږدې کیدې، کوهاټ کې ناوخت شو او دا وخت غورځنګ زما په شمول ۲۳کسیز شوی وو، موږ څو تنه هلته د مېشتو پښتنو سره د شپې تېرولولپاره لاړو منظورپشتین مو د امنیتي او نورو ستونزو له امله د کوهاټ پوهنتون له محصلینو سره ولېږه. کله چې سهار شو د دره ادم خېل اپریدیو پر لور روان شوو، دقیصر جمال اپریدي په کور کې راته د چای او ناشتې ترتیب شوی وو، هلته یې موږ ته د شهیدنقیب الله مسید فاتحه هم وکړه، موږ ورته کراچۍ کې د شهید شوي سعیدګل اپریدي فاتحه وکړه، د یوبل سره له غمشریکۍ وروسته شریک احتجاجي لاریون وشو، دلته احمد انقلابي پشتین هم زموږ د کاروان ملګری شو، کاروان د کراچۍ پر لور روان شو هلته پښتانه لیرې رېنګ روډ ته د هرکلي لپاره راوتلي وو، زموږ یې تود هرکلی وکړ او له رېنګ روډ څخه یې د حیات اباد تر فېز تهري چوک پورې پیاده بوتلو له لیرې لیرې ځایونو موږ ته د عوامي نېشنل پارټۍ غړي راغلي وو، د فبرورۍ ۲۷مه نېټه وه د باچاخان بابا او ولي خان بابا تلین لمانځل کیده د ګوند ټول مشران هلته بوخت وو، خو بیا هم موږ پیاده راغلو او د نورو شپېتو کسانو لپاره د ماښام د ډوډۍ ترتیب په باچاخان مرکز کې شوی وو، خو په حیات اباد کې د راټولو شویو کسانو له جملې دوو کسانو هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نه تګ خبره وکړه، ما محسن داوړ خبرکړ هغه په باچاخان مرکز کې موجود وو، نو دوی د ډوډۍ راوړلو خبره وکړه، میا افتخارحسین، بشره ګوهر بي بي، برېښتر سنګین خان، محسن داوړ او د شاه جي ګل اپریدي په شمول نور ډېر مشران راغلل ویناوې یې وکړې، د دوی نه بغیر دلته نور دقبایلي سیموعلمای کرام، مشران، استادان، ډاکټران، انجینران، محصلین... هم راغلي وو ویناګانې وشوې، موږ د شپې لپاره ټول ملګري یو ځای لاړو زموږ سره پدې وخت کې شوکت عزیزشوکت او پروفیسر اخترخان وزیر هم ملګري شول، سبا یې موږ دلته پاتې کړو مازدیګرمهال بیا په فېزتهري چوک کې پښتانه راټول شول ویناګانې وشوې دا ځل د منظورپشتین له درده ډکې وینا خلک ډېر متاثر کړل، شپه راغله ملګري دشپې لپاره سره وویشل شوو، سهار د چارسدې پر لور وخوځیدو دا وخت راسره عتیق وزیر او خذیف افغان هم ملګري شول د چارسدې، مردان، او سوابۍ لپاره راسره محسن داوړ او ډاکټر مشتاق یوسفزي ملګرتیا وکړه، مردان ته په رسیدو سره سم د ضلعي ناظم حمایت الله مایار په ګډون زیات شمېر پښتانه مخې ته راغلي وو، هلته ویناګانې وشوې او داسلام اباد پرلت لپاره د ننګ کولو غوښتنه وشوه، ورپسې کاروان د سوابۍ پر لور روان شو، کاروان د یوسفزیو له تاریخي تاوده هرکلي سره مخ شو د کاروان لپاره دوه غونډې ترتیب شوي وې، چې مشري یې د عوامي نېشنل ګوند ملګرو کوله، اوله غونډه د شوې اډه کې د امیرالرحمن تر مشرۍ لاندې وه او دویمه د سوابۍ چوک کې د حاجي ګل زامین شاه تر مشرۍ لاندې وه، دا هغه تاریخي غونډه وه چې اعلان پکې وشو چې شهیدنقیب الله د محسودو نه بلکې د ټول پښتون قوم شهید دی نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقیب محسود په نقیب پښتون بدل شو، اوس راسره د NYO پرملګرو سربېره د پښتون سټوډنټس فېډرېشن (PSF) ملګري هم یوځای شوي وو، د سوابۍ نه هم دوه کسه ملګري له کاروان سره یوځای شول له بده مرغه چې اوس یې نومونه زما له ذهن وتلي دي، کاروان د اسلام اباد پر لور وخوځېد موږ د شپې ناوخت د اسلام اباد جناح پوهنتون ته ورسیدو د ډوډۍ ترتیب د جناح پوهنتون محصلینو کړی وو، د ډوډۍ له خوړلو وروسته مود سبا ورځې د پرلت لپاره پلان جوړ کړ، ریاست زموږ د پرلت د ناکامولو لپاره وار له مخکې د پښتون قامي جرګې په نامه یو ټولګی جوړ کړی وو او هلته ناست وو، موږ ته د دوی لیرې کول اړین وو ځکه زموږ ملګري د هغوی له شوم پلان څخه خبر وو، دلته له خان زمان کاکړ سره زموږ د ملګرو لیدنه وشوه په تحریک باندې هر اړخیزې خبرې وشوې او د ملګرو حوصلې لا پسې لوړې شوې دشپې مو تر درو ساعتو پورې بحث ورسره وکړ، دا هغه تاریخي شپه وه چې په سخته یخنۍ کې پښتنو ځوانانو د خپل قوم د روښانه راتلونکي لپاره دمحصلینو په لیلیه کې ویښه تېره کړه، سهار له ناشتې وروسته د احتجاجي پرلت لورته وخوځیدو، منظور پشتین زه او درې نور ملګري هغه کېمپ ته ولېږلو په کوم کې چې له مخکې نه خلک ناست وو، موږ ورسره خبرې اترې وکړې او موږسره یې ژمنه وکړه چې تر سبا پورې به کېمپ پرېږدي. موږ بېرته راغلو د منظور پشتین او نورو ملګرو سره مو مشوره وکړه او څو کسان مو ورته پرېښودل چې د شاه افغان وزیر او وحید محسود نومونه راته یاد دي، دوی ته مو دنده ورکړه چې د تیارې په خپریدو سره به سمدلاسه هلته لګیدلي بېنرز لیرې کوي او پر ځای به یې زموږ خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېرې او پینافلکس لګوي، چې سهار دوی راځي نو زموږ ملګري به تیار هلته ناست وي، یادو شویو ملګرو خپله دنده په ښه توګه ترسره کړه، موږ ته یې وویل چې د اسلام اباد پښتنو د ترنول په سیمه کې تاسو ته غونډه نیولې ده تاسې هلته ځانونه ورسوئ، موږ چې هلته ورسیدو وه مو لیده چې خبره سرچپه ده، په هر صورت دا شپه ټولو ملګرو یو ځای تېره کړه، یوه خبره چې ما د باچاخان په کتاب زما ژوند او جدوجهد کې لوستې وه خو ورسره مخامخ نه وم، هغه د عدم تشدد خبره چې موږ ملګرو په منظورپشتین کې ولیده، هغه به ملګرو ته هره شپه د عدم تشدد تبلیغ کاوه، او ورته ویل به یې چې څوک درته ښکنځل کوي او که وهل کوي د عدم تشدد لاره نه پرېږدو، ملګرو ښه په مینه د منظورپشتین خبرې اورېدې او منلې هغه ورځ مې په عملي ډول دپښتون قوم مینه او ورورولي ولیده.

سهار شو موږ ټول د ترنول په سیمه کې راټول شوو بیخي زیات خلک راغلي وو، کنټینر دوه جوړ شوي دي، روان شوو په یوه زاړه ټېکسي موټر مې اواز وکړ چې پکې زه(الله نور ننګیالی وزیري)، منظور پشتین، احمدانقلابي پشتین او خذیف افغان د پرېس کلب لور ته روان شوو کله چې اسلام اباد پرېس کلب ته نږدې شوو نو له شا څخه د NYO او PSFملګرو ټینګار کاوه چې منظورپشتین به د جلوس په شکل کې کېمپ ته داخلوي، موږ هم ورسره ومنله ملګرو یو بل ته د ځنځیر په ډول لاسونه ورکړل او دایره موجوړه کړه، منظورپشتین مو د دایرې منځ ته داخل کړ خلکو نارې پیل کړې چې نر پښتون، باتور پښتون، منظور پښتون موږ پداسې حال کې د ځوانانو د نارو او شعارونو په بدرګه کېمپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته داخل شوو چې استاد اخترخان وزیر هم راسره وو، پر سټېج ولاړ کس نه مې مایک واخیست او شعارونه مې بیا تکرار کړل لاندې ناست خلک ټول حیران شول د کنټینر په رارسیدو سره مشران کسان وختل تر ځو خپلې وېناوې وکړي لومړۍ نوبت منظورپشتین ته ورکړل شو منظور داسې سپینې سپینې خبرې پیل کړل چې ناست خلک بیخي هک پک شول دشپې تر دوولسو بجو مو پر کنټینر ناستو کسانو سره پدې جنجال وو چې کله به یې دا ځنګه ازادي ده ترانې غږولو ته اجازه نه ورکوله او کله هغو نارو ته چې : یې جودهشت ګردي هې، اسکي پیچهې وردي هې موږ له ډېرو سختو ستونزو سره لاس او ګرېوان وو چې یو جنجال به مو هوار کړ بل به یې جوړ کړی وو، وروسته بیا ورو ورو زموږ د فکر ملګري په زیاتیدو شول، پر ملتپالو ګوندونو سربېره د دقامي وطن، مذهبي ګوندونو او پاکستان تحریک انصاف مشران هم نوبت په نوبت راغلل او ویناګانې به یې کولې دا وخت موږ یوه فیصله وکړه چې منظورپشتین به هره ورځ یو ځل وینا کوي خو چا نه راسره منله بالاخره به ځوتنو ملګرو په زور سټېج ته وخېژاوه لاندې ملګرو به دومره سخته نعره بازي کوله چې د سټېج مسؤل به مجبور شو چې تقریر ورکړي ، دلته یوه خبره خوندوره وه چې افراسیاب خټک، محسن داوړ، علي وزیر، ثناءاعجاز، بشره ګوهربی بی، شهاب الدین ، شاه جي ګل او دغه دوه نور ملتپال ګوندونو څخه به کسان راغلل پخپلو جذباتي ویناګانو به یې د ملګرو حوصلې لا پسې لوړې کړې، پرلت ته له پاکستان سربېره د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه بااحساسه پښتانه راغلل او شرکت یې وکړ، سرکاري او درباري مشرانو هڅې پیل کړي وې چې پرلت په څه طریقه ختم کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور د دوی هر شوم پلان ته متوجه وو، بالاخره وزیراعظم د ملاقات غوښتنه وکړه زمور له لوري يو منظورپښتين وو خو د ټولو کافي وو، چې بېرته راغلل ويل يې چې خبرې ټولې ومنل شوې او دلته نور پاتې کيدل هېڅ مانا نلري، سرکاري او درباري مشرانو خبره قبيلو ته بوتله خو مور ټولو پښتنو ځوانانو منظورپشتين ته د فبرورۍ په شپږمه نېټه د شپې پر ۱۲بجو وويل چې مور درسره يو دغه يې وخت دی چې پرلت ختم نکړې، منظور پشتين زمور خبره ومنله خو دمشرانو جرگې ته بيا ورغلو خو دوی له منظور پشتين څخه بيخي پوښتنه ونکړه ځکه دوی ته پته وه چې د منظور ځواب به نه وي، نو دوی لاسونه پورته کړل او د سټېج پر لوري د اعلان لپاره روان شول، د ځوانانو زغم بيخي ختم شوی وو، مور هڅه وکړه چې ځوانان له مشرانو سره لاس او گريوان نشي خو مشرانو ته هم حالت معلوم شو هغه نر وو چې پښې يې ايستلې د دوی شوم پلان مو ناکام کړ، د پاکستان رسنيو خبر خبور کړ چې پرلت ختم شو، خو مور د ټولنيزې رسنۍ (فېسبوک) له لارې ژر ژر هڅه وکړه چې خلکو ته دا خبر ونه رسيږي چې پرلت ختم شويدی، پدې وخت کې راغلي عام خلک مو يوې خواته کړل چې څوک شر جوړ نکړي، ماته شاه افغان اواز وکړ چې منظور پشتين د غواړي دوی هلته هوټل کې ناست وود استخباراتو کسانو مو ځای معلوم کړی وو راغلل خو مور هلته د ډوډۍ په بهانه پاتې شوو کله چې د استخباراتو کسان لاړل نو شاه افغان او منظورپشتين خپل موبايلونه بند کړل، او د شاه افغان اطاق ته دشپې لپاره لاړو هغه شپه سخته شپه وه په امتحان کې گير وو خو ملگري موتکړه خلک وو شپه پرشپه يې د هرڅه ذمه وارۍ پر غاړه واخيستې نديم سرور، شاه افغان، سالارزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دجناح پوهنتون نوروپښتنو محصلینو تر سبا غرمې پورې هرڅه برابر کړل سټېج د پخوا په څېر کنیټنر نه وو خو بیا هم زموږ کار جوړ شو، ماته منظور په خیمه کې وویل چې لاسي لوډسپیکر نظیف لالا ته ورکړه چې پښتنو ته خپل تاریخ بیان کړي، او د ناستو کسانو توجه ترهغې وساتي ترڅو چې سټېج تیار شوی نه وي، دا ځل هم استخباراتي ادارو خپل کسان پرلت ته داخل کړي وو تر څو پرلت ختم کړي او دپښتنو ترمنځ کرکه خپره کړي خو دا ځل هره ورځ د منظور تقریر وو خلکو به یې په ډېر غور خبرې اوریدلې د علي وزیر، محسن داوړ او خان زمان کاکړ ویناګانو د خلکو حوصلې لاپسې لوړې کړې، د حکومت سره د مذاکراتو لړۍ پیل شوه د وزیراعظم نه وروسته د پوځ له ویاند جنرال اصف غفور سره لس کسیز پلاوي لیدنه وکړه، چې منظورپشتین، محسن داوړ، ثمرین وزیر، شاه فیصل غازي، عبدالله ننګیال، ابوبکرمسید او زه الله نورننګیالی وزیر پکې شامل وم پدې لیدنه کې چې موږ کومې خبرې د پوځ ویاند ته وکړې بل هېڅوک یې ورته نشي کولای، په بله ورځ ملګرو د پوځ له بل جنرال سره لیدنه وکړه، د پوځ جنرال ځوانانو ته وویل چې تاسو ولې زموږ هرڅه په اوبو لاهو کړل نو منظورپشتین سمدلاسه خبره ورغبرګه کړه چې اوس مو صرف اغاز کړیدی تاسې خپل ظلم بند کړئ، لدې وروسته د پوځ جنرال دوی ته ژمنه ورکړه چې ستاسو غوښتنې به منل کیږي ورسره بل جنرال ته یې دنده ورکړه چې د وزیراعظم لخوا ورکړل شوي لیکلي ژمنې ورسره ومني او کار پرې پیل کړي، بېرته راغلو منظور ملګرو ته وویل چې د هرپښتانه کورته ورځو د یووالي خیر ترې غواړو که چا درته سپکه خبره کوله سپکه خبره به نه ورته کوئ که چا د کاڼي ګوزار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربانديې کاوه خير دی دوی به نه پوهيږي د کاڼي ګوزار مه پرې کوئ د ماښام ناوخت د پرلت دختميدو اعلان پدې شرط وشو چې که ليکلي شوي وې ژمنې ونه منل شي موږ به بيا حرکت کوو، هرڅوک پخپل لوري وخوځيدل موږ د شوکت عزيز شوکت په انقلابي ترانه عادت شوي وو، کور خوند نه راکاوه دوه ورځې وروسته په ستره محکمه کې د شهيدنقيب الله محسود قضيې اوريدنه وه زه، شاه افغان او اسماعيل مسيد د وکيل عبدالرحيم سره هلته لاړو چې پر رسيدو سره د منظور پشتين پيغام راغی چې سبا ته د پوځ له جنرال سره په وانه کې ليدنه لرو ځان راورسوه، شپه مې ديره اسماعيل خان ته راورسوله بل سهار دعدنان بېټني ، انور سليمان خېل او نوروملګرو سره يوځای وانه ته ورسيدو د پوځ له جنرال سره مو تر ناوخته ليدنه وکړه هماغه پخوانۍ سختې خبرې اترې مو سره تبادله کړې موږ سره يې تل د دروغو وعدې کولې خو ترسره کول يې نه، منظورپښتين ته پدې ورځ وزيرو مېلمستيا کړې وه له ډوډۍ نه وروسته زه په وانه کې پاتې شوم او دوی ديره اسماعيل خان ته لاړل ځکه په سوات کې يوه ماشومه په ظلم وژل شوي وه منظور د هغې غم په سر اخيستی وو تر څو سوات ته ځان ورسوي، زه د دوو ورځو لپاره کور ته راغلم خو دوه ورځې تېرې نه وې چې د سويلي پښتونخوا د تګ لپاره په جوړه شوي کمېټه کې مې نوم راغی چې علي وزير، لياقت يوسفزی، ډاکټرمشتاق، ډاکټر ګلمرجان، عبدالوحيد مسيد، جمال ماليارمسيد، امين شاه او کاکاشفيع ترين هم راسره ملګري وو، د سويلي پښتونخوا له جلسې نه وروسته زه او عبدالوحيد د کراچې جلسې د کمېټې جوړولو لپاره لاړو هغه لا ختم نه وه چې دپېښور د جلسې اعلان وشو، بيا دلاهور، او بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسوات او بيا چې تر ټولوزيات يې ستړي کړو دکراچۍ جلسه وه، وروسته د روژې درخصتۍ لپاره وانه ته راغلم د اختر نه وروسته په ټولټاکنو کې بوخت شوو چې په منځ کې يې د ديره اسماعيل خان دجلسې اعلان وشو له ديره اسماعيل خان وروسته مو د بني گل په جلسه کې حوصلې لاپسې لوړې او ارادې مظبوطې شوې ، دا چې د نيولو او وژلو لړۍ همداسې روانه ده خو موږ هم قسم خوړلی چې زموږ په ژوند خو پښتون قوم سوکالي او خوشالي ونه ليده تر څو موچې راتلونکو نسلونو ته ازادي او خوشالي نه وي راوړي تر هغو به خپله مبارزه جاري ساتو که د سر په قيمت هم وي.

سر ورکوو خو سنگر نه ورکوو.

په اخر کې له هغو ملگرو بخښنه غواړم چې له ما يې نومونه هېر او يا يې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتون ژغورنې غورځنگ د ايين په لومه کې

فيض محمد ځلاند

د نړۍ هيڅ ولسي حرکت د خپل حکومت، نظام د ايين په اډانه کې نه دی بريالی شوی يا ترسره شوی، کله چې نيلسن منډيلا د اپرتايد ( توکم پالنې ) خلاف غبرګ پورته کړ، هغه د سويلي افريقا د اساسي قانون خلاف حرکت و، له همدې امله په هغه مرگوني بريدونه ترسره شول، گڼ ملگرو يې ژوند له لاسه روکړ، منډيلا هيله او ژمنتوب د خپل هدف د ترلاسه کولو له لاسه ورنه کړ، بلکې لا يې پياوړ کړ، سره له دې چې يو وخت تاوتريخوالي ته مخه کوي، خو تر پايه يې د ولسي مبارزې، د لس زره وروځو بنديخاني تر څنگ خپله موخه تر لاسه کړ .

بل لورې ته د مارټين لوتر کينگ مبارزه په امريکا کې هم د امريکا د اساسي قانون خلاف غبرګ پورته کول و، په کوم قانون کې چې تور پوستو ته د دويم نسل په سترگه کتل کېدل، تور پوستو ته د رايه اچونې، انتخاب کېدلو او د لومړنيو انساني حقونو اسانتياوې نه وې ذکر شوي، د هغه قانون خلاف يې غبرګ پورته کړ، لسيزې وروسته حسين بارک اباما د امريکا لومړنی تور پوستی ولسمشر انتخاب شو، دا د لوتر کينگ د مبارزې رنگ و.

لوی پښتون باچا، فخر افغان باچا خان هم د انگريز د ايين خلاف د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حق د غوښتنې مبارزه کوله، د انګریز له ماتیدو سره یو ځای یې، د پنجاب خلاف خپلې مبارزې ته د مرګ تر وروځې ادامه ورکړه، حتی د پاکستان د ایین خلاف یې د خپل جسد د ښخولو د پاره جلال اباد، ښکلی ننګرهار انتخاب کړ، تر څو د لوی افغانستان، د پښتنو د خپلواکۍ هیلې ژوندۍ پاتې شي.

د پښتون ژغورنې د غورځنګ پیل ته همداسې تمې موجودې وي، چې دا به د پنجاب د بربریت خلاف د پښتون ولس غبږ پورته کوي، خو په هره غونډه کې پښتانه مبارزین د پاکستان د ایین مطابق د حق غوښتنې چیغه پورته کوي، کوم ایین هغه چې له انګریز څخه پنجاب ته په میراث پاتې دی، هغه چې د فارورډ پالیسي (Forward Policy ) په حیله د افغان ـ پښتون وجود او نقشه تر خپلې خیټې لاندې راولي، په کوم ایین کې چې پښتون ته د پاکستان د دویم نسل په سترګه کتلی کیږي، چېرته چې راو انور ته د قهرمان لقب ورکولی کیږي او طاهر داوړ په ډېره ظالمانه توګه وژلی کیږي.

د ولسي مبارزې اساس او بنیاد د ولس په ملاتړ، د ولس د حق غوښتنې په ځواکمنې مبارزې او په لویه کې د ولسونو د خوځښت په اډانه را څرخي، نه د قانون په ملاتړ، نه د قانون په پلی کیدو. قانون د زورورو، د پنجاب د پاره د غني جال حیثیت لري، چې هر وخت یې څیرلی، بدلولی شي، تاسو د پاکستان په تاریخ کې وګورئ چې کله هم د پنجاب ګټې په تاوان کې لوېدلې، د قانون خلاف په کې مارشلا راغلې، د قانون خلاف په لومړی وزیر، حکومت چپه شوی، د قانون خلاف په کې خلک په دار شوي، د قانون خلاف په کې پښتانه په نښه شوي، وژلی شوي، ترورړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي، ویرول شوي او ځپل شوي دي.

له دې امله، ملګرو ته په کار دي چې د پاکستان د ایین پر ځای د ملګرو ملتونو د انساني حقونو د منشور له مخې د پښتون انسان د ژوند د خوندیتوب مبارزه وکړي، مبارزه په ویره، ډار او پټه نه ترسره کیږي، په دې پړاو کې به ځوانان سرونه شیندي، میندې به بورې کیږي، پیغلې به د ملالۍ ټپې په خوله راوړي، خو دا مزل به تر منزله رسي، د پنجاب بربریت او وحشت به ماتیږي، د پښتون په کور به د ازادۍ لمر را خیژي.

له دې امله، د پښتون ژغورنې غورځنګ ملګرو ته په کار دې چې ورو، ورو د بغاوت، د انساني حقونو د ترلاسه کولو، د د بشري ژوند خپلولو په پار ځینو داسې مبارزو ته مخه کړي چې د پنجاب د فارورډ پالیسي پرې ونګوي، د پنجاب د پوځ جرړې پرې د پښتونو له سیمې وباسي، د پښتون انسان وجود او ژوند پرې وژغوري.

په دې وروستیو کې د بشرى ګوهر او افراسیاب خټک د عوامي نشنل ګوند څخه د وتلو دسیسه د همدې ناقانونیت ( د پښتون وژني او ځوروني) ادامه ده چې په ډېره سپین سترګۍ عملي شوه، خو اوس د پښتون ژغورنې غورځنګ ملګرو ته په کار دي چې په دې دواړو مشرانو ننګ وکړي، د افراسیاب خټک صیب د لسګونو کلونو سیاسي تجربې څخه په ګټه اخیستنې د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرتوب ته مخه کړي، دا غورځنګ په سیاسي ولسي مبارزه بدل کړي، ددې غورځنګ د بغاوت داسې بریدونه وټاکي چې د پنجاب د هر ظلم حساب کتاب وکړي، د نړیوال ملاتړ د ترلاسه کولو د پاره په نړیواله کچه ( د ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملتونو، د امنیت شورا، د اروپايي اتحادیې، د اسلامي کانفرانس ...) په کچه د خپل شناخت تابیا ونیسي. موږ یې نه یواځې ملاتړ ته په ډگر ولاړ یو، بلکې غواړو د پښتون ژغورنې غورځنگ د لوی افغانستان د ارمان د پوره کولو وسیله وگرځي، د همدې غږ او چیغې له لارې پښتانه یو موټی کړي، د پنجاب د قبضې څخه پښتون خلاص کړي، او په نړۍ کې د نورو انسانانو په څیر پښتون انسان هم د سیالۍ ژوند وکړي.

هیله ده چې د پښتون ژغورنې غورځنگ ملگري د پورته ذکر شویو اندېښنو په اړه ژور فکر وکړي، که اړتیا لیدلی کېدله موږ به ورسره د سیاسي مانفیست په رامنځته کولو، د سیاسي مبارزې د لید لوري په ټاکلو او د ولسي مبارزې د پیاوړتیا او پراخې په برخه کې د هر ډول مرستې ټېر ووهو.

د گران، ازاد لوی افغانستان په هیله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پي ټي ايم؛ پښتونخوا کې منځلارې سياست

نذيراحمد "سهار" کابل مېشتی مسيد

په پښتونخوا کې د پښتنو نوي غورځنګ، چې په پښتون پسرلي هم مشهور دی، هلته د پښتون قومي سياست د راتلونکي په اړه نوې هيلې ټوکولې دي.

منظور پشتين له وزيرستان نه تر پېښور، کوټې او له کوټې تر کابله، د پښتون ويښتابه (Pashtun Awakening) د سمبول حيثيت خپل کړی او دې کار پر يوه قومي محور د پښتنو، په ځانګړې ډول له ډيورنډ کرښې پورې غاړې پښتنو د راغونډولو فُرصت هم رامنځته کړی.

د پښتون ژغورنې غورځنګ ظاهرا د ملتپالنې او مذهب ترکيب دی، چې له سياسي او قبيلوي ټکرونو لوړ غير سياسي، خو قومي اجنډا پرمخ وړي .

د پي ټي ايم تګلاره دريېمګړی يا منځلاری (نه سيکولر، نه افراطي) دريځ دی، چې په غير مستقيم او غير علني شکل د مختلفو او مخالفو محورونو پر يو کولو تمرکز لري. د دغه غورځنګ د لايحې لومړۍ او دويمه ماده پر دې ټينګار لري، چې دا غورځنګ نه سياسي ګوند دی او نه د کوم سياسي ګوند او جريان برخه دی، خو د هر ګوند او ټولنيزو، خيريه تنظيمونو افراد پکې را ټولېدای شي. دويمه ماده يې ولسواکۍ او پارلمان ته د درناوي ترځنګ د تحريک پر قومي توب او غير پارلماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیثیت ټینګار لري. پارلماني سیاست د پاکستان په څېر هېواد کې د لږه کیو لپاره پاموړ نتیجه نه لري، له همدې امله د غورځنګ قومي رنګ ساتل په قوم او ټولنه کې د هغه د بقا ضمانت دی. د غورځنګ د غیر سیاسي رنګ د خوندیتابه په هدف، د تحریک له مرکزي کمیټې نه د پارلماني غړو اېستل ددغه ګوند د مشرتابه خورا ځیرکانه او سنجول شوې پرېکړه ده او د دوو مهمو پارلماني غړو غبرګون یې هم خورا معقول او سنجیده دی .

دا تجربې د پښتونخوا د سیاسي تاریخ په مطالعه کې هم د درک او مشاهدې وړ دي .

په ۱۹۳۷ کال کې، چې د انګریزانو تر ولایت (ګورنرۍ) لاندې د ډاکټر خان صاحب په اعلي وزارت په پښتونخوا کې خدایي خدمتګاران (کانګرسیان) واک ته ورسېدل، په پښتني ټولنه کې د خدایي خدمتګارانو شعار، دریځ او فعالیتونه ورسره ورځ تر بلې کمزوري کېدل. حکومت د قدرت اعمال او د قوانینو پلي کول دي. د خدایي خدمتګارانو یوې برخې به چې کله حکومت ضد حرکات کول، دوی یې خپله پر وړاندې دریدل او دې دریځ ددوی ترمنځ اختلافات ټوکول .

د ایپي فقیر په څېر د انګریزانو د وسله والو مخالفانو بریدونه به چې د وزیرستان له پولو اوښتل او د ټانک، بنو، دیره اسماعیل او کوهاټ په څېر سیمې یې ګواښلې، حکومت یې پر وړاندې غبرګون ښوده او دغه غبرګون د دوو ازادي غوښتونکو غورځنګونو ترمنځ ټکر رامنځته کاوه. دې مسالې د پښتنو د ازادۍ غوښتنې قوت، پر انګریزانو د ( سیاسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامي) فشار دوو مختلفو تعبيرونو ترمنځ وېشلی و. په وزيرستان محوره غورځنگ کې دا اټکل کېده، چې بريټانيا بهرنی قوت دی، تر ابده نه پاتې کيږي او د ځينو خاصو عواملو پر اساس پر دوی مسلط دی، د مقاومت او اقتصادي او نظامي سرچينو د زيات مصرف له امله وتلو ته اړ کېدای شي، خو پېښور محوره غورځنگ (په عدم تشدد سياست باورمن خدايي خدمتگاران) په دې فکر وو، چې يوازې سياسي هلې ځلې پښتانه د واک او اقتدار څښتنان کولی شي، خو دغه غيرعلني اختلاف او دوه محوري(سياسي-نظامي) مبارزو وروسته د پښتنو د برخليک ټاکلو په مرحله کې خورا ترخه نتايج لرل.

يو برداشت دادی، چې په ايالتي حکومت کې د خدايي خدمتگارانو گډون دوی ته د خپلې خاورې په تړاو د مالکيت احساس ورکړ او دغه احساس د دوی د حقونو د تحقق او ازادۍ غوښتنې پر داعيې او راتلونکو تحولاتو کافي منفي اغيز درلود. د پې ټې اېم غير سياسی اجنډا ته بايد له همدې زاويې وکتل شي.

په ۲۰۰۸ کال کې په پښتونخوا کې د اې اين پي بری د ۱۹۳۷ کال تجربو تکرار و.

هلته هم يوه طبقه پښتانه د حاکم قدرت پر وړاندې جنگېدل او په دې کلونو کې هم.

په ۲۰۰۸ کال کې، چې په پېښور او پښتونخوا کې عوامي نېشنل گوند واک ته ورسېد، په وزيرستان او قبايلو کې يو ستر ( کورنی او بهرنی) جنگيالی قوت د جگړې په جبهه کې و. ايالتي واک په يوه خورا بحراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت کې عوامي نشنل گوند ته ولېږدید. دوی د خپل حاکمیت د غځولو او خوندیتابه لپاره اړ وو، چې پښتونخوا او له دې لارې نورو ایالتونو ته د ناکراریو مخه ونیسي، خو په دې برخه کې د ایالتي حکومت او حتا پوځي او استخباراتي ادارو هر اقدام په سوات، وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې د میشت جنگیالي قوت له متقابل غبرگون سره مخ کېده او ددغو غبرگونونو قرباني عوامي نېشنل گوند او ددغه گوند کارکوونکو ورکوله. البته د دې دوو دورو ترمنځ یو توپیر دادی، چې هغه وخت ازادي غوښتونکي غورځنگونه د انگریزانو تر اغیز لاندې نه وو، خو له ۲۰۰۱ کال نه تر ۲۰۱۳ کال پورې وضعیت، چې د وزیرستان او پېښور دوو پښتني محورونو ترمنځ یې فاصله او ټکر رامنځته کړی و، په مستقیم او غیر مستقیم ډول د مرکزي حکومت تر اغیز او کنټرول لاندې و .

وزیرستان او پېښور په مهمو تاریخي پړاوونو کې د کوزو پښتنو د را غونډېدو، تصمیم نیونې او مشرتابه د زېږون مراکز پاتې شوي. پېښور ډېری د ښاري پښتنو مرکز پاتې شوی او وزیرستان د قبایلي سیمو او حتا ژوب او ورخېرمه پښتنو سیمو. له پي ټي ایم نه د محمودخان اڅکزي په مشرۍ د ملي عوامي گوند او د جماعت علماء اسلام مخکښ غړي مولانا محمد خان شیراني ملاتړ هم دغه تاریخي پیوند لري.

اې این پي د تېر په څېر په پارلماني سیاست ټینگار لري او د خپل گوند د یو شمېر مشرانو غړیتوب یې ظاهرا د پي ټي ایم د ملاتړ له امله ځنډولی، خو د پي ټي ایم منځلارۍ او غیر سیاسي تگلارې په پښتونخوا کې د ملتپالو ترمنځ د ټکر مخه ډب کړې ده. د تېرو وزیرستان محوره غورځنگونو برعکس، چې اتکا یې په وسله وال مقاومت وه، پي ټي ایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان پښتون شموله کړی او مبارزه یې هم په عدم تشدد ولاړه ده؛ همهغه شعار، چې د اې این پي اساس جوړوي. دې چارې د ملتپالو ترمنځ د شعار، دریځ، نظر او لیدلوریو وحدت او مشترکات رامنځته کړي او دا د پښتونخوا په قومي سیاست کې یو نوی او مثبت تغییر دی.

پي ټي ایم په خپل تهاجمي قومي، خو په عدم تشدد ولاړ دریځ حجره او جومات په واقعي شکل سره یو کړي او د اې این پي برعکس، له مذهبي گوندونو او د ټي ټي پي په څېر جنگیالیو ډلو سره یې له تقابل نه هم ځان ژغورلی دی.

له تاریخي تجربو نه زیږېدلی دغسې قومي تحریک ددې جوگه دی، چې په پښتونخوا کې د یوه نوي سیاست او تغییر تهداب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون تحفظ مومنټ (پښتون پرلت)

ارمان "لوڼی"

## ځوانان موقتل کیږي

## داڅنګه ازادي ده؟

ملي پاڅون نه یو له اسمانه رالوېدلې ناولده بلا ده! نه کوم له مځکې راټوکېدلی یو ناولده تخم دی چې له یوه واره راښین هم سو او پوخ هم دی بس خالي په خوراک مانده ده، بلکه دا دهغو تحریکونوچې له سکندراعظم یوناني یې راواخلې بیا تر پیرروښانه، خوشحال خانه، اېمل خانه، دریاخانه، خدایي خدمتګارتحریکه، بیا تر ورور پښتونه څورلس تحریکونو او داسې نورپه زرګونو په یوازې سرله انګرېزه سره جنګېدلو غازیانو او شهیدانو، ورسته چې له دې ټولو تحریکونوچې کومې دوې پارټیانې چې په تنظیمي بڼه راپاته سوې دي او اوسلا هم دوام لري چې ۷۰کلونو ته رسیږي له لړمانه راټوکیدلی یو پاڅون دی چې هر وخت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولس ته دوښمن ورپه ګوته کړیدی دا ټول ظلمونه چې کیږي او سوي دي د دې ټولو ظلمونود دوښمن ادراک دې دوو ګوندونو کړی دی. زما په یاد دي بلکه اوس هم چې زاړه دېوالونه پسې وکتل سي پر یو دیوال به خاماخا دا لیکل په نظر درسي چې دکابل تباهي د اسلام اباد زمواري، پنجابي استعمار مرده باد، خپله خاوره خپل اختیارنه منو د بل اختیار، لر او بر یوافغان، پرېښتنه خاوره تپل سوی اقتصادي جنګ خاتمه د اسلام اباد زمواري، په افغانستان کې دي د اسلام اباد او جاسوسي ادارو لاسوهنه بند کړل سي، داسې بلها ډېرې نارې به وموندل سي نو دپښتون تحفظ مومنټ تحریک هم عین دغه غوښتنې دي چې موږ د نه روډ غواړو نه سکول غواړو نه نوکري غواړو او یو څه هم نه غواړو موږ خالي ژوند غواړو، امن غواړو، پر خپل کور کلي خپله خاوره امن غواړو، خپله وچه ډوډۍ په ارامه راپرېږدئ بس. زموږ کورونوچې مو رانړولي دي بېرته راجوړ کړئ د کومو نړیدلو کورونو پرسر چې تاسو په اربونو ډالر اخیستي دي. او زموږ پرخاوره چې مو څومره ماینونه کرلي دي هغه بېرته ټول کړئ، او تر ټولو لویه او ستره غوښتنه دا ده چې د یوې اندازې مطابق ۳۲۰۰۰انسانان اغوا دي پدې کې خالي له ۱۳۰۰واخله بیا تر ۱۵۰۰پورې ښځې اغوا دي دا د و عدالت ته پېش کړل سي که مجریمان دي خو سزا د ورکړل سي او که بې ګناه دي نو راخوشي د کړل سي. پدې کې حکومت پخپله هم د درې زره کسانوشاوخوا د پورته (اغوا) کولو پړه مني، او تېره شپه جاویداقبال د مسنګ پرسن کمېټۍ چیرمین وایي چې منظور دي موږ ته لسټ راکړي پدې کې دمشرف په دور کي مشرف پرامریکه او نورو ملکونو خرڅ کړل او دا پړه دوی اوس په دانسته توګه پر شیرپاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچوي چې شيرپاو په هغه وخت کې وزيرداخله وو او مشرف لدې څخه خلاسوي څکه چې هغه خو هم فوځي دی نو دا تور دوی په هېڅ قيمت پرفوځ نه پرېږدي. او په اسلام اباد کې جنرل اصف غفور و منظور ته وويل چې له موږه ليکلي مه غواړئ بيا خو موږ پرخپل ځان گواهان سو خو ستاسو کسان به موږ درخوشي کوو چې تراوسه پورې ۲۷۰ کسان راخوشي کړل سوي هم دي. تر دې بل غټ ثبوت بل نسته. او ماينونه به پاکوو. دا ټولې غوښتنې هم ايني دي او هم اسلامي دي.

تنظيمي اړخ

پښتون تحفظ مومنټ د پښتونخوا وطن د ټول اولس يو نماينده تحريک دی پدې کې هر هغه څوک که د هرگوند، مکتبه فکر يا پروفېشن سره تعلق لري پدې قامي ولسي پاڅون کې شريک دي. دا غورځنگ پارليماني سياست نکوي خو نور گوندونه هم پارليمان ته د تگ څخه نه راگرځوي. دا تحريک په ملک کې د رواني نسل کشۍ د ودرولو، پښتنو ته دسيال او باعزته ژوندگټلو او پښتونخوا وطن کي د امن راوستلو دپاره پر امنه مبارزه کوي، پر پاکستاني رياست ږغ کوي چې ترهگري پخپله داخله او خارجه پاليسي کې دخپلو شوموسياسي او اقتصادي گټو دپاره د کارولو نه لاس واخلي او پر رياست دمزاحمتي او پرامنه سياسي مبارزې له لارې زور راولي چې رياست د پښتنو ته هغه ټول بنيادي انساني حقوق عملاً ورکړي کم رياست چې پخپل ائين کې د ملک او ټولو شهريانوته د ورکولو ضمانت ورکړی دی. فوج د اولس او ملک چوکيدار دی او ددې چوکيدارۍ په بدل کې فوج د اولس نه معاوضه(ټېکس) هم اخلي خو چې کله چوکيدار په ظالم او قاتل بدل شي بيا د اولس لخوا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکيدارتنقيد کول عين انساني، اسلامي او قانوني عمل دی، فوج که غواړي چې پښتون تحفظ مومنټ دې پر دوی تنقيد نکوي نو فوج او استخباراتي ادارې دې هغه ټولې پاليسيانې ختمې کړي د کمو له جوره چې د پښتنو ژوند تر مرگ او وطن تر دوزخ بدتره کړيدی، دپښتون تحفظ مومنټ دا غوښتنې دې ومنل سي منظور به کراره کور کښېني، د پښتنو د پرخپله خاوره امن او اختيار ورکړل سي نو به منظورکرار کور کښېني دا يه خلاسه.

بل خلگ وايي چې دپښتون تحفظ مومنټ تنظيمي ډانچه ولې نلري بايد چې جوړ کړل سي؟ زه دا وايم کيدای سي زه به غلط يم! چې دا د ټولو پښتنو گډ کار دی دا بايد همداسې گډ پاته سي مانا اوس د سوات جلسه روانه ده که چېرې موږ په سوات کې دا جلسه يو ځوټاکلو کسانو ته په لاس ورکړونو نور ټول دسوات اولس مو له دې ماورا کړ چې بس تاسې خلاس ياست خالي جلسې ته راسئ او چنده راکړئ بس نور ټاکلي کسان پوهيږي کار يې پوهيږي نو دا کار به ډېر نيمگړی وي. دپېښور دجلسې يو وړوکی مثال به درکړم چې کله موږ دپېښورجلسې دپاره باغ ناران ته يو مېټنگ راوغوښتی نو ته يقين وکړه چې د هر گوند او هرې تبقې خلگو پکې گډون وکړئ، بيا چې کله کمېټې جوړې سوې نو تاسې يقين نسئ کولای چې تر کمېټوزيات کار نور اولس پخپله وکړی، دا ځکه چې هرچا دځان کار بللی او شپه ورځ يې يوه کړي وه، که چېرې دپښتون تحفظ مومنټ تنظيمي ډانچه وای نو دا دې پېښور هره کوځه به داسې چا کار نه وو کړی او نه به دومره لويه تاريخي جلسه سوې وای، ځکه چې دا به خالي هغو عهديدارانوکاوی، د يوې اندازې مطابق چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلوېښت زره يې واخلې تر يو لک پورې اولس راغلی وو، د دې مانا دا چې ټولو کسانو ته بلنه ورکړل سوې ده، نو دا په لکاوو کسانو ته بلنه ورکول د يو څو ټاکل سوو کسانو کار ندی نه پسې رسيدلی سي، نو دا معلومه خبره ده چې په زرګونو کسانو کار کړيدی.پښتون تحفظ مومنټ به همدارنګه چې چېرې ځي يا په کوم ځای کې جلسه اعلانوي هم دهغه ځای خلګ به بلا ګونده، پېشې او مذهب کار کوي او پخپلو پيسو به يې کوي. دا ځکه چې د هرې علاقې اولس به دا کار د ځان بولي او زموږ هره جلسه به همدارنګه په لکونو انسانانو باندې مشتمله وي.

زموږ ټولې غوښتنې به د پاکستان د ائين لاندې وي، دپښتون تحفظ مومنټ په جلسه کې به د هرګوند پر بيرغ او ټوپۍ راوړلو پابندي وي. ديوه ګوند يا تنظيم لخوا به هېڅ قسمه بېنر پمپليټ او بل څه راوړل قطعاً نه وي، دپښتون تحفظ مومنټ له سټېجه به اشتعال انګېزه او د رياست په ضد يا بل هېڅ داسه قسمه شعار نه وهل کيږي چې هغه دې د عدم تشدد د نظريې خلاف وي.

په هره علاقه کې چې جلسه يا بله سرګرمي کيږي په هغه علاقه کې به د هغې کمېټۍ نه علاوه چې دهغه ځای د اولس متفقه کمېټۍ چې کم از کم پر درو کسانو خوبه خاماخا مشتمله وي چانده کوي بل که څوک په هغه علاقه کې چانده کوي هم نو هغه به د تحريک ملګري نه وي او نه به يې تحريک زموار وي. او د هغې کمېټۍ چې علاقې اولس يې جوړه کړي او اولس چانده ورکړي نو PTM به يې د هرې روپۍ زمواره وي. او په هره علاقه کې به د هغو پيسو چې اولس يې راکوي ريکارډ ټول پروت وي. که بيا چا د، را او اېن ډي اېس تور لګاوه او يا خپل اولس حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښت چې هغه حساب روپۍ په روپۍ ورکړل سي.

د دې تحریک د هغه ځوانانو چې له سوشل مېډیا سره تړلي دي زموارې جوړېږي هغه که د هرګوند یا طبقې دي چې دا ږغ و هغو خلګو ته ورسوي کوم څوک چې له سوژل مېډیا څخه لیرې وي او تکیه یې پرهغه پاکستاني مېډیا وي چې د دې ټول تحریک یې یوه سرخي او هېډلاین هم نه کتلی او نه اوریدلی وي او د دې دپاره به د کومې جلسې یا مظاهرې یا سیمینار انتظار نکوي. که دا تحریک خالي تر سوشل مېډیا پاته سو نو هغه ټول اولس به موږ له لاسه ورکړو او دوښمن به یې زموږ په ضد استعمالوي لکه د کرمې ایجنسۍ خلګ چې د فرقې پرنامه راپورته کړل او دجنګ ټغر ته یې ورغورځوي لګیا دي او یوه لوړپوړي فوځي و منظور ته ویلي وو چې که دي دا تحریک پرې نه ښود نه به دې نو به دې په خپلو خلګو سر در وکوټم!! که دا کار ونه سو نو چې هر وخت پرتا دا د سوشل مېډیا لار ودرېده نو به دې خوله وازه نیولي وي او وخت به تېر وي، نو راځئ ځوانانو چې تر څو دوښمن دا له سوشل مېډیا لیرې کسان پخپل لاس کې واخلي او زموږ پرضد یې استعمال کړي تر دوښمن له مخه باید موږ دوښمن او دهغه دسیسې ورپېژنو او د ځان ملګري یې کړو. تاسو یې نه وینئ چې ریاست اوس د پاکستان زنده باد تحفظ مومنټ په نامه لګیا دي د ملي پاڅون په خلاف جلسې کوي دا په تاریخ کې اول ځل په نظر راځي چې یو ریاست د اولس خلاف جلسې کوي. ایا دا پښتانه چې د ریاست سره دخپل قام په خلاف لګیا دي دا ولې؟ دا په دې چې دې اولس ته موږ ځانونه ندي رسولي، له دې اولسه موږ لیرې پاته سوي یو او دوښمن مکمل په ننوتلی دی. دا ټول اولس نه دی خرڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو څو ملايان، ګلالیانې او ګلخانان به خرڅ وي دا نور اولس ناخبره دی، دا زموږ دهغو ځوانانوزمواري ده چې په دوښمن خبر وي په دسیسو يې خبر وي او دا چانسونه قامونو له هر وخت په لاس نه ورځي له ډېره وخته پست بيا يوه موقع په لاس راغلي ده، راځئ چې ګټه ترې واخلو او مکان و زمان مطابق خپلې فیصلې وکړو او اولس جانان کړو او اولس ته ورسو او له هرې ستونزې مو هم دا يو اولس خلاسولی سي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قامي تحريكونه او پښتون پرلت

وړانگه" لوڼی"

پر دې پښتنه خاوره بلا تحريكونه چليدلي دي، مغل خلاف، د انگرېز خلاف، په لوی افغانستان كې اول تحريک د پيرروشان وو، دی د مغل خلاف جنگيدلی وو، بيا پيرروشان زوی وجنگيدی، بيا يې نږور وه جنگېده او بيا يې لمسی د مغل خلاف ميدان ته رالی، دويم تحريک د خوشحال خان خټک وو، دريم د ايمل خان تحريک وو، دا ټول تحريكونه د مغل خلاف وچلېدل، دوی هغه وخت په خپله خاوره د بل چا شتون نه منلو، دا تحريكونه تر وخته وه چليدل چې تر اوسه پورې مورږ پرې وياړو او دنيا د هغه سزا راكوي...

له مغلو بعد د انگرېز سامراج حمله وكړه نو د دوی د شړلو دپاره بيا د تحريكونو لړی پيل سوه، دخدايي خدمتگارتحريک باچاخان شروع كړ، بيا ايپي فقير تحريک وو، ترنگزو حاجي صيب تحريک وو، د كاكاجي صنوبرحسين تحريک وو، د ملاپونده تحريک وو، د ورور پښتون او خان شهيد تحريک وو دا ټول تحريكونه د انگرېز خلاف وه چلېدل او داسې په زرگونو پښتانه په ايكړځانو له انگرېزانو سره جنگېدلي دي.

پر دې خاوره هرچا په خپل وخت ننگ كړيدی د قام، خاورې او د اولس د بقا ژغورنه كړېده. په يادو تحريكونو كې دوه تحريكونه داسې دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه دوام لري، دا دوه تحریکونه که څه هم د تحریک په شکل شروع سو خو اوس یې د باقاعده تنظیمي گوندونو شکل اخیستی دی. او مکمل د قام د هرې بربادۍ او وبا ومخ ته لکه سپر ولاړ دي. یو گوند عوامي نېشنل گوند او دویم پشتونخوا ملي عوامي گوند، دا دواړه هغه گوندونه دي چې موږ ته یې هر وخت خپل دشمن را په گوته کړیدی، هغه هر وخت موږ ته د غیرت چغه راپه یاده کړیده، زه چې به سکول ته تلم نو ما به په دیوالونو لیکلي لیدل چې د کابل بربادي د اسلام زمواري، بل ځای به لیکلي ول چې امریکي سامراج مرده باد، بل ځای به ول پنجابي سامراج مرده باد، لر او بر یو افغان، خپله خاوره خپل اختیار نه منو د بل اختیار دا ټول شیان د دغو دوه گوندو برکت دی چې موږ ته یې هر وخت راپه یادول چې زموږ دخاورې او د اولس دښمن څوک دی، دا ټولي خبري د دې قام په لړمون کې پاته سوې دي، دا ټول شیان د دې قام ننگ دی، او دا ننگ نن د یو تحریک په شان راښکاره سو، دا ټول همت، غیرت، ننگ موږ ته په وراثت راکړل سوی دی.

او دلته خلگ لگیا دي وایي چې : منظور اس وقت کها تها، الکه ته زموږ تاریخ ته وگوره د وخت وه هر سیتمگرته یو نه بل منظور ولاړ دی، بس د نوم فرق یې دی. کله چې مغل وهم د دې خاورې غمي د دوی مخې ته ولاړ وو، که انگرېز وو هم د دې خاورې غمي چپ پاتې نسو... او که اوس دا تور ریاست دی هم د دې خاورې غمي یې مخې ته ولاړ دي، که دوی لږ زموږ په تاریخ غور وکړي نو دا تحریک به دومره ناشوده نه ورته ښکاري.

زموږ تېر تحریکونه وچلېدل او ختم سول د هغو لاسته راوړنه دومره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، وختي طور به یې ګتې وې خو مستقله ګټه یې نده کړې، ځکه چې موږ تر اوسه غلامان یو. د دې وجه د دوی نیمګړتیا وه، له دوی سره د دوی نیمه ابادي (ښځه) نه وه ولاړه، دا نیمه ابادي داسې نه وه چې دوی د کار نه وه، خو د پام وړ یې نه وه ګرځولې، چې کله موږ دا نیمه ابادي د پام وړ وه ګرځوو نو تحریکونه به مو د کامیابۍ وړ وګرځي...

ددې نیمې ابادۍ یوه حصه د میوند په میدان راوتلې وه او دهغې ننګ څرک تراوسه په دې اولس کې ښکاري ، دهغې ټپې اوس هم د ځوانانو وینه وه ایشه وي، د ملالې د میوند قیصې او هم تازه دي.

که په میوند کې شهید نه سوې!

خدایګو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتمه

بیا د ژوند تر ډېرو نا انصافیو راتېر سوو، دې پښتنو بیا بل ننګ پیدا کړو، هغه هم پر دې خاوره له خاورې سره تړلو خلکو سره د خپلې مینې له اظهاره پرشا نه سوه، دا که څه هم په عمر کمه وه خو په عقل پخه وه، دا د میوند له ملالۍ دوه پېړۍ وروسته بیا دسوات د ملالۍ په نامه دنیا ته ځان ښکاره کړو، دې د ډایرۍ له لارې پرخپل قام د امن او دپوهې د ژ، ندغوشتنه کړې وه، او دنیا ته یې ورښکاره کړه چې پښتون پرعدم تشدد یقین لري، نه خپل جنګ کوي او نه بل ته د جنګ کولو ټېکې ورکوي، دا ملاله هم د هغې نیمې ابادۍ (ښځې) حصه ده کومه چې تراوسه لیا په انسان نه د شمارل سوې، خو پښتون تحفظ مومنټ په یاد سوي تحریکونو کې بیا بل پړاو دی، هغه د ننګ لاره یې حذف ده، پر خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوره امن غواړي، د خپل اولس سوکاله ژ، ند غواړي، په دې تحریک کې یوه اهمه او نوي خبره داده چې دا تحریک پوره دی. په دې کې هرهغه څوک سته چې قام جوړوي، مطلب نر اوښځه دواړه په دې کې سته، که څه هم د ښځو شمېره کمه ده خو په دې تحریک کې یې شتون سته، د اسلام اباد په پرلت کې د نرانو ترسنګ ښځې هم ناستې وې، که یې څه هم شمېره لږه وه خو ناستې وې، هلته که منظور پښتین وو نو ثناعجاز هم وه. که د نورو ګوندونو مشران ناست وو نو عصماجهانګیر هم ناسته وه، بوشره ګوهر هم وه او داسې ډیرې نورې هم ناستې وې، دا ټولې د پرلت له اولې ورځې بیا تراخري ورځې پورې په ډېر همت سره ناستې وې، بیا چې دې تحریک د جلسو په شکل د هرپښتون کور ته ورتلل پیل کړو، په دې کې دا نیمه ابادي(ښځه) د دوی تر سنګ ولاړه وه، او بیا د کوټې په جلسه کې د ښځو راتګ واقعي هم د کامیابۍ په لور یو مظبوطه قدم ایښودل وو، دقام ریښې ریښې وجود راټولو قسم رښتیا کیدل وو، پردې خاوره په بشپړه ننګ کول وو، او خپل قام پوره کول وو، دقام هره لور ملاله ده، خوهغو ته د ضیاوالدین ضرورت دی. بس هغو ته ستاسو لاسنیوی په کار دی، ستاسو ښه فکر پکار دی، ستاسو ډاډګیرنه ورته پکار ده، تاسوخپلو لوڼو، خوندو، مېرمنو ته په ټولنه کې برخه ورکړئ بیا به تاسو دملالو په شمېرلوستړي شئ.

د پښتون تحفظ مومنټ دجلسو لړۍ لیا دوام لري اوهغه د پښتنو وه هرې سیمې ته ځي له کوټې بعد د پېښور جلسه وسوه، زما په نظر دا دپښتنو د تاریخ اوله جلسه وه چې په دومره غټ تعداد باندې ښځې راغلي وې او دمنظورپښتین ټوپۍ یې پر سر وې، د پېښور جلسې د تحریک د کامیابۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې نورې هم هوارې کړې، دپېښور جلسې دکامیابولو په خاطر له نرانو سره ښځو هم کار کاوو، هغه لکه ثناعجاز، دثنا چې سومره ستاینه وشي هغومره به کمه وي، په جلسه کې یې د ښځو د راتګ لپاره شپه او ورځ یوه کړي وه، په جلسه کې د پېښور د ښځو سره د سوات ، دبنو، د چارسدې او دسوهیلي پښتونخوا ښځو هم ګډون درلودۀ د پېښور په جلسه کې داسې خوندو، میندي او مېرمني هم وې د چاچې ورور، زوی او خاوند له کلو راهیسې ورک ول، دلته یې ددې تحریک له لارې د خپلو مینانو غوښتنې کولې.

د اتم اپرېل د جلسې یوه شپه له مخه یوه سپین سرې او یو سپین ږیری چې په ورک زوی پسې جلسه ګاه ته راغلو او هلته یې له ځوانانو څخه پوښتنه وکړه چې، زویه هغه ورک خلګ چې پیدا کوي هغه جلسه چېرې کیږي؟ ځوانانو ورته ویل چې مورې هم دلته به وي هو سبا سهار ، تاسو اوس کور ته ولاړ سئ سهار راسئ، سپین سرې ورته په ستړي اواز وویل ځویه مورې خو کور نلرو چیرې ولاړ سو، مورې خپل زوی پسې ګرځو کور مورې نلرو، دې خبرې په جلسه ګاه کې موجود ټول ځوانان وژړول، داسې په زرګونو خلګ راغلي ول چې مئین یې له کلو راهیسې ورک وو او دلته یې د خپلو مینانو غوښتنې کولې.

د پښتون تحفظ مومنټ سره خلګ ټول د دې درده راټېر سوي او ټول بې کوره سوي خلګ ملګري دي. په دې کې مهم او قدرمن سړی علي وزیر دی، چې د هغه د کور شپاړلس کسان په ډېر جبر وژل سوي دي او دپوښتنې خلګ یې نه وو، د خواشینۍ خبره خو دا ده چې د علي وزیر مور د خپلې کلا دروازه کښلې ده او خالي پړده یې په ټال کړېده، دا وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نور به څوک ماله دروازه نه راټکوي ځکه چې مخکې چې هر وار ماته چا دروازه راټکولي ده ما چې دروازه خلاسه کړیده نوما کله یوه او کله شپږ جنازې رادننه کړیدي اوس مې په کور کې یو علي وزیر پاته دی، کم از کم د علي وزیر جنازه به د دروازې په ټکیدلو نه راځي!!! جنازه راوړل دومره زور نه غواړي لکه ټکیدلي دروازه خلاسول.

د داسې ځوریدلي قام خدمت چې اوس موږ ونکړو بیا به یې څوک کوي، منظور پشتین که د خپلو نړیدلو کورونو حساب غواړي، که پښتنو ته دخوشالۍ ژوند غواړي، نو په دې کې موږ ټول پښتون اولس له ده سره سنګ په سنګ ولاړ یو، دخپلو وینو، د شهیدانو، د وسایل، د نړیدلو کورونو حساب غواړو او دا حساب به ریاست خاماخا راکوي.

موږ به هم خپل کار داسې دوامدار ساتو تر څو چې زموږ پر خاوره امن نه وي راغلی.

که په ځوانانو پوره نسوه

ګرانه وطنه جینکۍ به دې ګټینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په بني گل کې ژوند دی

خان زمان "کاکړ"

هلته د مقاومتي او احتجاجي سیاست پاخه روایتونه ژوندي دي.

هلته د وطني چاچا، سالار یعقوب خان، رحمزادخان او په سلگونو خدایي خدمتگارانو خاپونه په هره کوڅه کې پر هره لاره پاته دي.

هغه سپین ږیری عبدالصمد چې ورته ویل یې" فضل غفوره! تسلیم شه، په یوه گهنټه کې دننه تسلیم شه، په دې کې د خیر دی" دا د خدایي خدمتگارانو پر پله د روان سړي ږغ وو، دا د عوامي نېشنل گوند د بنو ضلعي صدر ږغ وو.

د بنې گل د ځوانانوقامي جذبې چې د بنې گل ماځیگری د ژنړکیتوب د علامتي هارونو په شان جوتې شوې، پاکستانی ریاست وارخطا شو.

"لمبر ون " د بني گل د ژنیو له قامي ولولې په ډار شو.

"لمبر ون " ته بنې گل نمبر ون چېلنج ورکړ.

بنې گل په قامي ننگ کې نمبر ون وخوت.

د نمبر ون بنې گل په شا نمبر ون وزیرستان ولاړ وو او ورته ویل یې:

گوره چې وار د خطا نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گلو څانگه دې پر سر ولاړه یمه

د بنې گل د پې تې اېم کارکنان نن په زندان دننه دي. د څومره لوی جرم په تور دننه دي. ریاست وربانديې مقدمه کړې او پکې لیکلي یې دي چې دې خلکو د ترهگرۍ غندنه کوله او امن یې غوښت.

کامرېډ سلیم امن غوښت.

سعید وطنیار امن غوښت.

ندیم عسکر امن غوښت.

بخت نیاز اېډوکېټ امن غوښت.

حنیف پښتین امن غوښت.

زه د چا چا نوم ولیکم؟ زه به څومره نومونه ولیکم؟ خو ټول بنې گل امن غوښت. په جلسه کې حاضرو پنځوس زره پښتنو امن غوښت.

په بنې گل کې پنځوس زره پښتنو جنگ ریجکټ کړ.

پنځوس زره پښتنو د جنگي اقتصاد د پالیسۍ غندنه وکړه.

پنځوس زره پښتنو د ښو او بدو طالبانو توپیروغندلو.

پنځوس زره پښتنو نقاب پوش او برقعه پوش مسترد کړل.

پنځوس زره پښتنو په خپله خاوره د خپل اختیار غوښتنه وکړه.

پنځوس زره پښتنو نعره بازي وکړه:

یه جو دهشت گردي هې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اس کی پیچھې وردي هې

یه جو نامعلوم هې

یه همین معلوم هې

پنځوس زره پښتنو نعره بازي وکړه:

نر پښتون باتور پښتون

منظورپښتون، منظورپښتون

نر وزیر زخمي وزیر

علي وزیر علي وزیر

او بله خبره دا ده چې ریاست ته اوس بیخي پته لګیدلي ده چې پښتون قام اوس د خپل سرنوشت ټاکلو دپاره راپاڅیدلی دی او اوس پدې پوهیدلی دی چې" حق غوښتل کیږي نه بلکې اخیستل کیږي".

پر خپلو متهو داعتبار وخت دی.

دپاڅون فصل تیار دی.

د نوي وخت له غوښتنو سره سم او خپلو وړتیاوو او صلاحیتونو سره سم د بنو پر قرارداد هم خبره کیدای شي، له ریاست سره دپښتنو د تعلق وضاحت هم غوښتل کیدلی شي او دمحکوم پښتون وطن کېس د افغانستان د اوږدې غمیزې په تناظر کې داسې هم کتل کیدلی شي چې یو شریک نجات ته د لارې په هوارولو کې راسره مرسته وکړي. دا په دې هم چې په محکوم پښتون وطن کې روان جنګ د پاکستان د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسۍ یوه برخه ده.

قبایلي سیمې له پښتونخوا سره دانظمام د اعلان باوجود اوس هم د یو ډبل بفر زون او ایډیشنل بفر زون په توګه استعمالیږي. ایف سي آر لره یې تش نوم بدل کړیدی.

دانظمام پروسه باید جمهوري او معنی خېزه وګرځول شي ګنې ریاست به تاوان وکړي ځکه چې قبایلي سیمې اوس په سیاسي او نظریاتي لحاظ له پښتونخوا سره ضم شویدي.

پې تې ای‌م منځته راغلی دی. په بنو کې پنځوس زره پښتنو پخپل منځ کې هر ډول جغرافیوي او قبیلوي کرښې ورانې کړې وې او دیو متحد قام په توګه د خپل قامي تشخص او پایښت د خوندیتوب دپاره راوتلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریکونو فطرت او پښتون ژغورنه غورځنګ

ارشد ناصر وزیر

د نړۍ په معلوم تاریخ کښې چې کله هم د تحریک یا غورځنګ په نوم اولسونه راپورته شوي دي نو د هغې فطرت کښې درې څیزونه ډېر مهم وي: اول دا ــــ چې دا د اولس یا قام د محرومیو تسلسل چې کله نقطه عروج ته ورسي نو یوه نه یوه واقعه یا پېښه یې بهانه وګرځي ، په کومه چې اولس یا قام د طوفان په شکل کښې راپاڅي او ظاهري موخه یې د هغې یوې واقعې یا پېښې یا ستونزې د هوارۍ مطالبه وي خو په پس منظر کښې یې هغه ټولې محرومۍ شتون لري چې دا اولس یا قام ورسره مخ پاتې شوے وي او د ظاهري ستونزې سره سره سم یې ذد خپلو مستقلو محرومیو احساس هم په نظر کښې نیولے وي ـ دویم دا ــــ چې د کومې ظاهري ستونزې یا پېښې په ترځ کښې چې تحریک یا غورځنګ راپورته شوے وي ، د هغې متاثرین د پوره اولس یا قام څه مخصوصه برخه وي ـ ولې د دغې مخصوصې برخې سره په تحریک یا غورځنګ کښې پوره اولس یا قام ځکه اودرېږي چې دوي پکښې د خپلو مستقلو محرومیو هوارې یا د خپلو مستقلو ګټو لټون کوي ـ دریم دا ــــ چې د تحریک سر لښکر دا نۀ ګوري چې ما سره څوک ولاړ دي او د څه د پاره ولاړ دي؟ بلکې دوي صرف خپل افرادي قوت وربانديې زیاتوي ـ نۀ د تحریک سره ولاړ اولس د پاره دا سوال مهم وي چې تحریک د څه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره شروع شوے دے؟ بلکې دوي خپلې ګټې پکښې ترلاسه کول غواړي ـ د تحریک سر لښکر دا سوچ نه کوي چې څوک د کومې قبیلې ، کوم تنظیم یا کوم ګوند سره اړه لري یا یې په لاس کښې کومه جنډا نیولې ده ـ دارنګې کوم تنظیم یا ګوند دا سوال پورته کوي چې د بل تنظیم یا ګوند جنډا پکښې ولې شتون لري ـ دا درې مهم توکي چې په کوم تحریک یا غورځنګ کښې موجود وي نو ورته فطري تحریک وئیلے کیږي ـ په دغه تناظر کښې چې مونږ پښتون ژغورنه غورځنګ ته ګورو نو عین فطري تحریک یا غورځنګ یې ګڼلے شو ـــ البته که چرته د پي ټي ایم سرلښکر یا سرلښکرانو دا بندېز نۀ وے لګولے چې زمونږ جلسو جلوسونو یا پرلتونو ته نورې جنډې مه راوړئ نو زما خیال دے چې دې کښې به د زیاتو جنډو ریپولو د زغل په ترخ کښې به د غورځنګ په افرادي قوت کښې نوره هم اضافه شوې وے او د غورځنګ به نور هم خپل فطرت ته نزدې شوے وے ـــ اوس هر کله چې په نورو جنډو د بندېز خبره راغله نو د نورو جنډو خاوندانو ته پکښې د ځان د ورکېدو خطر محسوسېدے او په پي ټي ایم یې د یوې بلې جنډې لاندې د یو نوي تنظیم یا ګوند شک کېدے شي ـ که څه هم پي ټي ایم په اوسني شکل کښې هم ښه کامیاب او موثر دے ، خو که د جنډو دغه بندېز یې نۀ وے لګولے نو د دې کامیابي او اثر نور هم زیاتېدے شو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پي ټي ایم، روایتي ملتپاله ګوندونو ته ګواښ دی، زورور ځواکونو ته او که دواړو ته؟

ندیم"عسکر"

هغه کوم حالات وو چې پي ټي ایم یې پیدا کړ؟

دغه سوالونو ته د پښتون قومي سوال په پراخ تناظر کې کتل پکار دي .

پاکستان کې دننه د پښتنو ملتپاله سیاست، په جغرافیایي یووالي، د ژبې او کلتور د پرمختګ د پاره مناسب او ضروري ګامونه، په شتمنئیو خپل واک او سیاسي واک او اختیار، غوندې نکتو باندې راګرځي. دا نکتې څرګندوي چې په دا هیواد کې د پښتنو ژوند ژواک له څنګه ګواښونو سره مخامخ دی.

همدا معروضي حالات وو او دي چې د پښتنو دوه ملتپاله ګوندونو پکې وده وکړه او اولس کې یې ریښې پخې کړې.

بیا څه وشو چې د اولس لویه برخه له دغو دواړو ګوندونو څخه لیرې شول، لا لیري کیږي او پي ټي ایم ته نیږدې کیږي.

زما په نظر لاملونه یا وجوهات څه داسې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه ځوانان له یوې خوا د ریاست څخه پردي او ترټل شوي وو، له بلې خوا په روایتي ملتپاله ګوندونو کې د دوی د پاره هیڅ ځای پاته نه وو. د دوی غږ چا نه اورېدلی. پې تې ایم دوی ته ستېج په لاس ورکړی او دوی د ښه صلاحیت اظهار وکړ.

د آبادۍ لویه برخه د ځوانانو ده او دوی ښه تعلیم یافته دي. په روایتي سیاسي ګوندونو کې لیډرشپ آوټ ډېټډ او یا هم نیم خوانده دی. د دوی او ځوانانو تر منځ د دوو نسلونو واټن دی. دوی و نه توانېدل چې ځوانان پوه کړي او یا د دوی په غوښتنو ځان پوه کړي.

پې تې ایم د لوړو زدکړو خاوندان او پوهان ځوانان را وړاندې کړل چې هغوی په اولس کې ښه نوم و ګټلی .

دوی به د هیواد د رسنئیو د ناروا عمل، کوربېج نه ورکولو نعرې خو ډیري وهلې خو متبادل ذریعه ټولنیزې رسنۍ کارولو صلاحیت یې نه درلود. پې تې ایم په ډېر ښه ډول ټولنیزې رسنۍ و کارولې او خپل غږ یې د نړۍ هر کونج ته و رسولی. دا صلاحیت ځوانان، ځان ته جلب کړل.

پې تې ایم په ډېر لږ وخت کې ښه لاس ته راوړنې ولرلې. چې یوې خوا ته یې اولس په خپل زور او توان باوري کړل، بلې خوا ته یې روایتي ملتپاله ګوندونه شکي کړل چې څرګندونې یې موږ اورو.

منځنۍ پښتونخوا، یا ټرائبل ایریاز کې څه بدلونونه داسې وشو چې منظر یې بدل کړو لکه ترهګري، د خلکو بې کوره کېدل، د نړیوالو مرستو خلکو ته هیڅ ګټه نه رسېدل، تولنېزو رسنئیو په واسطه له نړۍ او خپل قامي وګړو سره ټینګ تړون، په مېن سټریم سیاست کې فعاله برخه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاټا مرجر او په پای کې د دوی خپل سیاسي غورځنګ داسې فېکټرز دي چې پي ټي ایم یې برلاسی ساتلی.

د دغه عواملو اثرات یواځې د منځنۍ پښتونخوا په پښتنو نه بلکې د پاکستان مېشتو ټولو پښتنو په اجتماعي نفسیات پرېوتل. دوی ته دا وېره ولوېده چې ریاست هیڅ بې هیڅه دوی بې کوره کولای او وژلای شي او څوک به یې د پوښتنې او لاس نیوي نه وي.

دغه وختونو دوی په خپل روایتي لیډرشپ بې باوره کړل او دوی د یو داسې سازمان یا غورځنګ کمي په بشپړ توګه محسوس کړه چې د دوی ژغورنه په نره، په ډاګه او مؤثره توګه وکړي. او پي ټي ایم دا کمي په ښه توګه پوره کړه.

د پي ټي ایم مشرتابه د علاقایي او نړیوال صورتحال هم ښه ادراک کړی ځکه په خپل دریځ کې زیات وضاحت، څرګندوالی او د مقاومت روحیه لري.

پي ټي ایم تر اوسه د بېخي ډېرو ستونزو باوجود کلک پر میدان ولاړ دی. که همداسې و دریږي نو په راتلونکي کي به نه یواځې پښتون ملتپاله سیاست را ژوندی شي بلکې نور محکوم قامونه به هم خوځښت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتانه د ویښېدو په درشل کې

فریدالله"تړاو"

کله چې د هند نیمه وچه او پښتني سیمې د انګرېزانو تر استعمار لاندې وې او د پاکستان وجود منځ ته نه و راغلی، د باچا خان په مشرۍ په پښتنو کې د لومړي ځل لپاره د پښتنو د حقه حقونو ترلاسه کولو لپاره د عدم تشدد مبارزه پیل کړه چې د خدایي خدمتګارو تحریک په نوم یادېدل. په پښتنو کې د عدم تشدد مبارزې پیل د انګرېزانو لپاره د خطر زنګ و، انګرېزان پر دې پوهېدل چې دا د عدم تشدد مبارزه له وسله والې مبارزې زیاته خطرناکه ده نو هغه و چې انګرېزانو به هر ځای د دوی د فعالیتونو مخه نیوه او له ډول ډول ستونزو سره به یې مخ کول او حتا وژل به یې چې د دې مبارزې سرلاري باچاخان ډېرۍ کلونه په جېل کې تېر کړل؛ ګناه یې دا وه چې غفار خان غوښتل پښتانه د نړۍ له نورو قومونو سره سیال کړي، له بې اتفاقۍ او تربګنۍ څخه یې د اتفاق او اتحاد پر لور سوق کړي او د علم په وسله یې سمبال کړي څو د علم په واسطه د دښمن مقابله وکړي. غفار خان له ډول ډول ستونزو سره سره بیا هم مقاومت کاوه څو له دغه حالته پښتانه را وباسي، بل لور ته په هندوستان کې هم د عدم تشدد مبارزه پیل شوه او د هند لویو تجارانو به له مهاتما ګاندي سره د خپلواکۍ اخیستلو لپاره نغدي مرسته کوله، حتا ښځو به یې خپل ګاڼه (سره زر) د مرستې لپاره ورکول څو د خپلواکۍ دغه یون روان وساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و چې له ډېرې اوږدې مبارزې وروسته انګرېزانو هند ته ازادي ورکړه خو په دې شرط چې ځينې سيمې به ترې بېلوي او د اسلام په نوم به د مسلمانانو بېل دولت تاسيس کوي، هغه و چې د اسلام په نوم يې پاکستان رامنځته کړ څو په راتلونکي کې د بيا لپاره د انګرېز د قدم ځای پيدا شي او ګټې يې خوندي کړي. انګرېزان چې د پښتنو سرسخت دښمنان دي او نه يې غوښتل چې خپلواک و اوسي بيا يې هم پښتانه د منافق پنجاب او د انګرېز جناح تر لاس لاندې يوې بلې کندې ته ورټېل وهل، خبره را لنډوم، په افغانستان کې د روس او د وخت افغان حکومت په مقابل کې امريکايانو او پنجابيانو افغان جهادي مشران د خپلو شومو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره مستقيم او غير مستقيم وکارول چې په هغه وخت کې به هم غفار خان پښتنو ته نارې وهلې چې روان جنګ د روس او امريکې جنګ ده او قرباني يې افغانان دي، ده د جهاد دغه بهير ته هم د شک په سترګه کتل خو هغو پښتنو چې په جهاد کې يې برخه لرله او ملاتړ يې کاوه، د غفار خان غږ يې نه اورېده او د پرديو روزل شوو اجنټانو تر شا روان و او د هغوی په قومانده يې پردی جنګ ګاټه او د ويتنام وار يې په افغانستان کې ورته اخيست خپله يې ګټه ونه کړه خو د خپلو وينو ثمره هم بل چا ترې يووړه او تر اوسه پورې د دغه جنګ ګټه هم بل ته ځي، يوازې خس او خاشاک د دغه جنګ پښتانه دي او د خپل ځان په وژلو يې دغه اور بل ساتلی؛ ځکه وژل کيږي پښتانه ځوانان، کونډې کيږي پښتنې ښځې، يتيمان کيږي پښتانه بچي، د دغه جنګ هره بده د پښتنو په برخه ده، دا ځلوېښت کاله پنجاب ادارې په لر او بر پښتون سيمو کې پښتون وژنه روانه کړې ده، دا ځلوېښت کاله دومره څوک نه وو چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې یې غبرګ پورته کړي او د پنجاب له دسیسو پښتون قوم خبر او را بیدار یې کړي او اصلي دښمن ورته په ګوته کړي چې زموږ اصلي دښمن پنجاب دی، نه بل څوک، که په چا کې به یې د غبرګ پورته کولو هڅه او توان ولیده، نو په یو او بل نوم به یې وژل، خو اخر هم د صبر کاسه ډکه شوه او د نقیب الله محسود وژنې په پښتنو کې د غچ او خپلواکۍ سکروټه جل کړه، نږدې ده چې دغه جل په اور بدل شي او پنجاب لولپه کړي، هر چا غوښتل چې پښتون قوم د پنجاب له تورو منګولو خلاص کړي خو چا دغه جرئت نه کاوه، د یوه او بل په تمه یې شپې او ورځې سبا کولې، خو نن داسې ورځ راغلې چې خدای ج دا پېرزوینه په منظوراحمد پښتون، خان زمان کاکړ او محسن داوړ وکړه چې د پښتون ژغورنې په نوم یې د پنجاب پر ضد غبرګ پورته کړ او د پښتنو له تود هرکلي سره مخ شو، اوس په لکونو غبرګونه پر یو غبرګ بدل شوي او د پنجاب له لعینې ادارې څخه د وژل شوو پښتنو پوښتنه کوي او ورک پښتانه پرې را پیدا کول غواړي، پر ضد یې پراخ لاریونونه ترسره کړل. پښتانه نور په خپلو سیمو کې د تپل شوي جنګ له منځه وړل غواړي، پښتانه د ښه ژوند حق غواړي، تعلیم او سوله غواړي نور نو زغم پای ته رسېدلی او پښتانه به د هر څه پوښتنه کوي، د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښان باید اوس په ولس کې د اتفاق او اتحاد لپاره کار وکړي، د دغه تپل شوي جنګ اصلي لوبغاړي ور وپېژني، ګټه، تاوان، دوست دښمن باید هر څه ورته روښانه کړي، د ولس په منځ کې باید فکري او شعوري کار وکړي او سیاسي شعور یې لوړ کړي او د ولس درېدلي ماغزه او فکرونه باید په حرکت راولي، څو ټول پښتون ولس په یوه صف کې ودروي او پنجاب باید پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پوه شي چې پښتانه کله هم د ظالم پر وړاندې را جګ شي، خامخا يې د ظالم ګرېوان ته لاس لوېږي او څو برابره غچ اخلي، انشاء الله نور د پنجاب شوم اهداف خنثی کېږي او د پښتون ژغورنې دغه حرکت پسې سپين سبا راتلونکی دی، پښتانه به خپلو تاريخي رواياتو او تړاوونو ته په کتلو سره د خپل برخليک پرېکړه په خپله کوي او له دغه حالته به ځان را باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو سل او پينځويشت کاله وشو چې د ډيورنډ کرښې پښتانه وېشلي دي

بهروزخان

يو سل او پينځويشت کاله وشو چې د ډيورنډ لانجمنې کرښې پښتانه په لر او برکې وېشلي پراته دي. پاکستان دغه کرښه رسمي او د افغانستان اولس او مشران يې فرضي کرښه بولي. په دولسم نومبر کال ۱۸۹۳ کې د برطانوي هند په نمايندګۍ د سر موتمر ډيورنډ او د افغانستان د پاچا عبدالرحمان خان تر منځ په رسمي توګه پرېکړه شوې وه چې د ډيورنډ کرښه به د دواړو هېوادونو پوله وي. افغان تاريخ پوه او دانشور حبيب الله رفيع وايي د ډيورنډ د کرښې په رسمي توګه منل کوم ليکلی سند نه لري او دا چې د انګريز سره په غير رسمي توګه دا کرښه منل د کمزوري پاچا عبدالرحمان خان مجبوري وه. په يو وخت په شمال کې د زار روس نه خپلې پولې ساتل او په شرق کې د غزيدونکي برطانوي هند سره ډغره وهل عبدالرحمان خان ته ډېره ګرانه وه نو ځکه يې هم د برطانيه سره عارضي سودابازي وکړه. په پاکستان کې هم يو شمير قام پاله سياسي ګوندونه د ډيورنډ کرښه د انګرېز د پښتنو د ويشلو پلمه بولي خو د ډيورنډ په کرښه د ښکاره دريز د خپلولو نه ډډه کوي. د پښتنو د مقبول غورځنګ پښتون تحفظ موومنټ دريز خو نيغ په نيغه د ډيورنډ په کرښه نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګند شوی خو په لویو لویو جلسو کې د لر او بر یو افغان چغه وهي. د افغان پاچا امان الله خان د انګریز نه په نولسم اګست کال ۱۹۱۹ کې د افغانستان د استقلال واګي په مستقمه توګه اخستل د افغانستان د ازادۍ په معنا ګڼل کیږي خو په اصلیت کې د اګست په نولسمه نیټه د برطانوي هند د هېواد د خارجه چارو اختیار بیرته ګټل وو چې د عبدالرحمان خان له وخته د انګریز په لاسو کې و. په کال ۱۹۴۷ کې د پاکستان د جوړیدو نه وروستو د ډیونډ د کرښې د یوې غاړې د پښتنو واکمن پاکستان او د بلې افغانستان وګرځېدل. د ډیورنډ کرښه عملي پوله پاتې نه شوه کله چې روسي ځواکونه افغانستان ته ورغلل او پاکستان چې امریکا او د نړۍ نورو هېوادونو په ملاتړ، په لکونو افغانانو ته بغیر د بندیزونو پاکستان ته د راتللو لار پرانستله. ددې خبرې ورستو او بیا د ټول افغان جنګ په وخت کې د ډیورنډ د کرښې هیڅ بین المللي اهمیت پاتې نه و او پاکستان ته چې کوم افغانان د کډوالو په توګه ورغلي وو د هغوی نه مجاهدین جوړ کړل شو او په اسانه د ډیورنډ په دواړه خواو یې تګ راتګ کولو. دا کار د طالبانو په دوره کې نور هم اسان و ځکه چې طالبانو د خپل امارت بنیاد داسې ایښودل غوښتل چې د هغوی د مفکورې تر مخه د مسلمانانو په منځ کې پولې نه وي. خو څېړونکي وایي دا هم د پاکستان یو منصوبه وه چې د افغانستان اختیار یې په مستقیمه توګه په خپل لاس کې اخستل غوښتل. د طالبانو د دورې نه لا ډېر مخکې ډاکټر نجیب الله په وار وار ویلي وو چې پاکستان ترې د ډیورنډ د کرښې په رسمي توګه د منلو غوښتنه کوي. ډاکټر نجیب الله ته د هغه پلویان د ډیورنډ د کرښې شهید هم وایي. د عوامي نیشنل ګوند مشر اسفندیار ولي خان وایي د پاکستان د داخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو پخواني وزير نصرالله بابر ورته ويل چې يو ځل يې د طالبانو د مشر ملا عمر سره په قندهار کې ليدلي وو او د ډيونډ د کرښې په رسمي توګه د منلو غوښتنه يې ترې کړې وه چې د ښاغلي بابر په وينا، ملا عمر پرې ډېر بد منلي وو. د پاکستان د دوه پښتون پاله سياسي ګوندونو عوامي نيشنل پارټي او پښتونخوا ملي عوامي پارټي دريز دی چې د ډيورنډ د کرښې فيصله به د دواړو خواو اولسونه کوي. د افغانستان پخواني صدر حامد کرزی د خپلې دورې په اخر کې دا دعوه کړې وه چې د پاکستان سره يې د هېواد اړيکې ځکه سمې نه شوې چې پاکستان د ډيونډ کرښه ورباندې په رسميت منل غوښتل او ښاغلی کرزی وايي د پاکستان د دغې غوښتنې منلو ته کله هم تيار نه و. د افغانستان د اوسنې صدر ډاکټر اشرف غني دريز هم د نورو افغانانو نه بدل نه دی او وايي د ډيورنډ لانجمنه کرښه د حکومتونو د وس خبره نه ده ځکه چې د ډيورنډ د کرښې د منلو او نه منلو اختيار يواځې د کرښې دواړه خواو ته پراته اولسونه کولی شي. که يو خوا د پاکستان د پوځ مشر جنرل ضيالحق په وخت کې د ډيورنډ کرښه د افغان جهاد په نامه له منځه وتلې وه نو نن يې د پاکستان پوځې چارواکي لکه د برلن د ديوال په شان په ازغن تار او د وسپنې په جنګلو تړي. په وسني پاکستان کې د انګرېز د وخت پاتې دوو شخړو ته په بيل بيل نظر کتل کيږي ځکه چې د پښتنو په تقسيم ډيورنډ کرښه مستقيم سرحد غواړي خو د کشميريانو تقسيم نه مني او د هند سره ګډه پوله د لاين اف کنټرول په نوم يادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتانه باید څه وکړي؟

دیدار"وزیر"

د کوم وخت نه چې د پښتنو جغرافیایي وجود مات شویدی له هغه وخت نه ترننه پورې پښتانه د زوال سره مخ شویدي، هره لسیزه یې په غمیزه بدله شویده، د نړۍ د هر زورواکي د ستم په اسانه ښکار شویدي، په داسې وخت کې چې قامونه د عروج په لوري مزل کوي بدبختانه پښتانه د زوال پر لور روان دي.

که یو لور ته د ژبې د زوال سره مخ دي، ولې بل لور ته د کلتور په ژغورنه کې بشپړ بریالي ندي.

که یو لورته د نړیوال سیاست سره غاړه غتې ندي، ولې بل لور ته د مشرتابه (لیډرشیپ) د فقدان سره مخ شویدي.

دپښتون افغان وطن د تقدیر فیصلې د اغیارو په لاس کې دي، په پنځه شپېتو ۶۵مېلیونه نفوس مشتمل قام د خپل راتلونکي فیصله خپله نشي کولای، څوک یې د وطن په لوټلو صرفه نکوي، څوک یې ژوند په نه بیه اخلي او پلوري، څوک یې په ژبه، تاریخ، کلتور، سیاست ملنډې وهي او څوک یې د عزتونو په لیلام کولو بوخت دي...!!! لاملونه یې څه دي؟

داسې کومې نیمګړتیاوې دي چې دا دومره لوی قام د خپل تقدیر واګې اغیارو ته په لاس کې ورکړیدي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خیال لاملونه (وجوهات) یې ډېر واضح دي.

لومړی : بشپړ قام د نړیوالې سیاسي بیانیې سره اشنا ندی. مطلب دا دی چې پښتنو تر اوسه داسې سیاسي مرکزیت پیدا نکړ چې هغه دومره سیاسي ویژن ولري چې د نړیوال سیاست سره خپل نظر شریک کړي، تش د یوې محدودې جغرافیې د سیاست په خوله کې بند دي.

نه خو زموږ سیاست د نړیوالو قوتونو دمفادو د خیال ساتلو په لړ کې د خپلو مفادو تحفظ کړیدی او نه زموږ سیاست دومره تر اوسه قوي شو چې د نړیوالو قوتونو نظر او همدردي پښتون قام ته متوجه کړي.

لنډه دا چې زموږ قامي سیاست کمزوری دی، دخپلو قامي مفادو دفاع په نړیواله سطحه نشي کولای.

دویم: زموږ د ټولنې زیاته برخه قبایلي ده، دقبایلي ټولنې کړه وړه هم داسې وي چې سیاسي شعور نه بې برخې وي، کوم قام چې اجتماعي شعور ونلري د هغه قام د تقدیر واګې به دبل چا په لاس کې وي.

قبایلي ټولنې د خپلو کرختو روایاتو په تقدس یقین ساتي، نه خو د نړیوال سیاست د رموزو نه خبر وي او نه دجغرفیایي حدودو د سیاسي کړلېچونو نه خبر وي، د داسې ټولنې وګړي ډېر په اسانه د اغیارو د مفادو د قربانۍ ښکار کېدلی شي.

دریم: مذهبي جنونیت زموږ د ډېرو ستونزو لامل دی، د ټولې اسلامي نړۍ په پرتله زموږ په ټولنه کې مذهبي جنونیت زیات دی، که سیمې ته بغدادي پیر راغلی موږ پرې بشپړ باور کړیدی، که د امریکا په نبراسکا پوهنتون کې د سرمایې د زیاتولو په لړ کې چېرته مذهبي، جهادي لټرېچر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلی شویدی موږ د زړه د تله ورته هرکلی ویلی دی.

د دغه مذهبي جنونیت په خورولو کې هم زموږ د سیاسي مرکزیت نشتون وجه ده، که چیرې زموږ سره داسې یو مظبوط سیاسي مرکز وي چې د نړیوالو سیاسي مفاداتو سره یې د خپلو قامي مفاداتو اشتراک په بنّ ډول مړی وي، بیا به زموږ پښتنه ټولنه د داسې مذهبي جنونیت سره مخ نه وای د کوم مذهبي جنونیت مثال چې په ټوله نړۍ کې نشته.

## د قام د روښانه راتلونکي لپاره څه کول پکار دي؟

## پښتانه باید څه وکړي؟

پدې لړ کې پښتانه باید شریک یو سیاسي مرکزیت ولري، یو داسې شریک سیاسي مرکزیت چې د جغرافیایي حدودو له کړو وړو سره سره د نړیوال سیاست سره هم خپل اواز همغږی کولای شي، د ټړیوالو قوتونو د مفادو د خوندیتوب په لړ کې خپلې قامي ګټې هم خوندي کولای شي، دغه شریک قامي سیاسي مرکزیت به دسیمې او نړۍ په سیاسي بدلونونو کې خپله ونډه اخیستی شي.

د ٦٥مېلیونه نفوس په شمېرقام د دې جوګه کولای شي چې د خپل تقدیر واګې پخپل لاس کې ونیسي، نړیوال قوتونه خپل پروګرامونه چلوي، که څوک ژاړي او که خاندي پښتون افغان وطن به د نړیوالو د مفادو لوبغالی ضرور وي.

د نړیوالو د هرې اقتصادي، معاشي، جنګي او سیاسي پالیسیو دپلي کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډگر به پښتون افغان وطن وي.

د شریک سیاسي مرکزیت گټه به دا وي چې هغه به حالاتو په نبض گوتې کیږدي دا به وگوري چې څنگه کولای شو چې دغه خوني حالات په دوستانه طریقه سره د قام په گټه راولم.

مثال: اوس مهال پښتون افغان وطن زما په لاس کې وي زه به د نړۍ بادار تصور کیږم.

د چین او روسیې د اقتصاد مخه به هم ددغه څلور لاري(پښتون افغان وطن) په ذریعه نیسم چین او روسیه غواړي چې ددغه پښتون افغان وطن په ذریعه به زه خپل اقتصاد ته پرمختگ او دوام ورکوم.

اوس که زموږ سره یو شریک سیاسي مرکزیت موجود وي بیا داسې کیدلی شي چې په دغه خوني کشمکش کې د قامي ، اجتماعي گټو خیال به په ښه ډول وساتلی شي او که موږ داسې د سیاسي انتشار سره مخ یو نړیوال به بیا هم خپل پروگرام وچلوي، موږ به پکې د قربانۍ گډوري وو، پرته له لوی زیان څخه به هیڅ قامي گټه ونکړو.

اوس پکار ده چې پښتانه د یو شریک قامي سیاسي مرکزیت د رامنځته کولو په لړکې شریک گامونه پورته کړي.

نړیوال سیاسي، جغرافیایي بدلونونه او چلونه مو پر سر ولاړ دي، موږ چې څومره هم سستي کوو هومره به د قامي تباهۍ سره مخ کیږو، اوس باید پښتانه پدې فکر وکړي چې که زموږ قامي گټې له امریکې سره تړلي وي، بیا چې د امریکې ملاتړ په نره او مشروط ډول وکړو، که د چین سره تړلي وي بیا باید د چین او روسیې سره خپلې قامي ستونزې او قامي گټې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث لاندې ونیسو.

که پدغه سیاسي او جغرافیایي بدلونونو کې پښتنو د شریک قامي سیاسي مرکزیت د رامنځته کولو په لړ کې عملي ګام پورته نکړو دا به دپښتون قام د راتلونکي یو نیم سلو کالو دپاره په خپله د تباهۍ د لاسلیک په مانا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شهید نقیب الله"مسید" پېښه!

سېپ "اوغان"

داسې کیسه وه چې د ۲۰۱۸م کال د جنورۍ میاشتې له دریمې نېټې پر مخ پاڼه پوستهونه خپریدل چې د نقیب الله مسید په نوم یې یو ځوان سره له نورو دوو ملگرو له چېپل گارډن سهراب گوټ(گلشېر اغا هوټل)کراچۍ نه پولیسو اوچت کړیدی، دلته په کراچۍ ښار کې دا خبرې عامې وې دخلکو یو سوچ جوړ شوی وو، چې پولیس راځي او عام خلک په ساده جامو کې پورته کوي، نو زه خپله یو ځل پورته شوی وم لږ معلومات وو راته چې ځنگه خلک وړي او له عدالته لیرې یې له ځانه سره ساتي بیا شل شل لکه روپۍ ترېنه غواړي، چې څوک یې وس نلري په هغه د ترهگر توره ټاپه ولگوي، او په Fake Encounter کې مانا له محکمې لیرې یې ووژني، نو په حقیقت کې پرېشانۍ په مخه کړي وو، بیا داسې شپې ورځې تېریدې د جنورۍ پر ۱۶مه نېټه د یو ملگري په واده کې وو، د شپې حال راغی چې نقیب الله مسید یې وژلی دی، له واده سمدلاسه کورته راغلود شپې ۲ بجې وې فېسبوک پاڼې ته لاړم چې کتل مې گهیځ افغان چې زموږ د ژوب مندوخېل همفکره ملگری دی، په یو پوسټ کې زه او هاشم خان مندوخېلMentioned کړي غوښتي وو، هلته د نقیب الله مسید د مړینې عکسونه او لنډه کیسه لیکل شوې وه، اندېښنه مې نوره سېوا شوه، خیر نیمه شپه وه ویده شوو، سهار چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاڅېدم بیا فېسبوک پاڼې ته لاړم المزېب مسید وېډیو جوړه کړې وه او لیک یې کړی وو چې د نقیب الله مسیدمړی په کراچۍ چهیپا سردخانه صدر کې اېښودل شوی دی د نقیب الله شهید کورنۍ ته خپل مړی نه ورکول کیږي او هغه خلک وایي چې د پولیسو سخت هد ایات دي، چې دا یو ترهګر دی دا به په ایدهي قبرستان ( د لا وارثو په هدیره) کې ښخوئ، دا د جنورۍ ۱۷مه نېټه وه، خیر د ورځې پر یوه بجه د هاشم خان مندوخېل پوستهونه خپاره شول چې د شهید نقیب الله د کورنۍ موبایل شمېرې او معلومات یې غوښتي وو، له دوه ساعته هڅو وروسته هاشم خان مندوخېل په پښتون ولس خصوصا ځوانانو چیغه ګډه کړه چې راشئ! د چهیپا سرد خانې مخې ته او تر هغو به نه ځو تر څو چې خپل مړی ترلاسه نکړو، ما هاشم مندوخېل ته زنګ وکړ حال مې ورسره وشو، بیا مې مخلص مندوخېل ته زنګ وکړ چې داسې کیسه ده راځه له ځانه سره مې خپل یو بل تربور شفیق افغان هم را روان کړ، هلته ورغلو، هاشم خان مندوخېل، ګهیځ افغان، رحمت شېرانی، اولسیار کاکړ، محمودشاه مندوخېل او دشهیدنقیب الله د کورنۍ څو تنه ملګري چې سیف الرحمن مسید پکې مورږ پېژانده هم وو، نن سبا د پارلمان غړی دی، پدې وخت کې مو د چهیپا والا سره خبرې وکړې هغوی د شاه لطیف ټاون د پولیسو د تانې خط وغوښتی چې د شهید نقیب الله مړی راته وسپاري بیا څه ملګري لکه سیف الرحمن مسید، امجد مسید او دنقیب الله د کورنۍ هغه اخشی د لاسلیک او خط لپاره مو هلته ولېږل، څه وخت وروسته چې مو حال وشو هغو ویل چې پولیس والا نه راسره رضا کیږي ، ما له هاشم مندوخېل سره مشوره وکړه چې یو احتجاج به وکړو هغه راته وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو سمه ده خلک راوغواړه ما د پښتوانخوا ملي عوامي پارټۍ د سیند نایب صدر سکندرخان یوسفزي او صوبایي ډپټي سیکرټري نورالله خان ترین ته زنګ وکړ هغو راته وویل چې ځوانان تیاروو بس درغلو فکر مه کوئ چې موږ د احتجاج خبرې ورته وکړې پولیسو پدې شرط مړی راکړو چې په خاموشۍ به یې وباسئ او سیدا به یې خپلر کلي ته وړئ، هیڅ ډول رسمونه به دلته نه ترسره کوئ، بس خط یې راوړو د شهید نقیب الله مسید مړی مو ترلاسه کړو، په اسلامي او پښتني طریقه مو غسل ورکړو، تابوت او ایمبولېنس هرڅه تیار شو، دلته موږ فېسبوک پاڼې ته په ژوندۍ بڼه کې ویډیوګانې ورشروع کړې او خبرې اترې مو پکې وکړې، له قاضي او مخکمې لیرې وژنه موپه کلکوټکو وغندله، د هاشم خان مندوخېل د پاڼې ویډیو ډېره عامه شوه، زموږ یو ملګری دی دخیبر پښتونخوا په کراچۍ کې اوسیږي په ورځپاڼو کې کار کوي علي ارقم نومیږي هغه موږ ته وویل چې موږ د کراچۍ پرېس کلب ته درځو د شهید نقیب الله مسید له مړي سره د پاکستان حکومت ته خپل فریاد ور اوروو ریکارډ کوو، هغه دا مشوره رد کړه ځکه هغه وویل دا وخت دشپې ۸بجې دي او پرېس کلب پر پنځه بجې وختي لا بند شویدی، هغه زیاته کړه چې تاسې سهراب ګوټ ته مړی یوسئ هلته به سپر هایوې بنده کړئ چې د کراچۍ ښار تر ټولو مهمه لار ده او هلته ټول پښتانه اوسیږي بس موږ هم پدغه خبره عمل وکړ خو چې هلته ورغلو ماحول بدل وو، ځکه چې دا د پولیسو د ایس پي راو انور ولسوالي وه او هغه له ۴۴۴نه بره پښتانه وژلي وو، او ډېر خلک یې اغوا کړي هم وو، بس چې د جنازې لمونځ وشووهغو خلکو له خپلې وېرې او ترهې ویل چې بس تاسو خپلو کورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لاړ شئ موږ د شهید نقیب الله مړی وزیرستان ته وړو، هلته د پولیسو ګاډی هم ګرځیدلې چا دا هم وویل چې د پولیسو ټیلیفون راغی، د نقیب خپلوانو ته یې وویل چې ځان وباسئ د خلکو له منځه ګني نور تاوان درکوو، د شهید نقیب خپلوانو زاری کولې بس تاسې زیاته لاړ شئ موږ نور احتجاج نه کوو، چې موږ نا امیده شوو، بیا موږ خپلو ملګرو دا پریکړه وکړه چې اعلان به کوو چې سبا د په ټول ملک کې لاریونونه وشي او په خصوصي توګه پرکراچۍ پریس کلب بیا تاسو ولیدل چې د جنورۍ پر ۱۸مه نیټه د پاکستان په لسو لویوښارونو کې لاریونونه وشول او د قامپاله ګوندونو خصوصاPkMAPډیر مهمه رول وو پکې ځکه چې هغه وخت پښتون تحفظ مومنټ نه وو، د دې ګوند غړو ته افرین وایم ورسره د عوامي نیشنل ګوندد NYO هم د فداکاکړ تر یوه حده ښه مرسته راسره وه، سول سوسایټي جبران ناصراو داسې نور ډیر ګڼ شمیر خلک راغلو.

دلته دا شعر را په یاد شوچې:

د ډار په ښار کې به باغي باغي لهجه عامه کړم
زه بــه کیسې وکړمه داسې چې کیسه عامه کړم

خبره تر بین المللي رسنیو ورسیده، د خلکو په زړونو کې هغه ډار او ویره ختمه شوه، بیا په د سبا ماسپښین د جمعې له لمانځه وروسته د جنورۍ په ۱۹مه نیټه په سهراب ګوټ کې لاریون وشو په ماښام تعزیتي کیمپ لګولواعلان وشو او په همدغه شپه پاکستاني الکټرانیک میډیا زموږ ملاتړ وکړو، خصوصا جیو نیوز شاه ریب خانزاده ځانګړی راپور خپور کړو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سبا تعزیتي کېمپ د ګرېنډ پښتون جرګې په نامه جوړ شو، د پولیس اوسر راو انور له خپلې دندې ایسته کړل شو، دا کېمپ په سهراب ګوټ کې د لویې لارې (Super High Way) تر څنګ په ډېره سولئیزه طریقه ۱۲ ورځې فعالیت درلود د شهید نقیب الله پلار محمدخان لالا به سره له قبایلي مشرانو او ډېر شمېر پښتنو ناست وو او د هرې سیاسي پارټۍ مشران راغلو چې له موږ سره یې غمرازي وکړه، د پولیسو دا له قاضي او محکمې لیرې د سپینو خلکو د وژنو یې په سختو ټکو کې غندنه وکړه، په رښتیا هم دا یو بل موړ وو، چې کله د لر اوبر پښتون اوغان نواب محمدایاز خان جوګیزی صیب د پښتون قامي جرګې کنوینر د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ مرکزي رهتما راغلی او د مشر محمودخان اڅکزي پیغام یې راوړی او دلته یې پښتننو ته ډېرې په زړه پورې خبرې وکړې، اوسنی وزیراعظم عمران خان چې د PTI چئېرمېن دی راغلی ډېرې غټې ژمنې یې وکړې، خو ارمان چې لا ترسره شوي ندي، او دغه راز د جمعیت اسلامي مشر سراج الحق او د عوامي نېشنل ګوند سیکرټري میا افتخارحسین، سنیټر شاهي سید د فاتا مشران او ډېر محترم پښتانه هم راغلو د دې کېمپ خرڅه مسید قبیلې پر ځان کړه شپږمېلیونه کلدارې چنده یې سره جمع کړي وه، پدې تحریک کې له موږ سره یوشمېر اردو او سیندي ویونکي ځوانان او پېغلې هم وې لکه جبران ناصر، نغمه شیخ... چې د بشرحقوقو دغوښتلولپاره کار کوي، دلته تعزیتي کېمپ له منظور پښتین هم د یو عام ځوان په توګه راغلی خبرې مو ورکړې ښې خبرې یې وکړې زما په ړومبي ځل ورسره لیدل وشو، ډېر یې متأثره کړم، دشهید نقیب الله فاتحې ته د پښتونخواملي عوامي پارټۍ ملي مشرمحمودخان اڅکزی راغلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهرډول ملاتړ ډاډ یې ورکړو، موږ ته یې داسې وویل چې خپل کار پرېږدئ ټول پدې کار پسې ودرېږئ، کور ودان له یو پښتون ملتپال مشر نه هم دغه تمه وه، هغه مشر محمودخان اڅکزي ترسره کړه او لا هم لګیا دی.

بیا د پاکستان په ستره محکمه(سپریم کورټ) کې د شهید نقیب الله مسید کېس داخل شو، د پولیسو آی جي سربراهي کې یو تفتیشي ټیم جوړ شو، قانوني کاروایي شروع شوه، د نقیب الله په خلاف ټول الزامونه دروغ شو، راوانور ۴۴۴انسانانو قاتل ثابت شو او غلی شو، سپریم کورټ دنیولو حکم وکړ خو راوانور د ډېرو زورورو په لاس کې وو، لدې ځایه منظورپښتین لاړو بېرته وزیرستان ته هلته یې د مسید تحفظ مومنټ (MTM)په نامه خلک راټول کړل، بنو ته راغلو دلته یې طاقت نور هم سېوا شو پسې، پېښور ته لاړو لدې ځایه بیخي زیات پښتانه ورسره ملګري شو(نظیف لالا، ډاکټرګل مرجان، ډاکټر سیدعالم مسید، ډاکټرعبدالحی وزیر، پښتون جنرال، تورزن اوغان، اغلې ثناء اعجاز...) او پښتون لانګ مارچ پیل شو، د اسلام اباد پرخوا روان شوهلته پښتون پرلت پیل شو او دلته د پاکستان رسنیوپه هره خواله لاس پورته کړو، ځان یې کناره کړواو موږ سوشل میډیا ته مجبور شو، لا ترننه پورې ځوانان پر فېسبوک او ټویټر خپله مبارزه دوامداره ساتلي ده او وروسته داسلام اباد پرلت له بیا ټول سیاسي مشران ورغلو، چې مشر اسفندیار ولي خان او ملي مشر محمودخان اڅکزی په خصوصي توګه پکې وو، اولس ته یې ویناوې وکړې او دهر قسم ملاتړنه بلکې دا کار یې د ځان وګڼلو، محسن داوړ همدلته ورسره ملګری شو، دلته د ازاد اوغانستان د اولس له موږ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د اولسمشر اشرف غني ټویټ چې څومره تعریف یې وکړم کم دی، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د پښتنو اوغانانولاریونونه چې موږ ته یې په صحیح مانا کار اسان کړو او داسې دا د اسلام اباد پرلت د فرورۍ تر ۹مې نېټې پورې وو. بیا د پاکستان لومړي وزیر شاهدخاقان عباسي پرلت کوونکي د منظورپښتین په مشرۍ کې وروغوښتل او ژمنه یې ورسره وکړه چې ستا ټولې مطالبې موږ درسره منو تاسو پرلت ختم کړئ، منظورپښتین پرلت ختم نه بلکې یوه میاشت معطله کړو، چې پدې یوه میاشت کې به موږ په ټوله پښتونخوا کې جلسې او جلسونه وکړو، پښتون اولس به له ځان سره ملګری کړو ځکه چې دوی خو دا کار یوازې د مسیدو او قبایلو لپاره روان کړی وو، دلته خو مسید تحفظ مومنټ پر پښتون تحفظ مومنټ بدل شو خبرې نورې پراخې شوې ځکه چې پښتانه وایي( د قام ناتار په قام راګرځي) او منظورپښتین لومړۍ چیغه په جنوبي پښتونخوا وکړه، ضلع شیراني درزانده استقبالیه جلسې او دمارچ پر نهمه نېټه د ژوب ولسوالۍ پراخه جلسه په دا سبا په کلاسیف الله کې لویه جلسه او هم پدغه ورځ د پشین ولسوالۍ په خانوزۍښار کې جلسه په ۱۱مه نېټه د جنوبي پښتونخوا ستر مرکزي ښار کوټه کې لویه جلسه او دا راز د اپریل پر۸مه نېټه د لوی افغانستان د ژمي پایتخت پېښور کې یوه جلسه وشوه، لاهور، سوات، کراچۍ، دیره اسماعیل خان، بنو جلسې وشوې، د ریاست لخوا د هرې جلسې لپاره اولس ته ډېرګواښونه وښودل شو، او د هرې جلسې پر زموارانو کارکوونکوFIRsکټ شو، غیرقانوني تنګ شو، جیلونه ، وهل ، ټکېدل...بې شمېره زیات کړاوونه اولس وګالل خو دتحریک د مشر منظور پښتین په مشرۍ کې د سولې او حق لاره پرې نښوده، او لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا مخ پر وړاندې روان دی، که د پاکستان چلوونکو دعقل پوهې څخه کار نه واخستلو دا به دوی ته ډېره په تاوان تمامه شي، او دوی به په نړیواله کچه نور پاتې راشي، دا خبره خو تر لمر سپینه ده چې د ظالم او مظلوم په جنګ کې بریالیتوب همېشه د مظلوم په برخه وي، او خدای ج وایي چې :زه د مظلوم ملګری یم، نو دا جهان ته معلومه ده چې موږ پښتانه مظلومان یو.

زموږ د تحریک یوه بله مهمه برخه د پښتون مترقي لیکوال ادبي ټولنې دیره اسماعیل خان څانګې په پښتون لانګ مارچ کې ډېر ښه رول وو، د ملګري شوکت عزیز وزیر ترانه" دا څنګه ازادي ده" باندې پښتون پرلت ته یو نوي انرژي وربخښله ... د ملګري شوکت عزیز باغي مکمله ترانه شاعر او سندرغاړی ځوان دی.

ځوانان مو قتل کیږي

دا څنګه ازادي ده؟

کورونه مو ورانیږي

دا څنګه ازادي ده؟

پښتون پکې غرقیږي

دا څنګه ازادي ده؟

انقلاب انقلاب انقلاب انقلاب

چې نه راکوي موږ له حقوق دانسانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کار چې باید وکړو سپېڅلی بغاوت

ملالۍ مو بوریږي

دا څنګه ازادي ده؟

سترونه یې ماتیږي

دا څنګه ازادي ده؟

انقلاب انقلاب انقلاب انقلاب

ته وایه چې غدار یې خو زه د حق پاڅون یم

د جبرلاس د مات شو منې به مې پښتون یم

بمونه دي درزیږي

دا څنګه ازادي ده؟

وحشت دی لا خوریږي

دا څنګه ازادي ده؟

انقلاب انقلاب انقلاب انقلاب

موږ ملګري شوکت عزیز باغي او پښتون مترقي لیکوال ادبي ټولنې ته افرین وایو، له هغه وروسته بیا دعبدالغفور لېوال صیب پښتون ته ژوندون غواړو چې د خواږه ږغ خاوند کرن خان وویله او داسې نور ګڼ شمېر ملګري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شهید نقیب الله مسید ذاتي ژوند:**

نقیب الله د منځنۍ پښتونخوا(فاټا) جنوبي وزیرستان مکین اوسیدونکی وو، په قام مسید وو، د پلار نوم یې محمدخان مسید دی یو بل ورور چې تر نقیب مشر دی فریدالله نومیږي او په عربو کې په مزدورۍ بوخت وي، نقیب الله خپلې مورکۍ نسیم الله بللو د نقیب الله واده شوی وو دوه لوڼې او یو زوی هم لري، نقیب الله ډېر امن خوښوونکی، نرم او خوږ ژبی ځوان وو، پخپل ژوند کې یې د ښو جامو انځورونو، مېلو ځوانانو او انځورګۍ سره زیاته مینه درلوده، فېسبوک یې په ډېر تماشه اند از کارولو چې ۲۵۰۰۰فالورز لري، دلته په کراچۍ کې له تېرو اتو کالو راهیسې په مزدورۍ بوخت وو، له پلار محمدخان کاکا سره یې زما ډېر ملاقتونه شویدي، یوه ورځ یې ډېرې کیسې راته وکړې، د کاروبار اړوند یې راته وویل چې نقیب الله خوږ سړی وو ما ډېر نه تنګولو چې څه بې راوړی ما به ورته وویل صحیح ده، بیا یې یوه ورځ راته وویل چې لالکه زه به د کبړو دوکان راباسم په مزدورۍ کې بچت نشته بیا څه پیسې ما ورکړې او څه فریدالله ورته راولېږلې ده دوکان خلاص کړ، میاشت یې هم نه وه پوره چې دا تور مخي ورله راغلو اوچت یې کړ او مړ یې پر نورو لاسو کورته راوړو، واقعي محمدخان کاکا ډېر ښاغلی قبایلي مشر او غیرتي ساده پښتون دی، خانه خرابي یې تل خطا کوي، زموږ د قام یوه لویه بدبختي نالوستې ورځ هم ده، هسې خو د شهید نقیب بابا بالکل لکه د مشال خان او ملالې یوسفزۍ پلارونه الله د ټولو پښتنو لر اوبر ته سوله راوړي. آمین

ټولو پښتنو مبارزه کړیده او کوو به یې تر هغو پورې چې موږ ژوندي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې، یو داسې لیک اړتیا لرله چې زه پکې موجود وم، هغه واقعات د قام امانت وي، ځکه مې تر خپل قلم لاندې راوستلې.

منته

نر پښتین باتور پښتین

منظور پښتین منظور پښتین

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل اتلان وپېژنئ/ ايپي فقير

ليک: آياز يوسفزی

د پُښتون قام د وياړلي تاريخ پهٔ هر يوهٔ باب کې پهٔ قام، وطن او خپلواکۍ مئين يو نوم خامخا وي. د وخت هر فرعون له خدای پهٔ دې قام کې وخت پهٔ وخت او قدم پهٔ قدم يؤ موسا ارومرو زېږولی دی. د هر دور سامراج چې کله هم د دې قام خپلواکۍ، خاورې، عزت، غيرت، کلتور او ناموس ته سپک کتلي دي نو قُدرت پهٔ دې قام کې د سرو سترګو يؤ خاوند راپيدا کړی دی چې د سامراج مخې ته ودرېدلی دی او د خپل سر پهٔ بيه يې د خپلې خاورې، خپل اولس، کلتور، دين او تاريخ پهٔ سر ننګ کړی دی.

پيرنګی هم د تېرې شوې پېړۍ يؤ ستر سامراج ؤ. د دغه سامراج د شر نه پُښتنه خاوره هم پهٔ امن نهٔ وه خو د پُښتنې خاورې خوراک ډېر ګران او ناشونی کار دی. پيرنګي چې کله دلته خپل ناولی قدم کېښودو نو ګام پهٔ ګام ورته پهٔ خپلواکۍ مينانو لارې بندې کړي دي او هغوی يې پهٔ قلاره نهٔ دي پرېښودلي. د خپلواکۍ او خپلې خاورې او اولس پهٔ دغه ورکو مئينانو کې يؤ حاجي ميرزالي خان هم ؤ چې دُنيا يې د ايپي فقير پهٔ نوم پيژني. د پُښتون قام دغه وياړلی اتل د ۱۸۹۷ ميلادي کال شا و خوا د وزيرستان ټوچي نومې سيمه کې د کهجورۍ سره نژدې پهٔ کړته نومې کلي کې د ارسلاخان کره زېږدلی ؤ. د نيکهٔ نوم يې محمد آياز خان ؤ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ختهٔ اُتمانزی وزیر ؤ. دوی ټول څلور وروڼه وو، مشر مولانا شیرزمان خان ؤ، دویـم میرزالي خان ؤ چې نړۍ یې د فقیر ایپي پهٔ نوم پېژني، دریم مُلا میرزمان خان ؤ او د ټولونه کشر گُل زالي خان ؤ، مُلا میرزمان خان پهٔ خپل طبعي مرگ د فقیر ایپي د غزا گانو لهٔ پیله مخکې مړ ؤ، گُل زالي خان د غزاگانو د پیل پهٔ وړومبو ورځو ژوندی ؤ او مشر ورور مولانا شیرزمان د میرزالي خان سره اوږه پهٔ اوږه ولاړ ؤ او پهٔ ۸م جون ۱۹۴۷م کې پهٔ حق ورسېدلو.

میرزالي خان وړومبۍ زدکړې د خپل پلارارسلا خان نه کړې وې، بیا یې تر څلورم ټولگي پهٔ یوهٔ سرکاري سکول کې زدکړې وکړې او وروستو بیا بنوں ته د مذهبي زدکړو لپاره لاړو. خو څهٔ موده پس بیا بیرته توچۍ ته راغلو او د داوړو پهٔ سیمه کې یې خپلې زدکړې پیل کړې. دغه وخت میرزالي خان ایله د دولس کلونو ؤ چې پلار یې مړ شو. د پلار د مرگه وروسته د دهٔ مشر ورور مولانا شیر زمان د کړتی جاییداد خرڅ کړو او پهٔ سپلگه او شام کې یې زمکه واغیسته. هلته یې جومات، کور او حُجره جوړ کړل. د شام پهٔ زمکه یې هم ودانۍ جوړې کړې. پهٔ دغه وخت کې میرزالي خان یؤ ځل بیا د نورو زدکړو لپاره بنوں ته لاړو. هلته د دهٔ د پاکیزه سیرت او ښهٔ سرېتوب لهٔ کبله د هغه وخت یوهٔ نوموړي عالم قاضي شیر زاده خپله لور دهٔ ته پهٔ نکاح کړه.

میرزالي خان د وادهٔ نه وروسته بیرته سپلگۍ ته لاړو خو د مور د مرگه وروسته یې سپلگه پرېښوده او د داوړو پهٔ ایپي نومې کلي کې مېشته شو او هلته یې د مولوي عالم خان څخه د درس و تدریس لړۍ بیا پیل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاده دې وي چې د وزیرستان پُښتانهٔ ایوب ته آئیپ وایي، ایپي کلی پهٔ اصل کې ایوبي کلی دی خو د وزیرو، مسیدو او داوړو د ځایي ګړدود لهٔ کبله پهٔ ائیپي کلي مشهور شو او د آئیپي نه ایپي شو او اوس یې ټول خلک پهٔ همدغه نوم پېژني.

میرزالي خان ته د ایپي کلي خلکو یؤ کور، جومات او جُجره جوړه کړه او د لرې لرې کلیو او بانډو نه به ورته هلته خلک د روحاني فیص ترلاسه کولو لپاره راتلل.

پهٔ کال ۱۹۲۸م زیږدیز کې چې میرزالي خان کله د حج نه راستون شو نو د فقیرۍ او بزرګۍ ډونډوره یې پهٔ ټوله سیمه کې لا نوره زیاته شوه، د خلکو ورسره بې کچه عقیدت پیدا شو او هم پهٔ دغه موده کې د میرزالي خان نه د فقیر ایپي پهٔ نوم مشهور شو او لا تر نن ورځې یې نړۍ پهٔ همدغه نوم پېژني.

پهٔ کال ۱۹۳٤م میلادي کې یې د جلال اباد د یؤ نامتو صوفي سید حسن الګیلاني چې د نقیب صېب پهٔ نامه یې شهرت لرلو، لاس نیوه وکړه. پهٔ ستنېدو یې پهٔ ایپي کلي کې لنګر پیل کړو او ورسره پهٔ عبادت اوریاضت کې هم مشغول شو.

ژوند یې همدغسې پهٔ عبادت، ریاضت او د خلکو پهٔ خدمت کې روان ؤ چې پهٔ ۱۹۳٦م کې یوه پېښه رامنځته شوه کومې چې د یؤ صوفي فقیر ایپي نه یؤ مجاهد ایپي فقیر جوړ کړو او یؤ ګوشه نشین عابد او صوفي یې ګوریلا جوړ کړو، د پُښتون قام چې ګویرا یې ترې جوړ کړو.

پېښه داسې وه چې د بنون د جنډوخیلو یو ځلمي امیر نور علي شاه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنډوخیل (غیسکي) د یوې هندوې کورنۍ د جینۍ رام کوري سره وادهٔ وکړو، هغه مُسلمانه شوه او نورجهان نوم یې ورله کېښودو. د هغې پلار (میوه رام) مړ ؤ خو ترهٔ هرنام داس او مور منسه دیوي یې د امیر نور علي شاه خلاف د بنون د ډومیل پهٔ تانه کې عریضه وکړه او تور یې پورې کړو چې هغهٔ زمونږ جینۍ پهٔ زور مُسلمانه کړې ده او نابالغه هم ده چې وادهٔ ورسره کول پهٔ قانون کې جرم دی. هغوی دا تور هم پورې کړو چې امیر نور علي شاه د رام کوري سره سره د هغې د پلاره لهٔ کوره بلها سرهٔ او سپین زر هم وړي دي. خو حکومت چې کله د هغهٔ کور ولټولو نو هېڅ هم نهٔ وو. د رام کوري (نور جهان) کورنۍ څهٔ وخت پس خپله وړومبۍ عریضه یې بیرته واغیسته او بله یې وکړه چې زمونږه وړومبۍ عریضه زمونږ تېروتنه وه او مونږ پهٔ امیر نور علي شاه هېڅ دعودیداري نهٔ لرو. امیر نور علي شاه د دغه دویمې عریضې سره لږ پهٔ ساه صورت شو خو بیا هم د احتیاط لهٔ مخې د خپلې میرمن سره د سورنۍ د سیمې پک اسماعیل خیل ته د خپل ماما د زوي میرزالي خان کره لاړو.

کله چې د بنون هندوان د دغه پېښې نه خبر شول نو ټولو پهٔ رام کوري (نورجهان) د ننگ کولو او د هغې د مور منسه دیوي او هرنام داس د مرستې کولو اعلان وکړو او پهٔ گډه یې د بنون پهٔ تانه کې د امیر نور علي شاه او د هغهٔ د خپلوانو پر ضد استغاثه وکړه.

پیرنگي ډپټي کمشنر د دغه استغاثې نه پس د امیر نور علي شاه کشر ورور امیر عبدالله شاه راوبللو او پهٔ سختۍ یې ورته رام کوري (نور جهان) د سپارلو وینا وکړه. خو امیر نور علي شاه د خبلې کور ودانې د بیرته سپارلو پهٔ ځای د سپین وام پهٔ لاره افغانستان ته د تگ پرېکړه وکړه خو یوهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان سب انسپکټر ارباب عطاءالله خان ورته خبرداری ورکړو چې پیرنګي ستاسو د نیولو پوره پلان جوړ کړی دی نو ښه به دا وي چې بل خوا مخه وکړئ. دواړه ورونو په خپلو کې مشوره وکړه او د افغانستان په ځای یې د شمالي وزیرستان شام نومې سیمې ته د تګ پریکړه وکړه. خو دا کار هم ونهٔ شو ځکه چې څو بې ننګه او خود غرضه مشرانو ترې د بدرګې په نوم هر پنځهٔ میله پس شپږ شلې روپۍ غوښتلې. نو دوی د ټانک په لاره په ټیکسي کې د تګ پریکړه وکړه او لهٔ قصده یې د یوهٔ هندو ټیکسي راونیولو. خو لهٔ بده مرغه چا مخبري کړې وه نو چې کله د غوریوالی تانې ته ورسېدل نو سمدلاسه ونیول شول. دغه وخت تانیدار د رام کوري (نور جهان) نه د نوم تپوس وکړو نو هغې ورته وویل چې زما نوم اسلام بي بي دی او هم د دغه ورځې نه پهٔ اسلام بي بي مشهوره شوه. د نیولو نه پس جیل ته ولېږلی شوه.

یوهٔ هندو سرجن هغه لهٔ قصده شپږ میاشتې نابالغه ثابته کړه حالانکې د ډومیل پهٔ تانو کې یې عُمر د قانون تر مخه پوره ؤ. یوهٔ پیرنګي ډپټي کمشنر اسلام بي بي سمندر شاه نومې یوهٔ سیکهـ ته پهٔ دې شرط وسپارله چې کله بالغه شي نو بیا به ترې پهٔ عدالت کې بیان اغیستی شي.

پهٔ دغه کار د بنوں مسلمانانو ډېر بد وګڼل، د سمندر شاه پهٔ کور وروختل او هغه یې د اسلام بي بي سره پهٔ کور دننه بندي کړو، ځینې ځوانانو پهٔ چاونۍ ورختې وکړه او څوک د ډپټي کمشنر پهٔ بنګله ورغلل. او دا لړۍ څو ورځې همداسې روانه شوه چې بلها حکومتي ودانیو او املاکو ته پکې بلها زیان واوړېدلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیرنگي چې دغه بد حال ولیدلو نو اسلام بي بي یې د بزرگ خیلو یوهٔ مشر ملک تحلي خان ته وسپارله

خو کله چې حالات لږ سم شول نو د ډپټي کمشنر او پولیس سُپرنټنډنټ پهٔ مشرۍ کې د پیرنگي فوځ د ملک تجلي خان پهٔ کور ورغلو او اسلام بي بي یې پهٔ زور راوویسته او بوگائی نومې یوهٔ نوموړي هندو سوداگر هغه پهٔ خپل موټر کې د هندوستان هوشیارپور ته یوړه.

امیرنورعلي شاه یې قید کړو او د هرې پور جیل ته یې واستولو چې څهٔ موده پس راخوشی شو.

د پیرنگي پهٔ دغه ناروا او یؤ اړخیزه پریکړه د بنون مروتو او خټکو ډېر بد وگڼل او د حکومت پر ضد یې لاریونونه پیل کړل. د توچی وزیر او داوړ چې کله د دغه پېښې نه خبر شول نو هغوی هم میدان ته راودانگل. پهٔ ۱۱م اپریل ۱۹۳۶م کې د بنون عالمان او مشران راغلل او د عیدکو پهٔ کلي کې یې د داوړو د عُلماؤ، ملکانو، سپین ږیرو او مشرانو سره یوه ستره جرگه وکړه، حاجي میرزالي خان هم پهٔ دغه جرگه کې گډون کړی ؤ. جرگې پریکړه وکړه چې باید پیرنگیان دې زر تر زره اسلام بي بي مُسلمانانو ته وسپاري گنې پایله به یې ښه نهٔ وي.

پهٔ دغه وخت کې د داوړو سترگې یواځې حاجي میرزالي خان ته راوگرځېدلې خو هغه بیخي غلی پاتې شو او پټ پهٔ پټه به یې د بنون د مشرانو سره خبرې اترې کولې. د داوړو مشرانو پسې څو ځل سوال جواب وکړل خو حاجي میرزالي خان به جواب نهٔ ورکولو خو اخیر یې غاړه کېښوده او د یوې لویې جرگې د راغوښتلو یې ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ۱۵م اپریل ۱۹۳۶م پهٔ ملک اژدر کې یوه لویه جرگه راجوړه شوه، د بنون، میرانشاه او وزیرستان گڼ شمېر خلکو پهٔ دغه جرگه کې برخه واغیسته. ټولو مشرانو ډېرې د جذباتو ډکې خبرې وکړې او کشران او ځوانان هم د مشرانو د یوې اشارې پهٔ هیله ناست وو او غوښتل یې چې همدا اوس پهٔ پیرنگي برید وکړي. خو دغه وخت ایپي فقیر پهٔ اس سپور راغلو او پوښتنه یې وکړه چې مشرانو څهٔ پرېکړه وکړه؟ خلکو ورته وویل چې کهٔ چیرې پیرنگي اسلام بي بي بیرته را نهٔ کړه نو دا لښکر به پهٔ بنون برید کوي.

ایپي فقیر ورته وویل چې دا سمه پرېکړه نهٔ ده ځکه چې پیرنگی زور لري او مونږ یې پهٔ مقابل کې تش لاس او کمزوري یو. کهٔ خامخا د جگړې اراده لرئ نو راځئ چې پهٔ دې خبره بیا لهٔ سره فکر وکړو او کومه بله غوره لاره وټاکو.

پُښتانهٔ خو دي جذباتیان او اکثره وخت د هوش پهٔ ځای لهٔ جوشه کار اخلي نو د ایپي فقیر پهٔ دغه خبرو ټولو بد وگڼل او گنگوسی یې پیل کړو چې بلهې یې اغیستې دي، چا به ویل چې د پیرنگیانو ایجنټ دی، چا به څهٔ او چا به څهٔ ویل. خو کله چې ایپي فقیر هغوی بیا جرگه کړل او پهٔ سړه سینه یې د هغهٔ پهٔ خبرو غور وکړو نو پرېکړه یې وکړه چې باید د ښکاره برید پهٔ ځای گوریلا بریدونه پیل کړو او پهٔ کومه غرئیزه سیمه کې یو خوندي پټنځای جوړ شي چرته چې مجاهدین ځانونه پټوی شي او لهٔ هغه ځایه پهٔ دښمن گوزار کولای شي. ټولو دا خبره وومنله او نیتاسي ته یې د تگ پرېکړه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ نیتاسي کې تر ۱۹م اپریل ۱۹۳۶م د لښکر شمېر شا و خوا څلور زره ته ورسېدلو. د شا و خوا ټولې سیمې خلکو پهٔ لښکر کې ګډون وکړو خو د خیساره توري خیلو وزیرو ترې انکار وکړو.

کله چې د لښکر د مشر د ټاکلو خبره رامنځته شوه نو د ډېرو جرګو او صلاح مشورو نه پس ټولو پهٔ ګډه د مشرۍ پټکی ایپي فقیر ته ور پهٔ سر کړو او د داوړو یؤ مشر احمد خان درپه خیل یې د هغهٔ د مرستیال پهٔ توګه وټاکلو.

بله ورځ د توچۍ د علماؤ د فتوې تر مخه فقیر ایپي د پیرنګي خلاف د جهاد اعلان وکړو. پیرنګیان چې خبر شول نو د وزیرستان د پیرنګي ریزیډېنټ پهٔ خولهٔ یې د ایپي فقیر لښکر ته اخطار ورکړو چې زر تر زره دغه لښکر خور کړي ګنې ښه به درله نشي، خو هغوی پرې ځان ناجانه کړو. بیا یې د الوتکو نه د اخطار او خبردارۍ پرچیانې پهٔ ټوله سیمه کې وشیندلې خو بیا یې هم چا پرواه ونهٔ کړه. دریم ځل یې پهٔ ۲۳م اپریل ۱۹۳۶م سکاوټس راولېږل او پهٔ ایپي کلي کې یې د ایپي فقیر او نورو دوه مشرانو کورونه ړنګ کړل. بیا یې د داوړو مشران راوبلل او سخت اخطار یې ورکړو چې زر تر زره خپل خلک د خیسارهٔ نه راستون کړئ ګنې تورسرې به مو بې ستره کړو، کورنه او جوماتونه به مو وران کړو او تاسو به بندیان کړو.

د پیرنګي د دغه اخطار نه پس مشرانو د حسوخیلو کلي غازي مرجان او حاجي کمال الدین ایپي فقیر ته جرګه ور ولېږل. د خبرو اترو نه پس ایپي فقیر هغه ټول خلک بیرته ولېږل چې د پیرنګي لاس ورته پهٔ اسانه رسیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او یا یې په حکومت کې کوم منصب او دنده لرله. خلک خفه شول خو ایپي فقیر د پیرنګي د ارادو نه خبر کړل او په بیرته تګ یې راضي کړل ځکه چې د سر او مال د تاوان خبره نهٔ وه بلکې د عزت او ناموس سوال ؤ. تر دغه وخته وزیرو د ایپي فقیر نه ځان لرې ساتلو.

پیرنګي ته موقع په لاس ورغله نو د ایپي فقیر بلها ملګري یې بندیان کړل، بیا یې یوه جرګه راوبلله او دغه خلک یې دولس زره روپۍ جرمانه کړل.

دلته د وزیرستان غیرتي پښتانهٔ دوه ډلې شول، یوې ډلې د پیرنګي سره د خبرو اترو لاره غوره ګڼله او پیرنګي ته یې ویل چې باید د ایپي فقیر غوښتنې ومنل شي او سوله ورسره وشي ګنې د دغه پاڅون پایله به سمه نهٔ وي او بلې ډلې د پیرنګي سره جنګ کول غوښتل. د دغه ډلې خلک هم پخپله جنګ ته چمتو وو او هم یې نور خلک جنګ ته راپارول.

د اوړي په پیل کې ایپي فقیر ګړیوم ته لاړو او د ژمي د پیل کېدو پورې په ګړیوم، شام او شکتوئی کې دېره ؤ. په دغه وخت کې یې د وزیرو، مسیدو، داوړو او بیټنو سره جرګې وکړې او خلک یې په فکري توګه د پیرنګي پر ضد وسلوالې مبارزې ته چمتو کړل. کله چې یخنې پیل شوه نو ایپي فقیر د زرمک سره نزدې دین درګی نومې ځای ته راغلو خو د خپلې قبیلې خلکو لهٔ هغه ځایه (خیساره)کرکنۍ ته راوستو او هم هلته مېشته شو. دلته یؤ ځل بیا د شا و خوا سیمو خلک رامات شول. فقیر ایپي هم د پیرنګي خلاف خپله مبارزه لا ګړندۍ کړه، پیرنګی هم ناخبره نهٔ ؤ. توري خیلو ته یې دړکه ورکړه چې کهٔ د دریم نومبر ۱۹۳۶م پورې مو د ایپي فقیر سره کومه پهٔ زړهٔ پورې پرېکړه و نهٔ کړه نو پهٔ خیساره به برید

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوو. ملکان فقیر ایپي ته جرګه شول خو هغهٔ د ملکانو خبره ونهٔ منله بلکې خیساره ته یې د پیرنګي راتګ هم چیلنج کړو. ملکانو پیرنګي ته سپینه خبره وکړه چې نهٔ خو ایپي فقیر لهٔ خپلې سیمې شړلای شو او نهٔ یې د جګړې نه قلارولی شو. او کهٔ پهٔ فوځ یا سکاوټس څوک برید کوي نو مونږ یې نهٔ یو ذمه وار او ښه به دا وي چې تر درې میاشتو فوجي نقل و حرکت معطل بیخي شي.

بل خو ایپي فقیر خپل تبلیغات دوامدار وساتل او پهٔ سلګونو غازیان یې وروزل، پیرنګي پهٔ هغهٔ نظر ساتلو او د هغهٔ د مخ پهٔ زیاتېدونکي طاقت نه ښهٔ خبر ؤ.

پهٔ دغه لړ کې د جنوبي وزیرستان پولیټیکل ایجنټ مسټر کریکټن او د هغهٔ مرستیال پولیټیکل ایجنټ مسټر آر این بیټي د نایب پولیټکل افسر خان محمد نواز خان نه د ایپي فقیر د لښکر پهٔ اړه مالومات وغوښتل. هغهٔ ورته ولیکل چې د ایپي فقیر سره هېڅ قسمه لښکر نشته، بس یؤ فقیر دی او ورسره یؤ څو شیخان دي. چې فوځ ورشي نو لاس تړلي به یې راولي. مسټر کریکټن دغه خبره د وزیرستان ریزیډنټ ته وکړه او هغهٔ سمدلاسه پهٔ خیسارهٔ د برید کولو پرېکړه وکړه. او هم لهٔ دغه ځایه پهٔ باقاعده توګه د ایپي فقیر او پیرنګي تر منځه وسلواله جګړه پیل شوه.

پهٔ ۲۵ نومبر ۱۹۳۶م د پیرنګي ریزیډنټ، د جنوبي وزیرستان د پولیټیکل ایجنټ مسټر کریکټن او د نایب پولیټیکل افسر خان محمد نواز خان پهٔ مشرۍ کې د توپونو، ټانکونو او درنې سلاح سره د پیرنګي یؤ ستر لښکر د خیسارهٔ پهٔ لور روان شو. د ساتنې لپاره د لښکر سره الوتکې هم روانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې او تر شا يې د راشن او تودو کاليو نه بار اوښان او خچرې هم روانې وې. او تر شا يې د وزيرو او داوړو شپږ شلې وسلوال مشران هم روان په جلب وو.

کله چې دغه لښکر د کتيری نه پورې وتو نو مجاهدينو پرې د شا و خوا غونډيو نه بريد وکړو او د تلپکان او عالم شيري پورې ښه توده جگړه روانه وه. د مخې او گېر چاپېره نه به په پيرنگيانو د ايپي فقير غازيانو بريدونه کول او د شا لخوا به پرې د وزيرو او داوړو هغه مشرانو ډزې کولې کوم چې په ښکاره د دغه لښکر تر شا په جلب کې روان وو. بلخوا باد و باران او جاکړ هم راغلو چې له امله يې د بنون او زرمک تر منځه د وايرليس شبکې کار پرېښودلو. په دغه اړدوړ کې د ميجر ټينډال او کيپټن بايد ترڅنگ د پيرنگي د فوځ دوه سوه اويا (۲۷۰) کسانو ژوند له لاسه ورکړو او درې کسان د ايپي فقير له ملگرو څخه شهيدان شول. هم په دغه ورځ په ډمډيل کې هم سخته انښته وشوه چې د ميجر سيکومب ترڅنگ پکې درې سوه نهه (۳۰۹) پيرنگي فوځيان مړه شول او اووه کسان پکې د ايپي فقير ملگري شهيدان شول.

خو بيا هم د شپې د دولس بجو شا و خوا پيرنگيان کرکنۍ او مرغی نومې ځای ته ورسېدل خو د ميرعلي فوځ لا تر دغه دمه غازيانو په لاره ايسار کړی ؤ.

د شپې ناوخته په توره تياره کې غازيانو په پيرنگي لښکر يرغل وکړو او رؤ گودر يې ترې خطا کړو. هغوی له ويرې د تېښتې هڅه وکړه، اسونه، خچرې او اوښان هم په اړدوړ او ډزو کې وارخطا شول او زياتره يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازیانو پهٔ لاس ورغلل. پهٔ دغه برید کې هم اووهٔ سوه پنځهٔ دېرش(۷۳۵) پیرنګي فوځیانو ژوند لهٔ لاسه ورکړو او پنځویشت غزیانو هم ژوند بایيلو.

خو پهٔ سبا ورځ د پیرنګي جنګي الوتکو خپل فوځ ډاډه کړو او د خیساره سیمه یې ونیوله او پهٔ کرکنۍ کې یې د ایپي فقیر جومات او حجره وران کړل.

پهٔ سبا ورځ(۲۷م نومبر ۱۹۳۶م) شپږ سوه غزیانو یؤ ځل بیا پهٔ پیرنګي برید وکړو چې پهٔ پایله کې یې ۱۰۲۱ پیرنګیان مړهٔ او ژوبل شول او فوځ یې بیرته میرعلي ته پهٔ تېښته بریالی شو.

پهٔ دغه درې ورځنۍ جګړه کې پیرنګي ته ډېره بده ماتې وشوه او ټول غرور یې خاورې ایرې شو. د زرګونو مړو تر څنګ یې شا و خوا دوه زره دوه سوه اتهٔ ویشت(۲۲۳۸) تنه فوځیان سخت ژوبل شوي وو. بل خوا د ایپي فقیر د سرتېرو نه یواځې درې پنځوس ځوانان شهیدان شوي وو او شا و خو دوه دېرش ژوبل شوي وو.

د قام سره خیانت کونکي، د خپل اولس پهٔ سر سامراج او یرغلګرو ته جاسوسي او دلالي کونکي هم قام ته او هم خپل بادار ته تل سپک، ارزان او مختورن وي، دغه بې ناموسه خلک نهٔ تاریخ بخښي او نهٔ یې خپل اولس پهٔ درنه نامه یادوي. همدغه کار د خان محمد نواز خان سره وشو. پیرنګي چې د ایپي فقیر د لښکر دغه زور ولیدلو نو لهٔ قاره یې هغهٔ ته حکم وکړو چې پهٔ شپږ ساعته کې دننه دنننه وزیرستان پرېږده ځکه چې تا مونږ ته د ایپي فقیر پهٔ اړه دروغ ویلي وو.

د دغه درې ورځنۍ جګړې پهٔ اړه ډبلیو ایچ کونډن پهٔ خپل کتاب دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرنټيئر فورس رائفلز په ۱۴۶م مخ ليکي چې له هغې ورځې نه ايپي فقير د يوه باغي قبايلي ليډر په حيث خپل شهرت او استحکام قايم کړو. هم د دغه کتاب په ۱۴۸م مخ ليکلي چې دغه جګړه زمونږ لپاره يوه بد ترينه ماتې وه او لکه څنګه چې مې وړاندې يادونه کړې وه چې دغه پېښې ايپي فقير ته د يوه ليډر ځای ورکړو او هغه د دې خبرې جوګه شو چې په وزيرستان کې زمونږ لپاره تر يوې اوږدې مودې مشکلات رامنځته کړي.

د دغه شرمناکه ماتې د غچ اغيستو لپاره پيرنګي يو ځل بيا په خيساره د بريد اراده وکړه. په دريم دسمبر ۱۹۳۶م يې په سيمه کې د الوتکو نه پرچيانې وغورځولې چې بايد زر تر زره دا سيمه تاسو خالي کړئ او خپل واړه او زاړه خوندي کړئ.

بلخوا يې د بنون نه په خوراکي توکو او نورو شيانو راوړلو هم بنديز ولګولو، په سړک يې هم کار ښه تېز کړلو. د خاصه دارو چيک پوسټونه يې هم ځای په ځای جوړ کړل کوم چې د وزيرستان په خاوره د تاريخ وړومبني چيک پوسټونه وو.

ايپي فقير به پرې د خپلو غزيانو سره ګوريلا بريدونه کول چې پيرنګي د ډېره قهره د جلير، شکتويی، زيخی، ډاګی، شيح محمد کلی، زيړ پيژی، دينور، بوبلي او شا و خوا ټول کلي ړنګ کړل. د وزيرستان خلکو چې دغه جبر وليدلو نو پيرنګيان يې ورواغيستل او په شا تګ يې مجبوره کړل. پيرنګي يؤ ځل بيا خپل جبر پيل کړو او د ۲۲م او ۲۳م دسمبر په شپه يې له قهره لا نور ډېر کورونه وسوځول او د شپې ناوخته يې د ډاګی کلي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویدیز اړخ ټوله سیمه بمبار کړه. ایپي فقیر دغه وخت په ارسلکوټ کې ؤ، خپل غازیان یې د گوریلا بریدونو لپاره په وړو وړو ټولگیو کې وویشل، چا به د ورځې په گشتونو او پیکټونو بریدونه کول او چا به د شپې کیمپونو ته لاسي بمونه ور اچول او ډزې به یې پرې کولې. پیرنگي به هم هره ورځ په شا و خوا سیمه بریدونه او بمبارۍ کولې چې بلها زیان به یې خلکو ته اړولو خو بیا یې هم بریا نهٔ موندله نو یؤ ځل یې بیا لهٔ چل ول څخه د کار اغیستلو پریکړه وکړه او په میرعلي کیمپ کې یې یوه جرگه را جوړه کړه چې په پایله کې یې د توري خیلو په سیمه کې ډز بندي وشوه او پیرنگي د نورو بریدونو نهٔ کولو ژمنه وکړه.

دغه کار ایپي فقیر ته هم لږ وخت په لاس ورکړو، هغهٔ نهٔ یواځې خپلو گوریلا بریدونو ته دوام ورکړو بلکې د راروانې جگړې لپاره یې هم یو ستر لښکر چمتو کړو. پیرنگي د هغهٔ د زور ماتولو لپاره د ۳۱م دسمبر ۱۹۳۶م نه تر څلورمې جنورۍ ۱۹۳۷م پورې پرله پسې څلور ورځې په ارسلکوټ بمباري وکړه.

څو ورځې پس په زېړپېژي او ډاکۍ کلي کې جگړه وشوه چې پیرنگي پکې یؤ ځل بیا ماتې وخوړه او لهٔ تاوه یې د توریخیلو په ړنگ شو کلیو یؤ ځل بیا بمباري وکړه او په ۱۵مه جنورۍ ۱۹۳۷م یې د یوې بلې جرگې په ترخ کې توریخیل یؤ خوا پنځوس زره روپۍ جرمانه کړل او بل خوا یې د هغوی شپږ شلې قامي خاصه دار لهٔ نوکرۍ نه اوویستل او د خپل وړل شوي مال غوښتنه یې ترې هم وکړه. او دا یې ورته هم وویل چې باید د بوبلۍ نه تر بیچي کسکۍ پورې د ایپي فقیر ملگرو ته پناه ور نهٔ کړئ او د دې ترڅنگ به د جلیر او خیساره تر منځه څوک ابادي هم نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي.

خو په ارسل کوټ او شا و خوا دومیله سیمه پیرنګي وخت په وخت هم هغه شان بمباري کوله. څه وخت پس پیرنګی فوځ رزمک او بنون ته بیرته لاړو او حالات هم لږ سم شول.

بلخوا یې د سیمې د مشرانو سره جرګو ته هم دوام ورکړو او په کلکه یې ورته وویل چې باید ایپي فقیر له وزیرستانه وشړئ او یا یې سولې او روغې جوړې ته اماده کړئ.

ایپي فقیر دغه وخت سخت ناروغه ؤ خو مشرانو ته یې وویل چې زه ستاسو قدر کوم او که خدای مه کړه زما له کبله تاسو ته مشکلات جوړېدل نو زه به دا سیمه بیخي پرېږدم.

ایپي فقیر خپلو غازیانو ته وویل چې د یوې مودې پورې باید غلي کښېنئ، خو چې لږه موده تېره شوه نو غازیانو یؤ ځل بیا خپل ګوریلا بریدونه پیل کړل او د وزیرستان او بنون په حکومتي ځایونو به یې هره ورځ خامخا یؤ برید نیم کولو.

د دغه بریدونو په ترڅ کې د وزیرستان سکاوټس کپتان مسټر جی سي کوغ هم یوه ورځ د جهنډولې په لاره د مکین د عمرخیلو بهلولزو په سیمه کې ووژل شو. دوه ورځې وروسته په اوومه فوروری ۱۹۳۷م د قُطبي وزیرستان مرستیال پولیټیکل ایجنټ این آر بیټي رزمک ته په لاره روان ؤ، تر شا یې خاصه دار هم روان وو خو د همزونو داوړو د چتون کلي نه بره په غلانۍ کې پرې برید وشو او هغه یې سره د دوه نورو سپاهیانو ووژلو. پیرنګي مداخیلو ته وویل چې په دغه پېښه کې ککړ خلک باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت ته وسپارل شي خو جرګې یې خبره و نهٔ منله نو پیرنګي لهٔ تاوه د مداخیلو پهٔ دوو کلیو یانې د اسماعیل خیلو پهٔ ستر کلي او پهٔ زېړوم کې پهٔ اسړو نومې کلي درنه بمباري وکړه. بله ورځ یې جرګه راوغوښتله او شپږ زره ورپې نغدې او یؤ شمېر ټوپکې یې ترې پهٔ جرمانه کې واغیستلې.

بل خوا غازیانو هم خپل ګوریلا بریدونو ته دوام ورکړو او وخت پهٔ وخت به یې پیرنګي ته ځاني او مالي زیان اړولو. پیرنګي هم ورځ پهٔ ورځ د سیمې پهٔ مشرانو خپل فشار زیاتولو چې باید ایپي فقیر یا خو لهٔ سیمې وشړل شي او یا قلار کړی شي. مشرانو به پهٔ ښکاره پیرنګي ته هوکړه وکړه خو پهٔ عملي توګه به یې د ایپي فقیر خلاف هېڅ ګام هم نهٔ پورته کولو.

پیرنګی چې پوه شو چې پهٔ جبر د ایپي فقیر مخه نشي نیولی نو یؤ ځل بیا یې د خبرو اترو لاره غوره وګڼله او پهٔ ۲٤م مارچ ۱۹۳۷م یې میران شاه ته د اُتمانزو وزیرو یوه ستره جرګه راوبلله او ورته یې وویل چې باید تاسو د ایپي فقیر او زمونږ ترمنځه روغه جوړه وکړئ. د جرګې پهٔ پایې کې د ایپي فقي سره د خبرو اترو لپاره یؤ څو مشران چوڼ کړی شول او خیساره ته روان شول. فقیر ایپي یې د خپل درانهٔ لښکر سره ډاکې ته مخې له راغلو او څلور مشران یې ترې رابیل کړل.

ایپي فقیر هغوی ته د حکومت سره د روغې جوړې لپاره دغه شرطونه کېښودل:

۱. حکومت به پس لهٔ دې د مسلمانانو پهٔ مذهبي چارو کې کار نهٔ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. حکومت چې د ایپي فقیر او د هغهٔ د پلویانو کوم کورونه، جوماتونه او نورې ودانۍ ړنگې کړې دي هغه به د دهٔ پهٔ خوښه بیا لهٔ سره جوړوي.

۳. دواړه غاړو ته چې د سر او مال څومره زیان اوړېدلی دی هغه به یؤ خوا بل خوا بخښلی کیږي.

د دوه ساعته پورې خبرې اترې روانې وې خو هغه مشرانو د ایپي فقیر خبرو له ډېر ارزښت نهٔ ورکولو نو هغه ترې پاڅېدلو او ورته یې وویل چې زهٔ د پیرنگي سره د روغې جوړې هېڅ اراده نهٔ لرم خو ستاسو د مشرۍ لهٔ خاطره به د خپلو غازیانو سره مشوره وکړم او څو ورځې پس به مو لهٔ خپلې پرېکړې خبر کړم.

مشران خو خوشحاله شول ولې پیرنگي ته تسلي و نهٔ شوه او حکم یې وکړو چې کهٔ چا هم پهٔ بنوں او وزیرستان کې غازیانو ته پناه ورکړه او یا پهٔ کوم کلي کې هغوی لهٔ وړاندې څخه میشته وي، پهٔ هغه کلیو به بمباري کولی شي.

د فوځي کیمپونو شا و خوا به د سحر وختي او یا د ماښام نه وروستو کهٔ هر څوک ولیدل شول هغه به دشمن گڼلی کیږي او ویشتل کیږي به.

د بنوں او زرمک پهٔ سړک او شا و خوا یوهٔ میله پورې به د حکومتي چارواکو نه پرته هېڅوک وسله نهٔ ساتي.

د دې تر څنگ یې د بنوں کوهاټ او بنوں ډېره اسماعیل خان سړکونه هم د شپې د تگ راتگ لپاره وتړل شول.

پهٔ ۲۹م مارچ ۱۹۳۷م د ډمډیل د کیمپ سره نژدې یؤ ځل بیا غازیانو پهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه فوځي قافله برید وکړو خو د بد نظمی له کبله پکې غازیانو ته درنه مرګ ژوبله واوړېدله او شا و خوا اتیا تنه یې شهیدان شول، بلخوا د پیرنګي د یؤ شمېر لوړ رُتبه مشرانو تر څنګ یؤ سل پنځلس تنه مړهٔ او اویا تنه ژوبل شول.

د بریدونو او جوابي بریدونو او بمباریو دغه لړۍ ډېره اوږده ده. هر ځل غازیانو پهٔ تش لاس د پیرنګي خولهٔ ورماته کړې ده او پهٔ جواب کې یې پیرنګي د بلها زور زیاتي او جبر نه کار اغیستی دی خو پُښتون څوک پهٔ زور کله خپلولی شي؟

هـسې به خپلې ککرۍ ماتې کړي
څوک مې افغان سر ټیټولی نهٔ شي

آیاز یوسفزی

د ګوریلا بریدونو او جګړو پهٔ دغه لړۍ کې د تیارزی پهٔ قلا برید، د الیګزنډر پهٔ پیکټ برید، د تجوړۍ پهٔ تانه برید، پهٔ پهاړپوره برید، پهٔ سور کمر برید، د دوسلې پهٔ فوځي کیمپ برید، پهٔ زرمک کې وړه شان انښته، پهٔ ابلنکي برید، د ګړیوم پهٔ کیمپ برید، د پیزو جګړه، پهٔ تجوړۍ برید، د پسل کلي جګړه او د ګړیوم پهٔ فوځي کیمپ دویم برید د یادونې وړ دي چې پیرنګي ته پکې بلها مالي او ځاني زیان اؤړېدلی ؤ.

بلخوا پیرنګي هم خپل انتقامي بریدونه کول. پهٔ دغه موده کې پیرنګي د مسیدو پهٔ سیمه فوج کشي وکړه، بلها کلي یې ړنګ کړل او پهٔ خلکو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یره ترهه پرېستله.

هم په دغه شپو ورځو کې يې د بيټنو پهٔ بيلا بيلو کليو هم پرله پسې دوه ورځې بمباري وکړه، څهٔ موده پس يې پهٔ لدها باندې بريد وکړو او ګڼ شمېر خلک يې مړهٔ او ژوبل کړل او بلها چور چپاول يې وکړو. پهٔ دغه ورځو کې ايپي فقير بيخي د پيرنګي او د هغهٔ د جاسوسانو لهٔ نظره ورک ؤ خو د هغهٔ غازيانو به کله کله ځان ښکاره کولو. پيرنګي دغه وخت پرېکړه وکړه چې وړومبی بايد د ايپي فقير غازيان خوارهٔ وارهٔ کړی شي او بيا هغه ژوندی ونيول شي خو بريالي نهٔ شول او اپوټه ورته پهٔ دغه هڅه کولو بلها مرګ ژوبله واؤړېدله. لهٔ هغې وروسته هم پيرنګي څو ځل د ايپي فقير د ژوندي نيولو هڅه کړې ده خو يؤ ځل هم بريالی نهٔ شو.

لنډه دا چې د پيرنګي او د ايپي فقير او د هغهٔ د غازيانو ترمنځه د بريدونو دغه لړۍ همدغسې روانه وه، غازيانو به پهٔ پيرنګي ګوريلا بريدونه کول، پيرنګي به کله د تاوه پهٔ عادي خلکو او کليو بريدونه او بمبارۍ کولې، کله به يې د سولې او اخبرو اترو هڅه کوله او کله به يې د سړکونو او لارو ولو پهٔ جوړولو حالات او ذهنونه پهٔ خپل حق کې کولو ناکامه هڅه کوله خو پهٔ هېڅ ډول يې هم پهٔ ايپي فقير او د وزيرستان پهٔ خلکو لاس نهٔ رسېدلو. وايي چې شا و خوا يؤ دېرش لاکهه روپۍ يې يواځې د سړکونو جوړلو لپاره منظورې کړې وې. د تش پهٔ نوم د پرمختګ د دغه کارونو سره سره پيرنګي خپل جبر او زور زياتی هم دوامدار وساتلو او وخت پهٔ وخت به يې قامي مشران، غازيان او د ايپي فقير پلويان زورول، د هغوی کورونه به يې نړول او جرمانې به يې پرې لګولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیرنگی چې کله پوه شو چې په زور او جبر دا خلک نشي خپلولی نو د افغانستان د سردار محمد هاشم خان او ملک موسا خان په مرسته یې په شپاړسم اکستټ ۱۹۳۷م په مانه نومې ځای کې شا و خوا د شپږ زره علماؤ، سپین ږیرو، مشرانو، ملکانو، غازیانو او سیدانو یوه لویه غونډه راجوړه کړه. د اوږدو خبرو اترو نه پس ایپي فقیر د سولې او روغې جوړې لپاره دغه څلور شرطونه کېښودل:

۱. اسلام بي بي به بیرته مُسلمانانو ته سپارل کیږي.

۲. په وزیرستان کې به شرعي احکام اجراء کولی شي.

۳. پیرنګیان به د تل لپاره د وزیرستان نه اوځي.

٤. د جنګ په اوږدو کې بندي شوي ټول وزیرستاني به خوشي کولی شي.

افغان پلاوي ایپي فقیر ته وویل چې تر څو جرګې د پیرنګي نه سوال جواب نهٔ وي اغیستي تر هغې باید په پیرنګي هېڅ برید ونهٔ کړی شي خو ایپي فقیر دغه خبره ونهٔ منله او زیاته یې کړه چې تر څو پیرنګي دغه شرطونه نهٔ وي منلي مونږ به د جګړې نه لاس وا نهٔ خلو. بلخوا په خلکو کې ګنګوسی خپور شو چې ګني پیرنګیان لهٔ وزیرستان څخه اووځي خو پیرنګي څو ورځې پس یوې بلې جرګې ته وویل چې مونږ هېڅکله هم د وزیرستان نه د وتلو نیت نهٔ لرو خو ستاسو په مذهبي او کلتوري چارو کې مو هم څهٔ کار نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه هر څۀ نه پس د دواړه غاړو نه د بریدونو او جوابي بریدونو، بمباریو، زور زیاتي، جبر او جرمانو لړۍ هم هغه شان روانه وه او وخت پۀ وخت بې شمېره انښتې وشوې چې پکې دواړه غاړه ته درنه مرګ ژوبله واؤړېدله.

فقیر ایپي چې به چرته هم دېره کېدلو نو پیرنګیانو به پۀ هغه ځای بمباري کوله او شا و خوا کلي به یې ورسره هم زیانمن کول نو ایپي فقیر پۀ اپریل نولس سوه اتۀ دېرشم کې د ډیورنډ کرښې ته نزدې پۀ ګورویک نومې یوه تنګه دره کې خپل مرکز جوړ کړو. دغه ځای داسې ؤ چې نۀ پرې بمبارۍ اثر کولای شو او نۀ ورته پیرنګیان پۀ اسانه راتللی شول. د دغه درې پۀ غرونو کې ایپي فقیر بلهاا سمڅې وکیندلې. جومات، استوګن ځایونه او د څاروو لپاره پکې غوجلې هم جوړې شوې. د دې ترڅنګ پکې د وسلې د جوړلو کارخانه هم جوړه شوه چې غازیانو له به پکې وسله جوړېدله. لۀ دغه ځایه به غازیانو وخت پۀ وخت پۀ پیرنګي ګوریلا بریدونه کول. چې پکې د پکې کلي جګړه، د سپیري غر جګړه، د الیګزنډر پۀ چوکۍ برید، د بویي پۀ قلا برید، د ویدون جګړه، د توت نري برید، د ممش خیلو جګړه، د خوني زاوۀ جګړه، د ایشا رزمک پۀ سړک برید، د ډانډې پۀ سرائی برید او ګڼ شمېر نور لوی واړۀ بریدونه او جګړې د یادونې وړ دي.

د ایپي فقیر لخوا پۀ پیرنګیانو دغه ګوریلا بریدونه پۀ بنون، کوهاټ، وزیرستان او ډېره اسماعیل خان کې ښۀ پۀ درز کې روان وو. نن به دلته برید ؤ او سبا هلته یانې یوه ورځ به پۀ وزیرستان کې برید ؤ نو سبا ورځ به پۀ ډېره اسماعیل خان کې، بله ورځ کوهاټ او بیا بله ورځ پۀ بنون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برید. د پیرنگي نه هم رؤ گودر خطا ؤ او د دغه بریدونو مخه یې پهٔ هېڅ حال هم نشوه نیولای.

او ان تر ۱٤م اگست ۱۹٤۷م پورې دغه لړۍ همداسې روانه وه. کله چې پهٔ ۱٤م اگست ۱۹٤۷م کې د هندوستان ویش وشو نو د کشمیر شخړه هم رامنځته شوه، د پاکستان حکومت د وزیرستان د خلکو نه غوښتنه وکړه چې پهٔ کشمیر کې یې مرسته وکړي، ایپي فقیر د دغه خبرې کلک مخالفت وکړو خو بیا هم د وزیرستان گڼ شمېر خلک کشمیر ته لاړل. او کله چې لیاقت علي خان وزیرستان ته راغلو نو د وزیرستان خلکو ورله د کشمیر لپاره ښه درنه چنده هم ورکړه چې شا و خوا درې زره روپۍ وې.

کله چې پاکستان جوړ شو نو د هغه وخت د صوبه سرحد(اوسنۍ پښتونخوا) پیرنگي پولیټیکل ریزیډنټ د ۱۹٤۷م د اکتوبر پهٔ وړومبۍ نېټه پهٔ میران شاه کې د وزیرو او داوړو یوه جرگه راوبلله. د جرگې پهٔ پایی کې یې اعلان وکړو چې د قبایلو ټول مفروران وبخښلی شول او ایپي فقیر چې هم چرته غواړي د سولې پهٔ شرط دې مېشته شي، حکومت به پرې هېڅ کار نهٔ لري.

د دغه جرگې نه وروسته پهٔ شپږم نومبر ۱۹٤۷م کې د صوبه سرحد(اوسنۍ پښتونخوا) گورنر ته د وزیرستان یؤ څو مشرانو لاسلیک وکړو چې مونږ به د پاکستان وفادار یو. گورنر ورسره ژمنه وکړه چې فوځ به د وزیرستان نه واپس کیږي.

ایپي فقیر چې کله ولیدل چې د ۱٤م اگست نه وروستو هم تر ډېرې مودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رزمک په فوجي هیډکوارټر، ډویژنل کمانډ هیډ کوارټر، د واڼا په بریګیډ هیډکوارټر، د میرانشاه د سکاوټس په قلا او د سکاوټس په شا و خوا نورو ټولو پوستو د انګلستان بیرغ یانې یونین جیک رپیدلو، د صوبه سرحد ګورنر سر جارج کنګهم پیرنګی ؤ چیف سیکټري یې پیرنګی ؤ، د قبایلو ریزیډنټ میجر کاکس پیرنګی ؤ، د جنوبي وزیرستان پولیټیکل ایجنټ مسټر ډانکن پیرنګی ؤ، د پاکستان ګڼ شمېر وزیران او چارواکي یا خو پیرنګیان وو او یا هندوان وو او د ملک قانون هم هغه زوړ د پیرنګي قانون ؤ چې د انډیا ایکټ ۱۹۳۵ په نوم یادېدلو نو ایپي فقیر دغه هر څهٔ ډېر بدګومانه کړو. هغهٔ ویل چې دا خو هم هغه هر څهٔ دي، باید دلته اسلامي حکومت وای. دا خو هم هغه زوړ د پیرنګي حکومت دی، هم قانون او هم چارواکي زاړهٔ دي. او همدغه لاملونه وو چې ایپي فقیر د پاکستان د منلو په ځای د پُښتونستان د جوړولو اعلان وکړو. د یوې جرګې په ترڅ کې هغه د پُښتونستان اولس مشر جوړ شو، هغهٔ په وزیرستان کې خپل یؤ قاضي وټاکلو چې د خلکو فیصلې به یې کولې. ایپي فقیر خپلو هلو ځلو ته په پخواني مرکز ګورویک کې دوام ورکړو چې په نتیجه کې یې د پاکستان د حکومت او ایپي فقیر ترمنځه تاؤ تریخوالی جوړ شو او په ۲۹م جون ۱۹۴۸م د ملخو په داوړو، په جولائي ۱۹۴۸م کې د خدر خیلو په وزیرو، د ۱۹۴۹م د فرورۍ په وړومبۍ نېټه د ملک اژدر په زیارت، په ۱۲م جون ۱۹۴۹م کې په مغلګي، په ۲۶مه جولائي ۱۹۵۰م کې د واڼا په احمدزو وزیرو، په ۹م ستمبر ۱۹۵۰م کې په مکین دره او په ۳م اکتوبر ۱۹۵۰م د واڼا او شولم په سیمو د پاکستان حکومت درنه بمباري وکړه چې په پایله کې یې د وزیرستان ګڼ شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک مړهٔ او ژوبل شول.

بلخوا د ایپي فقیر سره خپلو ځایي او بهرنیو ملګرو هم ټګي وکړه او ډېری ملګري ترې پهٔ شا شول او هغه یې یکې یواځې پاتې کړو. دغه هر څهٔ هغه ډېر زړهٔ ماتی کړو او بیخي خاموشي یې اختیار کړه. خو پهٔ خپله خبره د ژوند تر اخیری سلګۍ کلک ولاړ او د خپل دریځ نه یؤ قدم هم پهٔ شا نهٔ شو.

پهٔ خپلواکۍ، پُښتون ننګ او ناموس، پُښتو او دین دغه ورک مېین سړي د پنځلسم او شپاړسم اپریل ۱۹۶۰م پهٔ منځنۍ شپه کې د ساه لنډي د ناروغۍ لهٔ کبله د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې او خپل جهادي مرکز ګورویک ته مخامخ د غرهٔ پهٔ یوه غونډۍ خاورو ته وسپارلی شو. اروا یې ښاده او یاد یې تل.

مرسته/کتابیات: ۱. لهٔ پیر روښانه تر باچا خانه لیکوال: علي خان مسید

۲. وزیرستان لیکوال: لایق شاه درپه خیل

۳. پُښتانهٔ د تاریخ پهٔ رڼا کې بهادر شاه ظفر

4. One Man against the Empire by Milan Hauner

5. The Frontier Force

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**